

# پنځوس وجې

## مالک عیسیٰ مسیح ولې په سولۍ کړے شو؟

ولې ؟ ولې ؟ ولې؟

مالک عیسیٰ مسیح ولې په سولۍ کړے شو؟

هغۀ دومره درد اؤ مصیبت ولې برداشت کړو؟

د دې صلیبی مرګ زما د پاره څۀ مطلب ( معنی ) دے؟

کوم څیزونه د هغۀ د صلیبی مرګ سبب جوړ شول؟

خدائ پاک زمونږ د پاره څۀ حاصل کړل کله چې هغۀ خپل زوئ زمونږ ګناه ګارانو د پاره مرګ له را واستولو؟

په دې ښکلی کتاب کښې لیکونکی د داسې قسمه سوالونو د تسلۍ اؤ ایمان نه ډک جوابونه ورکړی دی.

پنځوس وجې

مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو

## د مالک عیسیٰ مسیح په خدمت کښې

هغۀ درد اؤ کړاؤ برداشت کړل. اؤ هیڅچا به په هغۀ باندې نظر نۀ کولو، مونږ هغه داسې رد کړو چې ګنې د هغۀ هیڅ حیثیت نۀ وی. خو زمونږ د ګناه په وجه هغه زخمی شو، مونږ چې کوم بد عمل کړې وو د هغې په وجه هغه ووهلے شو. هغۀ له چې کومه سزا ورکړې شوه نو د هغې په وجه مونږ ته شفا ملاؤ شوه، هغۀ چې کوم وهل وخوړل نو د هغې په وجه مونږ ټیک شوو. مونږ د ورکو ګډو په شان وو، مونږ هر یو کس په خپله مخه باندې روان وو. خو مالک خدائ هغه سزا په هغۀ باندې تېره کړه، دا هغه سزا وه چې مونږ ټول د هغې حقدار وو. د هغۀ سره ډېر بد سلوک وکړے شو، خو هغۀ دا سلوک په عاجزۍ سره برداشت کړو هغۀ په خله باندې هیڅ هم نۀ وئیل. لکه چې یو ګډورے د حلالولو د پاره څملولې شوې وی، لکه چې یوه ګډه د وړۍ کلولو د پاره څملولې شوې وی، دغه شان هغۀ د خلې نه یوه خبره هم نۀ ویستله. هغه ونیولې شو، سزا ورته واورولې شوه اؤ هغه د مرګ د پاره روان کړې شو، اؤ هیڅچا د هغۀ د قیمت پرواه ونۀ کړه. د خلقو د ګناه په وجه هغه ووژلې شو. هغه د بدعملو خلقو سره په قبر کښې کېښودلے شو، اؤ هغه د مالداره خلقو سره ښخ کړے شو، اګر چې هغۀ هیڅ کله هم څۀ جرم نۀ وو کړے اؤ نۀ یې کله دروغ وئیلی وو. مالک خدائ وائی، دا زما رضا وه چې هغۀ ته تکلیف ملاؤ شی د هغۀ مرګ د معافۍ د پاره یوه قربانی وه. اؤ هغه به خپل اولاد وګوری هغه به یو اوږد عمر تېر کړی، اؤ د هغۀ په ذریعه به زما مقصد پوره شی.

پیژندګلو

## مالک عیسیٰ مسیح اؤ د قید مصیبتونه

فهرست

عنوان صفحه


د مالک خدائ (غضب) غصه یخولو د پاره ........................................ ۱

د خپل آسمانی پلار خوشحالولو د پاره ........................................ ۴

د فرمانبرداریٔ زده کولو د پاره اؤ د کامل جوړیدلو د پاره ........................ ۷

د مړو نه د ژوندی کیدو هغه مقام ته د رسیدلو د پاره ........................ ۹

د ګناه ګارو د پاره د مالک خدائ مینه، اؤ د فضل اهمیت ثرګندولو د پاره
........................................................................ ۱۱

مونږ ته د خپلې مینې ثرګندولو د پاره ........................................ ۱۴

د حکمونو هغه لیکلو (ریکارډ) ختمولو د پاره کوم چې زمونږ خلاف دی۱۷

د ډیرو خلقو په بدله کښې د قربانیٔ ورکولو د پاره ........................ ۲۰

زمونږ د ګناهونو د معافئ د پاره ........................................ ۲۳

زمونږ د صادق کیدو د بنیاد اینښودلو د پاره ................................ ۲۶

د هغه فرمانبردارئ سر ته رسولو د پاره کومه چې زمونږ د صداقت سبب ګرځی. ........................................................................ ۲۹

زمونږ د سزا ختمولو د پاره .................................................. ۳۲

سنت اؤ هغه ټولو رسم رواجونه کوم چې به د خلاصون بنیاد ګڼلے کیدل د هغې ختمولو د پاره .............................................................. ۳۵

په مونږ کښې د ایمان پیدا کولو د پاره اؤ د وفاداره کیدو د توفیق راکولو د پاره ........................................................................ ۳۸

زمونږ د پاکولو، د بې الزامه کولو اؤ د کامل کولو د پاره ..................... ۴۱

مونږ له د پاک زړۀ راکولو د پاره ............................................ ۴۴

ټول ښۀ څیزونه کوم چې زمونږ دَ پاره ښۀ دی د هغې حاصلولو د پاره .... ۴۷

مونږ له د اخلاقی اؤ د جسمانی بیمارو نه د شفا ورکولو د پاره ........... ۵۰

څوک چې په هغۀ باندې ایمان لري هغوئ له د ابدی ژوند ور کولو د پاره ۵۳

مونږ له د دې موجوده بدې زمانې نه د خلاصون ورکولو د پاره.......... ۵۶

د مالک خدائ پاک سره زمونږ د صلح اؤ د بیا ملاویدو د پاره.......... ۵۹

د دې د پاره چې مونږ خدائ پاک ته ورسوی.......... ۶۲

زمونږ د خپلولو د پاره.......... ۶۵

مونږ له حوصله راکولو د پاره چې په بهادرئ سره د مالک خدائ په پاک ترین مقام کښې داخل شو.......... ۶۸

هغه مقام جوړولو د پاره کوم ځائ کښې چې مونږ د مالک خدائ سره ملاقات کوو .......... ۷۱

د زړې لوظ نامې د امامت ختمولو د پاره اؤ د ابدی سردار کاهن جوړیدو د پاره .......... ۷۴

په غم درد کښې د شریکیدو اؤ مرستیال کاهن جوړیدو د پاره .......... ۷۷

د پلار نیکونو د بدو لارو نه د خلاصون ورکولو د پاره.......... ۸۰

مونږ له د ګناهونو د غلامۍ نه د خلاصون د پاره ............... ۸۳

د پاره د دې چې مونږ د ګناه د پاره مړۀ شو اؤ د صداقت د پاره ژوندی شو ۸۶

د پاره د دې چې مونږ د شریعت د پاره مړۀ شو اؤ د مالک خدائ د پاره میوه پیدا کړو ............................................. ۸۹

د دې لائق جوړولو د پاره چې مونږ خپل ژوند د مالک عیسیٰ مسیح د پاره تیر کړو نۀ چې د خپل ځان د پاره ................................ ۹۲

خپل صلیب زمونږ د فخر بنیاد جوړولو د پاره .................... ۹۵

زمونږه د دې قابل جوړولو د پاره چې په هغۀ باندې د ایمان نه ډک ژوند تیر کړو ............................................... ۹۸

د ښځې خاوند رشتې له اصل مقصد اؤ مفهوم ورکولو د پاره.......... ۱۰۱

مونږ په نیک کارونو کښې یو محنتی اُمت جوړولو د پاره ........... ۱۰۴

د پاره د دې چې مونږ د مالک عیسیٰ مسیح په نرم مزاج اؤ د مینې په نمونه باندې روان شو ............................................. ۱۰۷

د سولۍ اوچتوونکو خلقو جماعت جوړولو د پاره .......................... ۱۱۰

مونږ له د مرګ د ویرې نه د خلاصون د پاره ............................ ۱۱۳

زمونږ د مرګ نه پس سمدستی مونږ د خپل ځان سره په رفاقت کښې شاملولو د پاره ................................................................ ۱۱۶

د مړو نه زمونږ د دوباره ژوندون یقینی جوړولو د پاره ............... ۱۱۹

حکومتونه اؤ د اختیار خلق بې وسلې کولو د پاره ...................... ۱۲۲

د پاره د دې چې د انجیل په وسیله د خدائ پاک قدرت ډیر په ښۀ انداز سره کار وکړی ................................................................ ۱۲۵

د قومونو په مینځ کښې د جنګونو ختمولو د پاره........................ ۱۲۸

هره یوه قبیله، هره یوه ژبه، اُمت اؤ د قوم خلق په بیعه اخستلو د پاره. ۱۳۱

د ټولې دنیا نه د خپلو ګډو راغونډولو د پاره .......................... ۱۳۴

مونږ د آخری عدالت نه د بچ کولو د پاره............................... ۱۳۷

خپله اؤ زمونږ خوشحالی حاصلولو د پاره........................ ۱۴۰

د جلال اؤ د عزت تاج حاصلولو د پاره ................................ ۱۴۳

د دې خبرې څرګندولو د پاره چې خدائ پاک د انسان د بدو کارونه نه بنۀ پیدا کولے شی........................................................................ ۱۴۶

دعا ............................................................................... ۱۴۹

# مالک عيسیٰ مسيحاؤ د قيد مصيبتونه

د يويشتمې صدئ د ټولو نه اهم سوال دا دے: مالک عيسیٰ مسيح دې دنيا ته ولې راغلو اؤ مړ شو؟ د دې سوال د اهميت د پيژندګلو د پاره لازم دی چې مونږ د انسانی وجوهاتو نه وړاندې وګورو. د دې سوال چې " مالک عيسیٰ مسيح چا مړ کړو؟" آخری جواب دا دے : خدائ پاک. دا خو داسې جواب دے چې په مونږ يې سر وګرزولو. مالک عيسیٰ مسيح د خدائ پاک زوئ وو! خو د کلام مقدس ټول پيغام هم دې نتيجې ته رسی.

## د مالک خدائ مقصد دا وو چې د دې نه ښۀ والے پيدا کړی

يو عبرانی نبی حضرت يشعياه د مالک عيسیٰ مسيح نه په سوونو کالو مخکښې دا ووئيل، " مالک خدائ وائی، دا زما رضا وه چې هغۀ ته تکليف ملاؤ شی د هغۀ مرګ د معافئ د پاره يوه قربانی وه. اؤ هغه به خپل اولاد وګوری هغه به يو اوږد عمر تېر کړی، اؤ د هغۀ په ذريعه به زما مقصد پوره شی" ( يشعياه **۵۳**: ۱۰ ). نوې لوظ نامه مونږ ته ښودنه کوی" هغۀ خو خپل زوئ هم پرې نۀ ښودو اؤ زمونږ ټولو دَ پاره ئې قربان کړو" ( روميان ۸: **۳۲** ) " دَ هغۀ ( مالک عيسیٰ مسيح ) دَ قربانئ په کفاره اؤ په هغۀ دَ ايمان په وسيله ګناهونه ووينځی اؤ چې خپل صداقت ښکاره کړی. . . . "( روميان **۳**: **۲۵** )

د حد نه زيات په ګناهونو باندې لړلی انسان څنګه د مالک خدائ پاک سره سمون خوړلے شو. چا چې مالک عيسیٰ مسيح مړ کړے وو؟ د دې جواب په اولنئ دعا کښې مونږ ته ملاويږی" هيروديس اؤ پونطوس پيلاطوس دَ غيرو قومونو اؤ اِسرائيليانو سره په دې ښار کښې ستا دَ پاک خادم عيسیٰ چې تا مسح کړے دے په خلاف يو ځائې شول، چې هغه هر څۀ وکړی کوم چې ستا دَ لاس لاندې اؤ ستا په حکم دَ مخکښې نه مقرر شوی

وو. (اعمال ۴: ۲۷، ۲۸). د مالک عیسیٰ مسیح د سولئ مرګ زمونږ د خلاصون په خاطر د مالک خدائ منصوبه وه، کومه چې هغهٔ د خرابو خلقو په وسیله سر ته ورسوله. هغوئ خو د بدئ کولو اراده کړې وه، خو مالک خدائ پاک هغه خپله مرضی اؤ مقصد وګرزول. (پیدایښت ۵۰: ۲۰)

ځکه چې د خدائ پاک مقصد په دې کښې ښهٔ والے پیدا کول وو. نو د دې د پاره مونږ له پکار دی چې مونږ د انسانی وجوهاتو په ځائ د مالک خدائ مقصد ته وګورو. د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ بنیادی مرکز وجه نهٔ وه بلکه یو مقصد وو. مالک عیسیٰ مسیح د لارې نه لرې کولو د پاره د هغه وخت خلقو سره کیدے شی چې خپلې ځهٔ وجې وې. خو صرف مالک خدائ هغه هستی ده کوم چې د انسان خرابو منصوبو نه د دنیا د پاره ښهٔ والے پیدا کولے شی. په حقیقت کښې د مالک عیسیٰ مسیح په مرګ کښې د خدائ پاک بې شمیره مقصدونه دی. زهٔ د هغه مقصدونه نه صرف د پنځوسو مقصدونو د بیانولو کوشش کوم. خو د دې پنځوسو مقصدونو نه علاوه نور مقصدونه هم بیانیدے شی. زما اراده دا ده چې کلام پاک خبرو کولو ته پریږدم ځکه چې مونږ هم داسې د مالک خدائ آواز ته غوږ اینښودلے شو. امید لرم چې دا خبرې به د خدائ پاک د زوئ د مرګ اؤ د مالک خدائ د لوئې منصوبې په باره کښې د پوهیدو د پاره ستاسو زیاته مرسته وکړی.

## د مالک عیسیٰ مسیح مرګ بلکل بې مثاله وو

د مالک عیسیٰ مسیح مرګ دومره زیات طاقتور اؤ اثر ناک ولې وو؟ هغه مجرم وګڼلے شو، هغهٔ باندې دا الزام ولګولے شو چې هغه د رومی تاج اؤ د تخت دعوه دار دے. خو دَ راتلونکو درې سوو کالو په مینځ کښې د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ غم زغملو نه پس اؤ د هغهٔ سره دَ مینې لرلو هغه قوت داسې څرګند کړے شو چې د رومی بادشاهت نقشه ئې بدله کړه. اؤ تر نن ورځې پورې دنیا ته نوے شکل ورکوی. جواب ئې دا دے چې د مالک عیسیٰ مسیح مرګ بلکل بې مثاله وو. پس د مرګ نه درې ورځې پس هغه د مړو

نه بیا ژوندے کړے شو. اؤ د خپل دې کار نه خدائ پاک مونږ ته دا خبره ثابتوله چې د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ نه مونږ ته څۀ څۀ ملاؤ شوی دی.

د مالک عیسیٰ مسیح مرګ بې مثاله وو ځکه چې هغه نۀ صرف یو انسان وو بلکه د انسان نه ډیر زیات لوئ وو. د نقایه د زړې عقیدې په مطابق هغه "د خدائ پاک نه خدائ " وو. دا د هغه کسانو شهادت دے چا ته چې د هغۀ حقیقت ښرګند شوے وو اؤ هغوئ د هغۀ نه دومره زیات متاثره شول چې هغوئ دې ته مجبوره شول چې د هغۀ بیان په داسې قسمه لفظونو سره وکړی. یوحنا رسول مالک عیسیٰ مسیح د خدائ پاک د "کلام" په طور بیان کړو اؤ وې لیکل چې " په ازل کښې کلام وو اؤ کلام دَ خدائ څخه وو اؤ کلام خدائ وو، . . . دغه په ازل کښې دَ خدائ څخه وو. . . نو کلام جسه شو اؤ هغه زمونږ سره اوسیدو. . . " ( یوحنا ۱ : ۱، ۲، ۱۴ ). نور دا چې هغه د درد اؤ غم زغملو د پاره بالکل بې ګناه وو. په هغۀ باندې د کفر وئیلو الزام هم ولګولے شو. هغه نۀ صرف دَ کفر وئیلو په دې الزام کښې بې قصوره وو، بلکه هغه د ټولو ګناهونو نه پاک وو. د هغۀ یو شاګرد کوم چې د هغۀ زړۀ ته ډیر نزدې وو دا ووئیل (( نۀ هغۀ څۀ ګناه وکړه، اؤ نۀ دَ هغۀ دَ خلې نه دَ څۀ فریب خبره ووتله.)) ( اول پطروس ۲ : ۲۲ ). حقیقت خو دا دے چې هغۀ په ډیره رضا مندئ اؤ شوق سره په پوره اختیار باندې مرګ ته تر غاړې وتلو. د مالک عیسیٰ مسیح حیرانوونکو خبرو کښې یوه خبره د هغۀ د مرګ اؤ د قیامت په باره کښې ده : " . . . . زۀ خپل ځان قربانوم دَ دې دَ پاره چې بیا یې وموم. دا زما نه څوک په زور نۀ آخلی، زۀ دا په خپله مرضئ قربانوم. دا زما اِختیار دے چې ځان قربان کړم اؤ دا مې هم اِختیار دے چې بیا ئې هم ووم. دا اِختیار ما ته خپل پلار راکړے دے" ( یوحنا ۱۰ : ۱۷، ۱۸ ). مالک عیسیٰ مسیح مرګ په خپله غوره کړے وو. دا د هغۀ د آسمانی پلار منصوبه وه اؤ هغۀ مالک خدائ ته ووئیل زۀ حاظر یم.

## د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ مقصد د قیامت ثابتول وو

مالک خدائ حضرت عیسیٰ مسیح د مړو نه د دې د پاره ژوندے کړو چې هغه ټولو ته ښرګنده کړی چې هغه په حقه وو اؤ دا خبره ثابته کړی چې هغه په ټولو وعدو کښې

ښتينے د ے. هغه درې ورځې پس د قبر نه پاڅيدو. د اتوار په ورځ سحر وختې هغه د قبر نه ژوند ے راوتلو. اؤ د دوباره ژوندى کيدو نه پس اؤ د آسمان ته د تلو نه وړاندې تر څلويښتو ورځو پورې خپلو مريدانو سره ملاويدو (اعمال ۱: ۳).

د مالک عيسىٰ مسيح مريدانو د هغۀ د بيا ژوندى کيدو په باره کښې سمدستى يقين ونۀ کړو. هغوئ ډير ساده نۀ وو. هغوئ حقيقت خوښوونکى خلق وو. هغوئ ته معلومه وه چې مړى نۀ ژوندى کيږى. په يوه موقعه باندې هغوئ مالک عيسىٰ مسيح ته د مهيانو خوړلو په باره کښې ووئيل د پاره د دې چې دا خبره ثابته کړى چې هغه په حقيقت کښې بت خو نۀ د ے (لوقا ۲۴: ۳۹- ۴۳). دا د يو مړى ژوندى پاڅيدل نۀ وو دا د هغه بشر غير فانى نوى ژوندون کښې د مړو نه بيا ژوندى کيدل وو کوم چې الٰهى ذات هم وو. اولنى جماعت به دا وعظ کولو چې هغه د زمکې اؤ د آسمان خدائ د ے. اؤ مالک عيسىٰ مسيح هغه کار سرته ورسولو کوم چې مالک خدائ هغۀ له ورکړ ے وو، اؤ د هغۀ قيامت دا ثبوت وو چې خدائ اوس مطمئن د ے. د مالک عيسىٰ مسيح مرګ چې د ټولې دنيا د پاره څۀ وکړل دا کتاب د هغې په باره کښې د ے.

## د مالک عيسىٰ مسيح مرګ اؤ د مالک خدائ مقصد

دا يوه درد ورکوونکې واقعه ده چې د مالک عيسىٰ مسيح د مرګ واقعه د يهوديانو سره د دشمنئ لرلو اؤ د اسلام خلاف د صليبى جنګونو سبب وګرځيده. په دې خبره زمونږ سرونه د شرم په وجه ټيټ شى ځکه چې زمونږ د مشرانو يعنى د پلار نيکۀ زړونه د مالک عيسىٰ مسيح د روح نه خالى وو. بې شکه چې د دې وبا نښې زمونږ په روحونو باندې هم موجودې دى. خو حقيقى مسيحيت دَ مذهب په لړ کښې د ظلم اؤ د ربړولو بلکل خلاف د ے اؤ د هر قسم ظلم مخالفت کوى. مالک عيسىٰ مسيح وفرمائيل " زما بادشاهى دَ دې دنيا نۀ ده. کۀ چرې زما بادشاهى دَ دې دنيا وے، نو زما خادمانو به دَ يهوديانو نه زما دَ بچ کولو دَ پاره دَ هغوئ سره جنګ کړے وو. زما بادشاهى دَ دې دنيا نۀ ده" (يوحنا ۱۸: ۳۶). د سولې لاره د غم اوچتولو لاره ده. مسيحيان د دې د پاره راغوښتلے شوى دى چې خپل ځانونه د بل د پاره قربان کړى، نۀ چې د نورو خلقو ژوندونونه واخلى ، د پاره د دې چې هغوئ خلقو دا وښائى چې مالک عيسىٰ مسيح د خلقو سره څومره زياته مينه کوى. ښتينى مسيحيان

مینه د ټولو خلقو په وړاندې خلقو ته داسې پیش کوی چې مالک عیسیٰ مسیح خدائ ته دَ رسیدو واحد لار ده. اؤ دا هغه کار دے کوم چې د نرمئ سره اؤ بهادرئ سره سرته رسول دی کۀ د دې د پاره هغوئ هر څنګه قربانی ورکړی. مالک عیسیٰ مسیح وئیلی دی" زۀ لار یم، زۀ حق یم اؤ زۀ ژوندون یم. هیڅوک هم زما دَ وسیلې نه بغیر پلار ته نۀ شی راتلے" ( یوحنا ۱۴: ۶ ). خو دا خبره بلکل په واضحه طور څرګندول پکار دی چې د چا سپکاوے کول یا ورپورې خاندل یا ترې نه نفرت کول یا ورته څۀ نقصان رسول یا د یهودیانو قتل کول یا صلیبی جنګونه وغیره وغیره د عیسایت مذهب نۀ دے. دا ټول خراب حرکتونه د مالک عیسیٰ مسیح ښکاره نافرمانی وه اؤ اوس هم ده. هغۀ په سولئ باندې خپلو دښمنانو د پاره دعا وکړه، " پلاره! دوئ معاف کړه! ځکه چې هغوئ نۀ پوهیږی چې څۀ کوی " ( لوقا ۲۳: ۳۴ ).

د مالک عیسیٰ مسیح مرګ په تاریخ کښې یوه ډیره مهمه واقعه ده اؤ په یویشتمه صدئ کښې د ټولو نه لویه دهماکه خیزه سیاسی اؤ شخصی مسئله ده. د مالک عیسیٰ مسیح د سولئ نه انکار کول هم داسې دی لکه څنګه چې د سونامی د طوفان نه انکار کول دی. د چا د پاره خو دا قبولول د ویرې خبره ده. د نورو خلقو په نزد مذهبی همدردی په زوراً حاصلولو د پاره دا په مکمل طور یو سازش اؤ منصوبه ده. خو څوک چې د دې نه انکار کوی نو هغوئ په تاریخی دنیاوی خوبونو کښې ژوند تیروی. مالک عیسیٰ مسیح بې شمیره غمونه اؤ تکلیفونه وزغمل اؤ په سولئ شو.

خو هغوئ څوک چې صرف په نوم عیسایان دی اؤ د عیسائیت په نوم جنګونه کوی، نو هغوئ د مالک عیسیٰ مسیح د مینې نه نا خبره دی کومې مینې چې مالک عیسیٰ مسیح ګولګته نومې ځائ ته بوتلو. هغوئ هغه عیسیٰ مسیح نۀ پیژندلو چا چې دَ یو تهذیب بچ کولو په خاطر د انسانانو د وینی بهیولو په ځائ د پوره دنیا د خلاصون د پاره خپل ځان قربان کړو. خو څۀ داسې عیسایان هم شته دے . . . . ربشتینی عیسایان . . . چا چې د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ مقصد اؤ مطلب پیژندلے دے اؤ د هغۀ تکلیفونو د هغوئ زړونه مات کړل اؤ هغوئ ئې نرم مزاجه اؤ حلیمان جوړ کړل.

دا څومره عجیبه خبره ده چې عیسایان د یهودیانو اؤ د مسلمانانو دښمنان پاتې شوی دی. مالک عیسیٰ مسیح اؤ د هغهٔ اولنی مریدان هم یهودیان وو. د عیسیٰ مسیح په سولئ باندې خیژولو کښې د فلسطین د اوسیدونکو خلقو هم لاس وو ( نهٔ صرف یهودیان )، اؤ په سولئ باندې دَ نهٔ خیژولو کوشش هم ډیرو کسانو کړے وو ( په هغې کښې هم یهودیان شامل وو ). خپل یک یو زوئ قربانولو کښې د ټولو نه لوئ کردار خدائ پاک په خپله ادا کړے وو. حالانکه د ټولو نه مهم سوال دا نهٔ دے چې "کومو خلقو عیسیٰ مسیح په سولئ کړو؟" بلکه دا دے چې "د عیسیٰ مسیح مرګ د دنیا هر یو کس د پاره کوم پیغام اؤ میوه لری؟"

د هر څهٔ وئیلو نه پس د ټولو نه ضروری سوال دا دے چې : ولې ؟ ولې عیسیٰ مسیح د قربانیدو د پاره دې دنیا ته راغلو؟ د دې " ولې " نه پس مونږ له د دې "سبب" لټون نهٔ دے کول پکار، بلکه "مقصد" معلومول دی. مالک عیسیٰ مسیح د مرګ په نتیجه کښې څهٔ حاصل کړل؟ هغهٔ ولې دومره زیات تکلیف برداشت کړو؟ په ګولګته کښې د ټولې دنیا د پاره کومه لویه واقعه وشوه؟

دا کتاب هم د دې سوالونو د جوابونو د پاره لیکلے شوے دے. ما د نوې لوظ نامې نه **۵۰** وجې غوره کړی دی د څهٔ د پاره چې مالک عیسیٰ مسیح د مرګ د پاره دې دنیا ته راغلو. پنځوس وجې نه بلکه پنځوس مقصدونه " چا عیسیٰ مسیح قتل کړو؟ " د دې سوال نه ډیر اهم سوال دا دے چې : خپل یک یو زوئ د قربانولو د پاره رالیږلو نه خدائ پاک زمونږ ګناه ګارو د پاره څهٔ حاصل کړل ؟

## پنځوس وجې

### مالک عيسیٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولۍ کيدو د پاره راغلو: ١

### د مالک خدائ (غضب) غصه يخولو د پاره

*" مسيح مونږ په بيعه واخستو اؤ دَ شريعت دَ لعنت نه يې راخلاص کړلو ځکه چې هغه زمونږ دَ پاره لعنتی شو، ځکه چې په صحيفه کښې ليکلی دی چې ((څوک چې په لرګی ځوړند کړے شو هغه لعنتی دے.))" (ګلتيان ٣ : ١٣).*

*" ځکه چې خدائ مسيح د دې دَ پاره مقرر کړے وو چې دَ هغۀ دَ قربانۍ په کفاره اؤ په هغۀ دَ ايمان په وسيله ګناهونه ووينځی اؤ چې خپل صداقت ښکاره کړی. ځکه چې خدائ صابر دے نو په تيرو شوو ګناهونو يې څۀ غرض ونۀ لرو"
(روميان ٣ : ٢٥).*

*" مينه په دې کښې نۀ ده چې مونږ له خدائ سره مينه وکړله بلکه په دې کښې ده چې هغۀ مونږ سره مينه وکړله، اؤ زمونږ دَ ګناهونو دَ کفارې دَ پاره يې خپل زوئ راوليږلو" (١ - يوحنا ٤ : ١٠).*

کۀ چرې خدائ پاک انصاف کوونکے اؤ انصاف خوښوونکے نۀ وے نو بيا به د دې خبرې ضرورت هم نۀ وو راپيښ شوے چې د هغۀ زوئ دومره مصيبتونه وزغمی اؤ قربانی ورکړی. کۀ چرې مالک خدائ پاک مينه نۀ وے نو هغه به په دې خبره باندې هيڅ کله هم

راضئ شوے نهٔ وو چې د هغهٔ زوئ مصيبت وزغمی اؤ خپل ځان مرګ ته حواله کړی. خو مالک خدائ مينه دے اؤ هم انصاف کوونکے دے. نو په دې وجه د هغهٔ مينه د هغهٔ د انصاف د غوښتنې پوره کولو د پاره رضامنده ده.

د مالک خدائ د شريعت غوښتنه دا وه چې " دَ مالک خدائ سره دَ زړهٔ په راستئ، په پوره روح اؤ په پوره عقل سره مينه لرئ" ( استثنا ۶ : ۵ ) . خو مونږ د خدائ پاک په ځائ د نورو څيزونو سره زياته مينه لرو. اؤ هم دا ګناه ده يعنی د خدائ پاک د ذات په نسبت مونږ نورو څيزونو ته اهميت ورکوو اؤ هم د دې اهميتونو په مطابق مونږ خپل ژوند تيرولو سره د خدائ پاک سپکاوے کوو. نو هم په دې وجه کلام پاک مونږ ته ښودنه کوی چې " ځکه چې ټولو ګناه کړې ده اؤ دَ خدائ پاک دَ لويئ نه محروم دی" ( روميان ۳ : ۲۳ ). مونږ د هغه څيزونو ډير زيات قدر کوو کومو نه چې مونږ د هر څهٔ نه زيات خوند اخلو. اؤ دغه څيزونه د خدائ پاک ذات نهٔ دے.

حالانکه ګناه وړه يا معمولی نهٔ وی، ځکه چې دا د يوې وړې هستئ خلاف نهٔ وی. کهٔ يو سړے څومره لوئ يا د قدر اؤ عزت والا وی نو د هغه سړی ذهن اؤ حکمت هم د هغهٔ هومره غټ وی. د دې دنيا جوړونکے بې انتها د عزت ، تعريف اؤ د تابعدارئ حق دار دے. نو هم په دې وجه د هغهٔ سره په مينه کولو ناکامه پاتې کيدل يوه معمولی شان خبره نهٔ ده، بلکه دا د خدائ پاک خلاف بغاوت دے.

خدائ پاک انصاف کوونکے دے، نو په دې وجه مالک خدائ پاک دا ګناهونه اؤ خطا ګانې نظر اندازه کولے نهٔ شی، بلکه د دې خبرې په خلاف هغه د خپل غضب څرګندونه کوی. اؤ د دې ګناه قصور وار خلق د سزا حق دار دی اؤ مالک خدائ په کلام پاک کښې په واضح طور باندې مونږ ته دا وئيلی دی چې " ځکه چې دَ ګناه بدل مرګ دے " ( روميان ۶ : ۲۳ ). ". . . . کوم يو کس چې ګناه کوی هم هغه به مری" ( حزقی ايل ۱۸ : ۴ ).

په هره يوه ګناه باندې مالک خدائ لعنت وائی. ګناه له سزا نهٔ ورکول بې انصافی ده. د خدائ پاک د سپکاوی دا عمل به مخ په وړاندې ترقی کوی. اؤ دې سره به دروغ په رښتياؤ

باندې غالب راشی. نو هم د دې هر څۀ په وجه مالک خدائ فرمائی " . . . هر هغه څوک چې دَ شریعت په کتاب کښې لیکلې شوو په ټولو خبرو عمل نۀ کوی هغه لعنتی دے" (ګلتیان ۳ : ۱۰ اؤ استثنا ۲۷: ۲۶).

خو په ګناه ګار انسانیت باندې د خدائ پاک مینه دا لعنت نۀ شی لیدلے. خدائ پاک خپل غضب څرګندولو سره مطمئن نۀ شو د دې هر څۀ په باوجود هغۀ خپل زوئ راواستولو د پاره د دې چې هغه د خدائ پاک غصه یخه کړی اؤ څوک چې په هغۀ باندې ایمان راوړی نو هغۀ په خپل ځان باندې د هغوئ ګناهونه اوچت کړل. " مسیح مونږ په بیعه واخستو اؤ دَ شریعت دَ لعنت نه یې راخلاص کړلو ځکه چې هغه زمونږ دَ پاره لعنتی شو . . . " (ګلتیان ۳: ۱۳).

د رومیانو په دریم باب ۲۵ آیت کښې چې کوم "کفاره" ټکے لیکلے شوے دے د هغې هم دا مطلب دے. "کفاره" دې خبرې ته اشاره کوی چې زمونږ په بدله کښې د بل کس بندوبست وکړے شو چا چې د خدائ پاک غصه یخه کړه. دا کفاره خدائ پاک مونږ له په خپله راکړه. د مالک عیسیٰ مسیح کفاره نۀ صرف د خدائ پاک غصه یخوی بلکه هغه ختموی اؤ هغه دا زمونږ نه لرې کوی اؤ په خپل ځان باندې یې کیږدی. د خدائ پاک غصه په ناجائزه باندې نۀ ده اؤ نۀ د دې مخ نیوے وشو، بلکه نازله کړے شوه. مونږ له د خدائ پاک اؤ د هغۀ د مینې سپکاوے اؤ بې قدری نۀ دی کول پکار، بلکه د دې د پاره مونږ له فکر منده کیدل پکار دی. تر کومې پورې چې مونږ د خپلو ګناهونو مخ نیوے ونۀ کړو اؤ په خپلو زړونو کښې د خدائ پاک د غضب احساس ونۀ کړو، تر هغه وخته پورې مونږ د خدائ پاک د مینې حاصلولو حیرانوونکو انعامونو باندې نۀ شو پوهیدے. خو کله چې مونږ ته د فضل په وسیله د خپل نالائقه کیدو احساس وشی نو هله مونږ د مالک عیسیٰ مسیح په تکلیف اؤ مرګ باندې خپل نظر اچولے شو اؤ دا وئیلے شو " مینه په دې کښې نۀ ده چې مونږ له خدائ سره مینه وکړله بلکه په دې کښې ده چې هغۀ مونږ سره مینه وکړله، اؤ زمونږ دَ ګناهونو دَ کِفارې دَ پاره یې خپل زوئ راولیږلو" (۱- یوحنا ۴: ۱۰).

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو ۲

# د خپل آسمانی پلار خوشحالولو د پاره

*"مالک خدائ وائی، دا زما رضا وه چې هغۀ ته تکلیف ملاؤ شی. هغۀ ( خدائ پاک ) هغه غمژن کړلو." ( یشعیاه ۵۳ : ۱۰ ).*

*" اؤ داسې مینه کوئ لکه چې مسیح تاسو سره وکړله اؤ زمونږ دَ پاره یې خپل ځان دَ خوشبوئ په شان خدائ ته نذرانه کړو اؤ قربان شو." (افسیان ۵ : ۲ ).*

مالک عیسیٰ مسیح د خپل غضب ناک پلار خوشحالولو د پاره خپل ځان په خوشحالئ اؤ رضامندئ سره هغۀ ته حواله کړلو. هغۀ خپل پلار مجبور نۀ کړو چې په بنی نوع انسان باندې رحم وکړی. نو بیا خدائ پاک هم د گناه گارانو د پاره د هغۀ مرگ صرف قبول نۀ کړو، نا ، بلکه د عیسیٰ مسیح تکلیفونه اؤ مرگ د خدائ پاک منصوبه وه. دا منصوبه خو خدائ پاک د کائناتو د جوړولو نه وړاندې اؤ هم د انسانانو د جوړولو نه وړاندې جوړه کړې وه. د دې په باره کښې په کلام پاک کښې لیکلے شوی دی. " چې مونږ ته یې خلاصون راکړو اؤ را وې بللو چې دَ هغۀ خلق شو. . . . بلکه په خپله خاص اِراده اؤ دَ هغه فضل په مطابق چې دَ مسیح عیسیٰ په وسیله په مونږ دَ ازل نه وشو" ( ۲ - تیموتیوس ۱ : ۹ ).

د یهودیانو په صحیفو کښې د اول نه د دې منصوبې څرگندونه شوی ده. یشعیاه نبی دا پیشن گوئی کړې وه چې مالک عیسیٰ مسیح به زمونږ گناهونه اوچتوی اؤ زمونږ کفاره به ورکوی. هغۀ مونږ ته ووئیل چې خدائ پاک به مسیح زمونږ د پاره "ووهی "

*"خو زمونږ د گناه په وجه هغه زخمی شو، مونږ چې کوم بد عمل کړے وو د هغې په وجه هغه ووهلے شو. هغۀ له چې کومه سزا ورکړے شوه نو د هغې په وجه مونږ ته شفا ملاؤ شوه، هغۀ چې کوم وهل وخوړل نو د*

*هغې په وجه مونږ ټيک شو. مونږ د ورکو شوو ګډو په شان وو، مونږ هر يو کس په خپله مخه باندې روان وو. خو مالک خدائ هغه سزا په هغهٔ باندې تيره کړه، دا هغه سزا وه چې مونږ ټول د هغې حقدار وو"*

*( يشعياه **۵۳ : ۴-۶** ).*

خو د مالک عيسىٰ مسيح په کفاره ورکولو کښې د ټولو نه لويه د حيرانتيا خبره دا وه چې دا د خدائ پاک خپله منصوبه وه. دَ ګناه ګارو کسانو دَ سزا زغملو دَ پاره چې دَ خدائ پاک کومه منصوبه وه، نو عيسىٰ مسيح په هغې کښې بې ځايه مداخلت ونهٔ کړو. د عيسىٰ مسيح تکليف زغمل د خدائ پاک په منصوبه کښې شامل وو د زړې لوظ نامې يو پيغمبر داسې ووئيل، "مالک خدائ وائى، دا زما رضا وه چې هغهٔ ته تکليف ملاؤ شى. هغهٔ ( خدائ پاک ) هغه غمژن کړلو. " ( يشعياه **۵۳** : ۱۰ ).

په نوې لوظ نامه کښې خو په واضحه طور باندې د دې خبرې مخالفت کيږى. يو طرف ته خو د عيسىٰ مسيح تکليف په ګناه باندې د خدائ پاک د غضب ښکارنه کوى، خو بل طرف ته د عيسىٰ مسيح تکليف د خدائ پاک د مرضئ پوره کولو د پاره اؤ هغهٔ پسې د تلو اؤ د هغهٔ د فرمانبردارئ کولو يو ښکلے عمل ظاهره وى. حالانکه مالک عيسىٰ مسيح په سولئ باندې چغې ويستلو سره دا ووئيل چې " ، (( ايلى! ايلى! لما شبقتنى! )) يعنې" اے زما خدايه! اے زما خدايه! زهٔ دې ولې پريښودلم؟ " ( متى **۲۷ : ۴۶** ). اؤ د دې په باوجود کلام پاک مونږ ته وائى چې عيسىٰ مسيح درد اؤ تکليف داسې وزغملو چې خپل ځان يې دَ خوشبوئ په شان خدائ ته نذرانه کړو اؤ قربان شو. " اؤ داسې مينه کوئ لکه چې مسيح تاسو سره وکړله اؤ زمونږ دَ پاره يې خپل ځان دَ خوشبوئ په شان خدائ ته نذرانه کړو اؤ قربان شو" ( افسيان **۵**: ۲ ).

مونږ له د خدائ پاک د دې حيرانوونکې عجيبه اؤ بې مثاله مينې د پاره د هغهٔ حمد و ثنا کول پکار دى. دا څهٔ جذباتى اؤ يو ساده شان خبره نهٔ ده. ځکه چې خدائ پاک زمونږ د پاره يو ناممکنه کار تر سره کړو: هغهٔ خپل غضب په خپل زوئ باندې راوليږلو . . . په هغه زوئ باندې کوم چې بې حده فرمانبردار وو. داسې بې مثاله فرمانبردارئ کولو والا زوئ د

داسې قسمه غضب بلکل حقدار نۀ وو. اؤ کله چې يې په خپله مرضئ دا غضب په خپل ځان واخستلو، نو هغه دَ خدائ پاک په نظر کښې ډير اوچت شو اؤ د لويې مرتبې خاوند شو. اؤ داسې کولو سره هغۀ ته ډيره زياته مينه ملاؤ شوه.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولیٔ کیدو د پاره راغلو: ۳

# د فرمانبرداریٔ زده کولو د پاره اؤ د کامل جوړیدلو د پاره

*" اؤ سره دَ زویٔ والی هغۀ تکلیفونو زغملو سره فرمانبرداری زده کړله"*
*( عبرانیان ۵: ۸ ).*

*" ځکه چې ټول څیزونه دَ خدایٔ دَ پاره دی اؤ چې دَ خدایٔ په وسیله ټول څیزونه دی نو هغۀ له هم دا مناسب وو چې هر کله چې ډیر زامن په جلال کښې داخل کړی نو دَ هغویٔ دَ خلاصون بانی، یعنې عیسیٰ، دَ تکلیفونو په وسیله کامل کړی"*
*( عبرانیان ۲ : ۱۰ ).*

د بائبل مقدس کوم کتاب چې دا وائی چې هغۀ تکلیفونو زغملو سره "فرمانبرداری زده کړله" اؤ هغه د تکلیفونو په ذریعه "کامل کړے شو" نو هغه کتاب مونږ ته دا ښودنه هم کوی چې هغه "بې ګناه" وو.
"هغه په ټولو خبرو کښې زمونږ په شان وآزمائیلے شو خو بیا هم بې ګناه پاتې شو" ( عبرانیان ۴: ۱۵ ).

کتاب مقدس پرله پسې مونږ له د دې خبرې تعلیم راکوی چې د عیسیٰ مسیح ذات د ګناه نه پاک وو. اګر چه هغه د خدایٔ پاک زویٔ وو اؤ هم په مکمله توګه باندې انسان هم وو. زمونږ په شان هغه بشر هم هر قسمه آزمیښتونو ، لوږې تندې، اؤ بدنی کمزوریانو سره مخامخ شو. هغه وږے شو ( متی ۲۱: ۱۸ ) هغه له غصه ورتله اؤ هغه هم غمژن شو ( مرقوس ۳: ۵ ) هغۀ تکلیف اؤ درد وزغملو ( متی ۱۷ : ۱۲ ). خو د دې هر څۀ په باوجود د هغۀ په زړۀ کښې د مالک خدایٔ د پاره کامله مینه وه، اؤ هغۀ خپل ټول ژوند د دې مینې

سره په زمکه باندې تیر کړو. "(( نۀ هغۀ څۀ ګناه وکړه، اؤ نۀ دَ هغۀ دَ خلې نه دَ څۀ فریب خبره ووتله.))" (اول پطروس ۲: ۲۲).

خو چې کله بائبل مقدس مونږ ته دا وائی چې مونږ دَ مالک عیسیٰ مسیح " تکلیفونو زغملو سره فرمانبرداری زده کړله " نو د دې خبرې دا مطلب دے چې هغۀ د هر یو نوی آزمیښت اؤ تکلیفونو په دوران کښې په عملی طور سره تابعداری کول زده کړل. اؤ کله چې کتاب مقدس مونږ ته دا وائی چې حضرت عیسیٰ مسیح "د تکلیفونو په ذریعه کامل کړے شو" نو د دې دا مطلب نۀ دے چې هغۀ له د عیبونو اؤ کمزورو نه درجه په درجه خلاصون ورکړے شو. بلکه د دې مطلب دا دے چې هغۀ ورو ورو هغه کامل صداقت پوره کولو کوم چې زمونږ د خلاصون د پاره هغۀ ته پکار وو.

اؤ هم دا خبره هغۀ د بپتسمې اخستلو په وخت باندې کړې وه. هغۀ ته د بپتسمې اخستلو حاجت د دې د پاره نۀ وو چې ګنې هغه ګناه ګار وو .بلکه یحیٰی بپتسمه ورکوونکی په واضحه طور باندې ووئیل چې " . . . مونږ له دغه شان دَ خدایٔ صداقت پوره کول مناسب دی. . . " (متی ۳: ۱۵).

اهم خبره دا ده چې : کۀ چرې د خدایٔ د زویٔ د صداقت اؤ د مینې د آزمائیلو د پاره د هغۀ ژوند د پیدایښت نه واخلې تر سولیٔ کیدو پورې د آزمیښتونو نه تیر شوې وو، نو بیا هغه د ګناه ګار انسان د پاره یو مناسب خلاصوونکے نۀ شو جوړیدے. د هغۀ تکلیفونو نۀ صرف د خدایٔ پاک غصه یخه کړه بلکه هغه په انسانی طور هم داسې جوړ شو چې د خدایٔ منصوبه یې پوره کړه. اؤ هغه د دې قابل جوړ شو چې مونږ ته خپل وروڼه اؤ خویندې ووائی (عبرانیان ۲: ۱۷).

## ۴ مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو

# د مړو نه د ژوندی کیدو هغه مقام ته د رسیدلو د پاره

*"مالِک عیسیٰ چې دَ گډو لوئ شپونکے د ے چې هغۀ دَ خپلې وینې په وسیله دَ تل وعده تړلې ده، هم هغه خدائ چې دَ سلامتۍ سرچینه د ے، له مړو نه بیا ژوند ے پورته کړو. اوس هم هغه خدائ تاسو په هره خبره کښې تیار کړئ چې دَ هغۀ مرضی پوره کړئ . . . ."*
*(عبرانیان ۱۳ : ۲۰ ، ۲۱ ).*

مالک عیسیٰ مسیح د مړو نه د ژوندی کیدو د پاره قیمت ادا کړو اؤ هغه قیمت د دۀ د سولۍ مرګ د ے. نو د دې د پاره د عبرانیانو په ۱۳ باب اؤ د هغې په شلم آیت کښې لیکلے شوی دی" مالِک عیسیٰ دَ خپلې وینې په وسیله دَ تل وعده تړلې ده، هم هغه خدائ چې دَ سلامتۍ سرچینه د ے، له مړو نه بیا ژوند ے پورته کړو ".

" د لوظ وینه" د مالک عیسیٰ مسیح وینه ده، څنګه چې هغۀ په خپله خله ووئیل " ځکه چې دا زما وینه ده چې دَ خدائ وعده قائموی اؤ دَ ډیرو خلقو دَ ګناهونو دَ معافۍ دَ پاره توئیږی . . . . " ( متی ۲۶ : ۲۸ ).

کله چې کلام پاک د مالک عیسیٰ مسیح د وینې په باره کښې خبره کوی نو دا د مالک عیسیٰ مسیح مرګ ته اشاره کوی. د مالک عیسیٰ مسیح صرف وینې تویولو سره د خلاصون کار سر ته نۀ شو رسیدلے. بلکه تر مرګه پورې وینه تویول دا کار ترسره کوی. د څۀ په باره کښې چې کلام مقدس مونږ ته وائی.

د مالک عیسیٰ مسیح وینه بهیدل اؤ د هغۀ دوباره د مړو نه ژوندی کیدل دواړه یو بل سره څۀ تعلق لری؟

کلام پاک مونږ وائی چې عیسیٰ مسیح دَ مړو نه راژوند ے کړے شو، ځکه چې هغۀ خپله وینه دَ یو کاملې قربانۍ په طور توئ کړه. د دې خبرې مطلب دا د ے چې د عیسیٰ

مسیح مرګ چې څۀ وکړل د هغې انجام دومره طاقت ور اؤ کامل وو چې په قیامت، اؤ په مرګ باندې د مسیح د فتح انعام اؤ ثبوت وو.

د مالک خدائ غصه د عیسیٰ مسیح د مرګ اؤ د تکلیفونو په وسیله یخه شوه. د ګناه خلاف چې کوم لعنت وو هغه په مکمله توګه باندې ختم کړے شو. د مالک عیسیٰ مسیح فرمانبرداری د کاملیدو تر آخری حده پوره ورسیده. د معافئ پوره پوره قیمت ادا کړے شو. د خدائ پاک د صداقت ټولې غوښتنې پوره شوې. اوس صرف یو کار پوره کیدل وو اؤ هغه کار دا وو چې خدائ پاک د ټولو بنی آدمو په وړاندې د دې خبرې اعلان وکړی چې هغۀ د ټولو وړاندینو خبرو تصدیق کړے دے. دا اعلان هغۀ د مالک عیسیٰ مسیح د ژوندی کیدو نه پس وکړو.

کله چې کتاب مقدس وائی " اؤ کۀ چرې مسیح نۀ وو راژوندے شوے نو ستاسو ایمان بې فائدے دے اؤ تاسو هم هغه شان په خپلو زړو ګناهونو کښې راګیر یئ" ( اول کورنتیان ۱۵ : ۱۷ ). دا اهم خبره نۀ ده چې ګنې مالک عیسیٰ مسیح د مړو نه ژوندے پاڅیدو بلکه دا هغه قیمت وو کوم چې زمونږ د ګناهونو د پاره ورکړے شو. اهم خبره خو دا ده چې دا د مالک عیسیٰ مسیح د قیامت ثبوت دے اؤ د مالک عیسیٰ مسیح مرګ کافی اؤ کامل قیمت دے. کۀ چرې مالک عیسیٰ مسیح د مړو نه بیا ژوندے شوے نۀ وے نو د هغۀ مرګ به ناکامه شوے وو اؤ د هغې نه به هیڅ هم نۀ وو حاصل شوی. اؤ خدائ چې کومه منصوبه د ګناه ګارو د پاره لرله هغه به نیمګړې پاتې شوې وه، اؤ مونږ به لا تر اوسه پورې د خپلو ګناهونو په دلدل کښې پراتۀ وو.

حقیقت خو دا دے چې " . . . . عیسیٰ دَ پلار په جلال کښې له مړو نه راپورته کړے شو . . . . " ( رومیان ۶ : ۴ ). خدائ پلار د هغۀ مرګ اؤ تکلیف کامل وګرځول. اؤ که مونږ په مالک عیسیٰ مسیح باندې بهروسه کوو نو بیا به مونږ په خپلو ګناهونو کښې راګیر نۀ یو. ځکه چې لوئ شپونکے، د ابدی لوظ د وینې په سبب ژوندے کړے شو، اؤ هغه اوس تر ابده پورې ژوندے دے.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو ۵

# د ګناه ګارو د پاره د مالک خدائ مینه، اؤ د فضل اهمیت ځرګندولو د پاره

*" دَ یو صادِق دَ پاره به په مشکله څوک مړ شی. کید ے شی چې دَ یو نېۀ سړی دَ پاره څوک ځان مرګ ته حواله کړی. خو خدائ خپله مینه مونږ ته داسې ښکاره کړه، کله چې مونږ لاګناه ګار وو نو مسیح زمونږ دَ پاره مړ شو!" (رومیان ۵: ۷، ۸).*

*" خدائ دَ دې دنیا سره داسې مینه وکړله چې خپل یک یو زوئ یې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په زوئ یې ایمان راؤړی هغه هلاک نۀ شی خو دَ تل عمری ژوندون بیا مومی"*
*(یوحنا ۳ : ۱۶ ).*

*" مونږ ته دَ مسیح دَ وینې په وسیله خلاصون، یعنې دَ ګناهونو معافی، دَ هغۀ دَ هغه فضل دَ دولت په مطابق حاصله ده"*
*(افسیان ۱ : ۷ ).*

کله چې مونږ د خپل خدائ پاک د مینې انتها باندې پوهیدل غواړو نو مونږ دوو خبرو نه اندازه لګولے شو.
اولنۍ خبره دا ده چې زمونږ د ګناهونو اوچتولو د پاره هغۀ قربانی ورکړه.
دویمه خبره دا ده چې کله مونږ لاګناه ګار وو نو هغۀ د خپل رحم په وسیله مونږ له خلاصون راکړو.

د خدائ پاک له طرفه مونږ له د راکړې شوې قربانۍ اندازه د دې خبرې نه لګیدلے شی. "______ خدائ دَ دې دنیا سره داسې مینه وکړله چې خپل یک یو زوئ یې هم ورکړو______" ( یوحنا ۳: ۱۲ ). لفظ " مسیح " هم د دې خبرې څرګندونه کوی. په یونانۍ ژبه کښې د مسیح د پاره لفظ خرستوس ( Christos ) راغلے دے. "مسح کړے شوے" یا " مسیحا " هم د مسیح د لفظ د پاره استعمالیږی. دا ټول نومونه د لویۍ قابل دی. مسیح له د اسرائیل بادشاه جوړیدل وو. هغۀ له په رومیانو فتح حاصلول وو د پاره د دې چې بنی اسرائیلو له امن اؤ سلامتی اؤ حفاظت ورکړی. نو د دې د پاره خدائ پاک د ګناه ګارو د خلاصون د پاره چې کوم یو کس را واستولو هغه د هغۀ خپل زوئ وو. د هغۀ یک یو زوئ اؤ د اسرائیل بادشاه. . . .بې شکه چې د دنیا بادشاه ( یشعیاه ۹: ۲ ، ۷ ).

کله چې مونږ د دې په باره کښې سوچ کوو نو بیا زمونږ په سوچونو کښې اضافه کیږی چې د هغۀ د سولۍ مرګ څومره زیات د لړزان وو اؤ د دې نه دا خبره څرګندیږی چې پلار اؤ زوئ چې کومه قربانی ورکړه هغه د بیان نه بهر ده بلکه د هغه قربانۍ هیڅ حد نشته، اؤ خاص طور باندې کله چې تاسو د خدائ پاک اؤ د انسان په مینځ کښې د لرې والی په حقله سوچ کوئ. خو خدائ پاک مونږ له د خلاصون راکولو د پاره د دې قربانۍ بندوبست وکړو.

کله چې مونږ د خپلې کمزورۍ اؤ د ناقابلیت په باره کښې سوچ کوو نو هله مونږ د خدائ پاک د مینې د احساس نه مزه اخستلے شو. " دَ یو صادِق دَ پاره به په مشکله څوک مړ شی. کیدے شی چې دَ یو ښۀ سړی دَ پاره څوک ځان مرګ ته حواله کړی. خو خدائ خپله مینه مونږ ته داسې ښکاره کړه، کله چې مونږ لاګناه ګار وو نو مسیح زمونږ دَ پاره مړ شو!" ( رومیان ۵ : ۷، ۸ ).

مونږ د خدائ پاک د سزا حقدار وو، نۀ چې د هغۀ د ورکړے شوې قربانۍ.

چا د دې قربانۍ په باره کښې داسې وئیلی دی چې "د خدائ پاک قربانی د یو ځناور نۀ وه. د هغۀ په نزد د انسان قدر اؤ قیمت دومره زیات دے چې هغه په خپله د خپل ځان قربانولو د پاره دې دنیا ته راغلو" . د دې نه دا څرګندیږی چې مونږ د ځناورو نه نور زیات خراب یو. هغوئ ګناه ونۀ کړه. اؤ نۀ یې د خدائ پاک خلاف بغاوت وکړو. د هغوئ ژوند د

نفرت اؤ د خرابو کارونو نه پاک د ے. خدائ پاک له د هغوئ د پاره دَ قربانئ کولو هيڅ ضرورت نۀ وو پيښ شو ے هغوئ خراب نۀ وو بلکه مونږ خراب يو. زمونږ قرض دومره زيات شو چې صرف د خدائ پاک قربانئ دا قيمت ادا کولے شو.

زمونږ د پاره د خدائ پاک د قربانئ صرف يو حل د ے. اؤ هغه حل مونږ نۀ يو. بلکه هغه " د هغۀ د فضل دولت" د ے (افسيان ۱ : ۷ ). دا فضل بلکل مفت د ے. دا زمونږ د يو ښۀ عمل په وجه اؤ يا د يو خوبئ په وجه نۀ د ے بلکه دا د خدائ پاک د لازوالې مينې ښکارنه ده. په حقيقت کښې د خدائ پاک مينه هم دا ده : د ډير قيمت ادا کولو سره هغه ګناه ګاران خپلول څوک چې د دې حقدار نۀ وو، اؤ دا هغه خواهش د ے چې مونږ له يو نۀ ختميدونکې سلامتی راکوی.

## مالک عيسىٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولۍ کيدو د پاره راغلو ۲

# مونږ ته د خپلې مينې ښرګندولو د پاره

*" اؤ داسې مينه کوئ لکه چې مسيح تاسو سره وکړله اؤ زمونږ دَ پاره يې خپل ځان دَ خوشبوئ په شان خدائ ته نذرانه کړو اؤ قربان شو"*
*(افسيان ۵ : ۲ )*

*"مسيح دَ جماعت سره مينه کړې ده اؤ خپل ځان يې دَ هغۀ دَ پاره مرګ ته سپارلے د ے." (افسيان ۵ : ۲۵ ).*

*" ( عيسىٰ مسيح ) چا چې زما سره مينه کړې ده اؤ خپل ځان يې زما دَ خاطره ورکړو". (ګلتيان ۲ : ۲۰ ).*

د مالک عيسىٰ مسيح مرګ نۀ صرف د خدائ پاک د مينې ښرګندونه ده ( يوحنا ۳ : ۱۲ )، بلکه دا دَ هغه ټولو خلقو دَ پاره د ے کوم چې دا د قيمتى خزانې په طور باندې قبلوى اؤ دا د مالک عيسىٰ مسيح د مينې د ټولو نه ښکلے عمل د ے. اولنو ګواهانو چا چې په مسيح دَ ايمان راؤړلو په وجه باندې ډير تکليفونه وزغمل اؤ هم د دې حقيقت غلامان شول چې ". . . . ( عيسىٰ مسيح ) چا چې زما سره مينه کړې ده اؤ خپل ځان يې زما دَ خاطره ورکړو". ( ګلتيان ۲ : ۲۰ ). هغوئ دا عقيده لرله چې مالک عيسىٰ مسيح د هغوئ د پاره قربان شولو. هغوئ به دا وئيل چې " عيسىٰ مسيح چا چې زما سره مينه کړې ده اؤ خپل ځان يې زما دَ خاطره ورکړو".

مونږ له هم داسې د مالک عيسىٰ مسيح په مرګ اؤ په تکليفونو باندې پوهيدل پکار دى. دا ټول هر څۀ ما سره تعلق لرى. مالک عيسىٰ مسيح ما سره مينه وکړه. دا زما ګناه ده چې ما د مالک خدائ پاک نه جدا کوى. دا زما سخت زړۀ د ے اؤ زما روحانى کمزورى ده

کوم چې د مالک عيسیٰ مسيح د قدر و قيمت سپکاوے کوی. زۀ ورک شوے يم اؤ برباديږم. اؤ کله چې د خلاصون خبره راشی نو د انصاف د پاره ما سره هيڅ دعوه نۀ وی. اوس زۀ د رحم د التجا نه علاوه نور هيڅ هم نۀ شم کولے.

بيا زۀ مالک عيسیٰ مسيح په تکليف زغملو اؤ په مړ کيدو باندې وينم. د چا په خاطره؟ په کلام پاک کښې ليکلے شوی دی، " څنګه چې مسيح دَ جماعت سره مينه کړې ده اؤ خپل ځان يې دَ هغۀ دَ پاره مرګ ته سپارلے دے" ( افسيان ۵ : ۲۵ )." دَ دې نه زياته نوره مينه نِشته چې يو سړے دې دَ خپل دوست دَ پاره خپل ځان ورکړی " ( يوحنا ۱۵ : ۱۳ ) .

" لکه چې اِبن آدم دَ دې دَ پاره نۀ دے راغلے چې دَ هغۀ خدمت دې وکړے شی بلکه دَ نورو خدمت دې وکړی اؤ خپل ژوند دې دَ ډيرو دَ پاره قربان کړی" ( متی ۲۰ : ۲۸ ).

اؤ زۀ دا معلومولے شم چې په هغه ابن آدمو کښې زۀ هم شريک يم؟ آيا زۀ د هغۀ په دوستانو کښې يو دوست جوړيدے شم؟ آيا زۀ هم د جماعت يوه حصه جوړيدے شم؟ بيا ما ته دا جواب ملاويږی" په مالک عيسیٰ باندې ايمان راؤړه اؤ تۀ اؤ ستا کورنۍ به خلاصون ومومی " ( اعمال ۱۲ : ۳۱ ). " هر هغه څوک چې دَ مالک په نوم زاری کوی، هغه به خلاصون بيا مومی" ( روميان ۱۰ : ۱۳ ). " دَ هغۀ په حقله ټولو نبيانو دا شهادت کړے دے چې هر هغه څوک چې په هغۀ ايمان لری نو دَ هغۀ په نوم به دَ ګناهونو نه معافی بيا مومی" ( اعمال ۱۰ : ۴۳ ). " خو کومو خلقو چې قبول کړو هغوئ ته يې دا حق ورکړو چې دَ خدائ اولاد شی يعنی هغوئ چې دَ هغۀ په نامه ايمان راؤړی " ( يوحنا ۱ : ۱۲ ). " . . . چې هر هغه څوک چې په زوئ يې ايمان راؤړی هغه هلاک نۀ شی خو دَ تل عمری ژوندون بيا مومی" ( يوحنا ۳ : ۱۲ ).

زما زړۀ چې زخمی شی نو زۀ د مالک عيسیٰ ښکلی دَ رحم اؤ کرم خزانه ځان ته تر غاړه باسم. اؤ زما په زړۀ کښې د دې حقيقت چينه په بهيدلو شی . . . اؤ هغه حقيقت زما د پاره د مالک عيسیٰ مسيح مينه ده. زۀ هم د هغۀ د اولنو مريدانو په شان دا وئيلے شم چې " ( عيسیٰ مسيح ) چا چې زما سره مينه کړې ده اؤ خپل ځان يې زما دَ خاطره ورکړو"

د دې نه زما مطلب څۀ دے؟ دا چې هغۀ زما د پاره بې حده ښکلې اؤ د ټولو نه لويه تحفه راکړه عن دې چې هغۀ زما د پاره ډير لوئ قيمت ورکړو. هغه تحفه څۀ وه؟ هغه تحفه دا وه چې د څۀ د پاره چې مالک عيسیٰ مسيح په دې زمکه باندې دعا کړې وه ." اے پلاره! دا خلق چې تا ما له راکړی دی زۀ غواړم چې دوئ دې زما سره وی چرته چې زۀ يم، چه دوئ زما جلال ووينی کوم چې تا ما له راکړے دے ځکه چې تا دَ ازل نه ما سره مينه کړې ده" ( يوحنا ۱۷ : ۲۴ ). هغه د "فضل اؤ د حقيقت نه معمور" وو د هغۀ په تکليفونو اؤ په مرګ کښې مونږ " داسې لوئی وليده لکه چې دَ پلار دَ يو زوئ چې په فضل اؤ حقيقت معمور وی" ( يوحنا ۱ : ۱۴ ). اوس مونږ صرف د هغۀ د جلال جهلک ليدلے دے. پوره جلال ليدل خو لا باقی دی. هغۀ زمونږ په خاطر د دې محفوظ ساتلو د پاره په سولئ باندې د خپل ځان قربانی ورکړه. دا ده د مالک عيسیٰ مسيح مينه!

مالک عيسیٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولې کيدو د پاره راغلو: ۷

# د حکمونو هغه ليکلو ( ريکارډ ) ختمولو د پاره کوم چې زمونږ خلاف دی

*" اؤ هغۀ تاسو هم چې دَ خپلو ګناهونو اؤ دَ وجود دَ ناسنت والی په وجه مړۀ وئ، دَ هغۀ سره ژوندی کړئ اؤ زمونږ ټول ګناهونه يې وبخښل. هر څۀ چې مونږ دَ شريعت دَ حکمونو په خلاف قصورونه کړی وو، هغه په يوه روزنامچه کښې ليکلې شوی وو، هغۀ هغه دَ روزنامچې ليک په خپله وران کړو، يعنې هغه يې په سولئ ټک وهلو، اؤ زمونږ دَ مخې نه يې لرې کړلو" (کولوسيان ۲ : ۱۳ ، ۱۴ ).*

دا خيال کول ځومره د ناپوهئ خبره ده چې يوه ورځ به زمونږ نيک عملونه زمونږ د بدو عملونو نه زيات شی. دا د دوؤ وجو په سبب باندې د نا پوهئ خبره ده. اوله ، دا حقيقت نۀ دے. د دې د پاره چې زمونږ نيک عملونو هم بې عيبه نۀ وی، ځکه چې په کوم سوچ سره مونږ هغه نيک عملونه کوو هغې سره خدائ پاک ته عزت اؤ جلال نۀ ملاويږی. آيا مونږ په خوشحالئ سره اؤ پوره زړۀ سره په خدائ پاک بهروسه لرو اؤ نيک کار کوو د پاره د دې چې د هغه نيک عمل نه د خدائ پاک نوم ته جلال ملاؤ شی؟ آيا مونږ د خدائ پاک هغه حکم پوره کوو کوم چې مونږ ته د نورو د خدمت د پاره وئيلے شوے دے " دَ هغه طاقت په مطابق دې يې کوی کوم چې خدائ ورکړے وی، دَ پاره دَ دې چې په ټولو خبرو کښې دَ عيسیٰ مسيح په وسيله دَ خدائ جلال ظاهروی. . " ( اول پطروس ۴ : ۱۱ ).

نو بيا مونږ به د خدائ پاک د کلام پاک په جواب کښې څۀ وايو " خو څوک چې په کوم څيز کښې شک لری، کۀ چرې هغه وخوری نو هغه پرې مجرم کيږی، ځکه چې کۀ هغه دا عقيده لری چې هغۀ ته داسې کول په کار دی اؤ کۀ مونږ په يقين سره يو کار ته ښۀ نۀ شو

وئیلے نو دَ هغهٔ کول ګناه ده" ( رومیان ۱۴: ۲۳ )؟ زما خو دا خیال دے چې هیڅ به نهٔ وایو. "۰ ۰ ۰ ۰ چې دَ شریعت ټول کلام دَ هغه چا دَ پاره دے څوک چې دَ شریعت دَ لاندې دے، د دې دَ پاره چې یو سړے هم څهٔ عذر ونهٔ لری. ۰ ۰ ۰ "( رومیان ۳: ۱۹ ). مونږ سره به د وئیلو د پاره هیڅ هم نهٔ وی. دا وئیل کم عقل توب دے چې د خدائ پاک په وړاندې د نیک عملونو تله به د بدو عملونو د تلې نه درنه وی. په عیسیٰ مسیح باندې د ایمان راوړلو نه بغیر ، زمونږ عملونه د بغاوت اؤ د بد عملئ نه ډک دی.

دویم، په خپلو نیکو عملونو اُمید لرل هم په دې وجه باندې ناپوهی ده چې خدائ پاک د نیکو عملونو په وجه مونږ ته خلاصون نهٔ راکوی. مونږ ته به د خپلو بدو کارونو د سزا نه خلاصون په دې وجه نهٔ ملاویږی چې زمونږ دا بد کارونه د نیکو کارونو په مقابله کښې لږ دی. دا په دې وجه باندې وشول چې زمونږ نومونه د قرضدارو په کاته کښې وو اؤ هغه د مسیح په سولئ باندې ټک وهلے شول. خدائ پاک د ګناه ګارو د خلاصون د پاره د هغوئ د نیکو عملونو تول نهٔ کوی، بلکه هغه هغوئ له بلکل په جدا طریقې باندې خلاصون ورکوی. مونږ خپلو عملونو نه هیڅ اُمید نهٔ شو ساتلے. مونږ صرف اؤ صرف د مسیح د تکلیفونو اؤ د هغهٔ دَ مرګ نه دا امید ساتلے شو.

د روزنامچې برابر ساتلو سره مونږ ته خلاصون نهٔ ملاویږی. بلکه د روز نامچې ورانولو سره مونږ ته خلاصون ملاویږی. دا خبره اهم ده چې زمونږ د بد کارونو تفصیل ( سره زمونږ دَ خرابو نیکو عملونو ) د مناسب سزاګانو سره د کومې چې بد عمل حقدار وو، ټول دې وران کړے شی. ۰ ۰ ۰ نهٔ چې په تله باندې دې وتللے شی. دَ دې کار سر ته رسولو د پاره مالک عیسیٰ مسیح تکلیفونه وزغمل اؤ قربانی یې ورکړه.

دا لیک هغه وخت وران کړے شو کله چې زمونږ د عملونو تفصیل په " سولئ باندې ټک وهلے" شو ( کولوسیان ۲: ۱۳ ). د لعنت په کروړو دَ وهلو دا تفصیل څنګه په سولئ باندې ټک وهلے شو. لیک په سولئ باندې نهٔ وو ټک وهلے شوے بلکه په سولئ باندې عیسیٰ مسیح ځوړند کړے شوے وو. نو بیا مالک عیسیٰ مسیح د بدو عملونو اؤ د ښو عملونو هغه لیک جوړ شو کوم چې د لعنت اؤ د سزا حق دار شو. هغهٔ زما لعنت اؤ زما سزا

په خپل ځان باندې اوچته کړه  هغهٔ زما خلاصون بلکل په جدا بنياد باندې کيښودو. هغه زما يک يو اُميد دے. اؤ صرف په هغهٔ ايمان راوړلو سره مونږ خدائ پاک ته رسيدلے شو.

## مالک عيسیٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولۍ کيدو د پاره راغلو: ۸

## د ډيرو خلقو په بدله کښې د قربانۍ ورکولو د پاره

*" ځکه چې اِبن آدم همَ دې دَ پاره نۀ دے راغلے چې خدمت واخلی بلکه دَ دې دَ پاره راغلے دے چې دے دَ نورو خدمت وکړی اؤ چې خپل ژوندون دَ ډيرو په بدل کښې په فديه ورکړی" ( مرقوس ۱۰ : ۴۵ ).*

په کلام مقدس کښې يو ځائ هم دا خبره نۀ ده ليکلے شوی چې د ګناه ګارانو د خلاصون د پاره به د شيطان په حضور کښې قربانی ورکړے کيږی. کله چې مالک عيسیٰ مسيح په سولۍ کړے شو نو دا شيطان ته قربانی نۀ وه کړے شوی، بلکه هغۀ ته شکست ورکړے شوے وو. د خدائ پاک زوئ د انسان په شکل کښې دې دنيا ته راغلو د پاره د دې چې " . . . . دَ مرګ په وسيله هغه ځوک چې په مرګ يې قدرت حاصل وو، يعنې اِبليس، تباه کړی" ( عبرانيان ۲ : ۱۴ ). هيڅ قسمه بحث ونۀ شو.

کله چې مالک عيسیٰ مسيح دا وائی چې ما خپل ځان د ډيرو په فديه کښې ورکړے دے نو په دې خبره کښې هغه کس ته توجو نۀ ده ورکړے شوې چا ته چې قربانی پيش کيږی بلکه د توجو مرکز هغه دے چا چې خپل ژوند ورکړو، خدمت اخستل نه بلکه خدمت کول دی، اؤ هغه " ډير" دی ځوک چې د دۀ د قربانۍ نه فائده اخلی.

کۀ چرې دا تپوس وکړے شی چې فديه چا ته ورکړے شوه، نو د بائبل مقدس جواب به يقيناً هم دا وی چې خدائ پاک ته.

بائبل مقدس مونږ ته وائی چې " . . . .مسيح . . . . زمونږ دَ پاره يې خپل ځان دَ خوشبوئ په شان خدائ ته نذرانه کړو اؤ قربان شو" ( افسيان ۵: ۴ ).

". . .مسيح . . . .خپل ځان دَ يو بې عيبه قربانۍ په طور دَ خدائ په مخکښې پيش کړو . . . " ( عبرانيان ۹ : ۱۴ ). زمونږ دَ خاطره دَ فديې ورکولو حاجت دَ دې دَ پاره دے، ځکه چې

ټولو ګناه کړے ده اؤ دَ خدائ پاک دَ لویئ نه محروم دی. ( رومیان ۳: ۲۳ ). زمونږ د ګناهونو په وجه "....ځکه .....ټوله دنیا یو شان دَ ګناه په ولقه کښې ده" ( رومیان ۳: ۱۹ ). پس مالک عیسیٰ مسیح چې خپل ځان زمونږ د ګناهونو د پاره په فدیه کښې ورکړو نو کلام پاک وائی چې بیا مونږ د هغه سزا نه آزاد شو کومه چې خدائ پاک زمونږ په عمل نامه کښې لیکلے وه. " لنډه دا چې څوک چې دَ عیسیٰ مسیح سره یووالے لری، دَ هغوئ مجرم کیدل نشته" ( رومیان ۸: ۱ ). آخری قید د کوم نه چې مونږ ته د خلاصون ضرورت دے هغه د خدائ پاک آخری عدالت دے ( رومیان ۲ : ۲ ، مکاشفه ۱۴ : ۷ ).

د خدائ پاک د عدالت اؤ د سزا نه د خلاصیدو د پاره چې کوم د قربانئ قیمت ورکړے شوے دے هغه قیمت د مالک عیسیٰ مسیح ژوند دے". هغۀ خپل ژوند د مرګ د پاره ورکړو. مالک عیسیٰ مسیح خپلو شاګردانو ته څو څو ځله ووئیل " .. . . اِبن آدم به اوس بنی آدمو ته سپارلے کیږی اؤ هغوئ به یې وژنی. . . . " ( مرقوس ۹: ۳۱ ). مالک عیسیٰ مسیح به د خپل ځان د پاره د خپلې خوښې لقب ابن آدم استعمالولو ( په انجیلونو کښې د ۲۵ ځلو نه زیات ابن آدم لقب راغلے دے ) ، اؤ د داسې کولو د پاره یو حقیقی وجه دا وه چې دې به د هغۀ د مرګ پیشن ګوئی کوله. انسان له به مرګ راشی. نو هم په دې وجه هغه د انسان په جُسه کښې راغلو. صرف ابن آدم دا قربانی ورکولے شوه، ځکه چې قربانی ژوند وو کوم چې د مرګ په صورت کښې ادا کول وو.

د فدیه ورکولو د پاره هغه مجبوره شوے نۀ وو. نو هم په دې وجه هغۀ ووئیل " اِبن آدم دَ دې دَ پاره نۀ دے راغلے چې دَ هغۀ خدمت دې وکړے شی بلکه دَ نورو خدمت دې وکړی". هغۀ ته د خدمت ضرورت نۀ وو هغه مالک جوړ نۀ شو هغه خادم شو، یعنې ورکړې واله، نۀ چې د اخستلو واله. ". . . ( زما ځان ) دا زما نه څوک په زور نۀ اخلی، زۀ دا په خپله مرضئ قربانوم " ( یوحنا ۱۰: ۱۸ ). قیمت په زوره نۀ دے ادا کړے شوے بلکه په رضا مندئ باندې ورکړے شوے دے. دا خبره بیا مونږ د هغۀ مینې له راولی. هغۀ زمونږ د خلاصون د پاره په خپلې خوشحالئ سره خپل ځان زمونږ د پاره قربانول قبول کړل.

د مالک عیسیٰ مسیح فدیه د څومره خلقو د ګناهونو د پاره فائده منده ده؟ هغۀ ووئیل چې هغه د دې د پاره راغلے دے چې "خپل ژوندون د ډیرو په بدل کښې فدیه

ورکړی". خو د دې په باوجود به هم هر یو د خدائ د غضب نه بچ نۀ شی. بې شکه چې دا دعوت د هر یو کس د پاره دے . " . . . . خدائ یو دے اؤ د خدائ اؤ د انسان په مینځ کښې مینځګړے هم یو، یعنی عیسیٰ مسیح چې انسان دے، چا چې خپل ځان د ټولو د پاره په فدیه کښې ورکړلو . . . . " ( اول تیموتیوس ۲ : ۵، ۲ ). هر هغه څوک چې د مالک عیسیٰ مسیح قربانی قبوله کړی هغه به هیڅ کله هم د خلاصون نه محروم نۀ شی.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو: ۹

# زمونږ د ګناهونو د معافۍ د پاره

*" مونږ ته دَ مسیح دَ وینې په وسیله خلاصون، یعنې دَ ګناهونو معافی،*
*دَ هغۀ دَ هغه فضل دَ دولت په مطابق حاصله ده"*
*(افسیان ۱ : ۷ ).*

*" ځکه چې دا زما وینه ده چې دَ خدائ وعده قائموی اؤ دَ ډیرو خلقو دَ*
*ګناهونو دَ معافۍ دَ پاره توئیږی"*
*( متی ۲۶ : ۲۸ ).*

کله چې مونږ د چا قرض ، قصور اؤ یا بد سلوک معاف کوو نو د دې په بدل کښې مونږ د څه طمع نۀ لرو. کۀ چرې مونږ د څۀ طمع ولرو نو بیا به دا د معافۍ الټه عمل وی. کله چې مونږ له زمونږ د نقصان قیمت را کړے شی نو بیا د معافۍ حاجت هم پاتې نۀ شی، ځکه چې مونږ ته خپل حق ملاؤ شی.

معافی د فضل په صورت ده. کۀ چرې تا ما سره څۀ بد سلوک کړے وی نو فضل بخښنه یعنی معافی کوی. زۀ ستا په خلاف مقدمه نۀ کوم بلکه زۀ تا معاف کوم. فضل هر چا ته هغه څۀ ورکوی د څۀ چې هغه حق دار نۀ وی. معافی د اخستلو عمل نۀ دے بلکه د ورکړې عمل دے.

هم دا عمل مالک خدائ مونږ سره کوی کله چې مونږ په مالک عیسیٰ مسیح باندې یقین کوو : ". . . . چې هر هغه څوک چې په هغۀ ایمان لری نو دَ هغۀ په نوم به دَ ګناهونو نه معافی بیا مومی " ( اعمال د رسولانو ۱۰ : ۴۳ ). کۀ چرې مونږ په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړو نو مالک خدائ پاک زمونږ ګناهونه زمونږ په عمل نامه کښې قایم نۀ ساتی. کلام پاک کښې مالک خدائ په خپله فرمائیلی دی چې " زۀ هم هغه یم چې د خپل

نوم په خاطر ستا ګناهونه معاف کوم. " ( يشعياه ۴۳: ۲۵ ). " ځومره چې نمر خاتۀ د نمر پريواتۀ نه لرے دے نو هم هغه هومره هغۀ زمونږ نه زمونږ ګناهونه لرې کړی دی" ( زبور ۱۰۳:۱۲ ).

خو دې سره يوه مسئله مينځ ته راځی. مونږ ټولو ته معلومه ده چې صرف معاف کول کافی خبره نۀ ده. مونږ دا حکم په واضحه طور باندې هغه وخت صفا ليدلے شو کله چې مونږ سره بد سلوک وشی اؤ مونږ ته څۀ صدمه راپيښه شی . . . لکه قتل يا زنا يعنې ډير غټ جرم چې د زور زياتی سره وی. نۀ خو به دا زمونږ معاشره قبلوی اؤ نۀ به زمونږ دنيا دا قبلوی اؤ کۀ چرې جج ( يا خدائ پاک ) يو قاتل يا بد سلوک کوونکی ته صرف دا ووائی چې "آيا تۀ په خپلو کړو باندې افسوس کوې ؟ ټيک ده عدالت تا معاف کوی. اوس تۀ آزاد ئې" په دې حالاتو کښې بې شکه چې په کوم کس باندې ظلم زياتے شوے وی هغه دې معاف کولو د پاره تيار شی، عدالت ( مملکت ) انصاف سره هيڅ کله هم تعلق نۀ شی ختمولے.

د خدائ پاک انصاف هم بلکل داسې دے. هر يوه ګناه غټه وی ځکه چې هغه د خدائ پاک خلاف وی ( وګورئ اولنے باب ). کله چې مونږ په خدائ پاک ځان ناغرضه کوو يا نافرمانی کوو يا يې سپکاوے اؤ بې عزتی کوو نو د هغۀ لويئ اؤ جلال ته غم ورکوو. د هغۀ انصاف هغۀ له دا اجازت نۀ ورکوی چې هغه دې مونږ يواځې اؤ مايوسه پريږدی . دا خبره لازمی ده چې زمونږ ګناهونو خدائ پاک ته تکليف ورکړے دے نو د دې د پاره دې قيمت ادا کړے شی، اؤ د هغې بدل دې ورکړے شی، د پاره د دې چې د دې انصاف په وجه د هغۀ د جلال نور په لوئ والی سره وځليږی . اؤ کۀ چرې مونږ مجرمان خلاصون اؤ معافی حاصلول غواړو نو زمونږ دَ پاره دا خبره ضروری ده چې د دې حکم صفا ښکارنه وکړو چې کۀ چرې هغه مجرمان چا ته چې معافی ملاؤ شوې ده اؤ هغوئ خلاصيږی، نو د خدائ پاک عزت اؤ جلال ته دې لږ شان نقصان هم ونۀ رسی.

هم دا وجه ده چې مالک عيسیٰ مسيح تکليف وزغملو اؤ په سولئ شو. " مونږ ته دَ مسيح دَ وينې په وسيله خلاصون، يعنې دَ ګناهونو معافی، دَ هغۀ دَ هغه فضل دَ دولت په مطابق حاصله ده" ( افسيان ۱ : ۷ ). د معافئ د پاره مونږ له د څۀ قيمت ادا کول نۀ دی پکار، زمونږ فرمانبرداری د معافئ حاصلولو ميوه ده، دَ معافئ اخستلو وجه نۀ ده. نو هم

په دې وجه مونږ دې ته فضل وايو. خو زمونږ د پاره د دې معافۍ قيمت زمونږ مالک عيسىٰ مسيح ورکړے دے. . . . د خپل مرګ په وسيله. نو هم په دې وجه مونږ دې عمل ته انصاف وايو. واه ډېره لويه خوشحالي ده چې زمونږ مالک خدائ زمونږ ګناهونه زمونږ په عمل نامه کښې زمونږ خلاف نۀ درج کوى! اؤ مالک عيسىٰ مسيح ډېره لوئ اؤ عظيم دے ځکه چې د هغۀ د وينې په وسيله مالک خدائ داسې کوى!

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۀ کیدو د پاره راغلو: ۱۰

# زمونږ د صادق کیدو د بنیاد اینبودلو د پاره

*" اؤ اوس چې مونږ دَ مسیح دَ مرګ په وسیله صادِق کړے شو نو بې شکه چې مونږ به دَ هغۀ په وسیله دَ خدائ دَ غضب نه هم بچ شو."*
*( رومیان ۵: ۹ ).*

*" اؤ ټول دَ خدائ په رحم ویړیا صادِق کیږی ولې چې عیسیٰ مسیح هغوئ خلاص کړی دی" ( رومیان ۳: ۲۴ ).*

*" انسان دَ ایمان په وسیله صادِق کوی، نۀ چې په شریعت دَ عمل کولو"*
*( رومیان ۳: ۲۸ ).*

د خدائ پاک په وړاندې زمونږ صادق کیدل اؤ د خدائ پاک مونږ له معافی راکول یو شان نۀ دی. په عدالت کښې صادق کیدل ، د معاف کیدو نه فرق عمل دے. د معاف کولو نه مطلب دا وی چې زۀ قصور وار یم اؤ اوس زما جرم په حساب کښې نۀ شمارلے کیږی. خو د صادق کیدلو مطلب دا وی چې د تفتیش نه پس معلومه شی چې زۀ بې قصوره وم. اؤ زۀ بې ګناه ثابت شم اؤ بری کړے شم. اؤ جج دا اعلان کوی چې" تۀ بې قصوره یې" د صادق په باره کښې چې کومه فیصله شوې وی دا فیصله هغه کس نۀ صادقوی بلکه د هغۀ د صادق کیدو اقرار کوی. اؤ د دې بنیاد په اصل کښې د چا صادق کیدو سره وی.

صادق کیدل یا صادقول یو قانونی عمل دے. د دې مطلب دا دے چې د چا په څرګنده توګه باندې د صادق کیدو اعلان کول. د قانون په ژبه کښې ورته فیصله وئیلے کیږی. د دې بنیاد د یو کس په حقیقت کښې صادق کیدو باندې وی. دا خبره مونږ د خلقو هغه رد عمل ته بوځی کوم چې هغوئ د مالک عیسیٰ مسیح په تعلیم څرګند کړے وو.

مونږ دا خبره په واضحه طور باندې لیدے شو لیکلے شوی دی " . . . . هغوئ هم، خدائ ریښتینے وګڼلو . . . " ( لوقا ۷: ۲۹ ). د دې مطلب دا نۀ دے چې هغوئ مالک خدائ پاک صادق کړو ( ځکه چې هغه د اول نه صادق وو ). د دې مطلب دا وو چې هغوئ د مالک خدائ د صادق کیدو اعلان کړے وو.

کله چې مونږ په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړو نو مونږ د یو عجیبه اخلاقی تجربې نه تیریږو اؤ هغه صادق کیدل نۀ دی. کلام پاک دې عمل ته یو پاک نوم ورکوی، یعنی د نیک اؤ د مقدس کیدو یو عمل. صادق کیدل د دې په شان عمل نۀ دے بلکه داسې خو هر ګز نۀ ده. دا خو یو اعلان دے کوم چې هم په هغه وخت باندې کیږی. دا یوه فیصله وی چې تۀ صادق یې اؤ تۀ نیک یې.

په انسانی عدالت کښې د قانون منلو اؤ عمل کولو په بنیاد باندې مونږ صادقان کیږو. جج یا هغه ډله کوم چې په عدالت کښې وی هغوئ د حکم کولو اعلان کوی کوم چې ستا په باره کښې حقیقت وی، یعنی دا چې : " تا د قانون تابعداری کړې ده. " هغوئ ستا د صادق کیدو اعلان کوی. خو د خدائ پاک په عدالت کښې مونږ د هغۀ د قانون تابعداری نۀ ده کړې نو هم په دې وجه بیا مونږ په عامو شرطونو اؤ ثبوتونو باندې د صادق کیدو اُمید نۀ شو ساتلے. په کلام پاک کښې لیکلے شوی دی چې " بې ګناه له سزا ورکول، بد عمله هم داسې پریښودل مالک خدائ پاک د دې دواړو نه نفرت کوی" ( امثال ۱۷: ۱۵ ). خو د حیرانتیاه خبره دا ده چې کتاب مقدس هم دا وائی چې څوک د مالک خدائ پاک په فضل باندې اُمید لری نو خدائ پاک به هغه " بې دینه" خلق د مالک عیسیٰ مسیح په وسیله باندې "صادق" کړی ( رومیان ۴: ۵ ). مالک خدائ هغه کار کوی کوم چې د نفرت نه ډک ښکاری.

اوس دا ولې د نفرت نه ډک پاتې نۀ دے؟ یا لکه څنګه چې کلام پاک مونږ ته وائی چې څنګه خدائ "انصاف کوونکے" هم پاتې کیدے شی. " د دې دَ پاره چې په دې زمانه کښې صداقت ښکاره کړی اؤ دا ښکاره کړی چې هغه په خپله صادِق دے اؤ هر هغه سړے صادِق ګڼی چې په عیسیٰ مسیح ایمان لری" ( رومیان ۳: ۲۲ ) ؟ په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړلو واله هغه بې دینه خلق د دوو وجو په سبب د خدائ پاک د نفرت قابل نۀ دی.

اولنئ وجه خو دا ده چې " زمونږ سزا ختمولو د پاره مالک عيسیٰ مسيح خپله وينه توئ کړه. حالانکې ليکلے شوی دی " . . . . مونږ دَ مسيح دَ مرګ په وسيله صادِق کړے شو نو بې شکه چې مونږ به دَ هغۀ په وسيله دَ خدائ دَ غضب نه هم بچ شو " ( روميان ۵ : ۹ ). خو دا وينه زمونږ جرم ( ګناه ) صرف ختموی . دا زمونږ د صادق کيدو اعلان نۀ کوی. د قانون فرمانبردارئ کولو سره زمونږ د ناکامئ رد کول اؤ د دې خبرې اعلان کول چې مونږ د قانون تابعداری کړې ده دا يو شان نۀ دی. په ايف ګريډ کښې د پاس شوی طالب علم د امتحان تفصيل رد کړے شی اؤ په اے ګريډ کښې د پاس شوی طالب علم د ښو نمبرو اعلان کول دا دواړه يو برابر خبرې نۀ دی. د يو بينک قرض پيسې کومې چې چا له ورکول پکار دی اؤ هغه قرض هغۀ ته معاف شی اؤ دې سره دا اعلان هم وکړے شی چې زۀ يو مال داره سړے يم نو دا دواړه خبرې يو شان نۀ دی. بلکل هم داسې زمونږ ګناه ختمول اؤ زمونږ صادق کيدل دواړه يو شان نۀ دی. دا خبره بلکل لازمی ده چې د ګناه د ختمولو عمل وشی، ځکه چې دا د صادق کيدلو د پاره ډير ضروری دی. خو خبره دلته ختمه نۀ شی. د خدائ پاک د پاره بې دينه خلق صادق کول ولې د نفرت لائق نۀ دی، د دې يوه بله وجه هم ده. اؤ د هغه وجې پيژندلو د پاره به مونږ د راتلونکی باب ارخ ته ځو.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو: ۱۱

# د هغه فرمانبردارئ سر ته رسولو د پاره کومه چې زمونږ د صداقت سبب گرځی.

*" ( مالک عیسیٰ مسیح ) په اِنسانی جُسه کښې ښکاره شو، خپل ځان ئې عاجز کړو اؤ دومره تابعدار شو چې مرگ، بلکه دَ سولئ مرگ ئې وزغملو" ( فیلیپیان ۲ : ۸ ).*

*" ځکه چې دَ یو سړی په نافرمانئ ډیر گناه گار شول نو هم دغه شان دَ یو سړی په فرمانبردارئ به ډیر صادق کړے شی"*
*( رومیان ۵: ۱۹ ).*

*" هغه چا چې گناه نۀ پیژنده خو خدائ هم هغه زمونږ دَ پاره گناه وگڼلو چې مونږ په هغۀ کښې دَ خدائ صداقت شو"*
*( دویم کورنتیان ۵: ۲۱ ).*

*" نه چې دَ خپل صداقت سره چې دَ شریعت په وسیله دے بلکه دَ هغه صداقت په وسیله کوم چې په مسیح دَ ایمان دَ راؤړلو په وسیله دے"*
*( فیلیپیان ۳: ۹ ).*

صادق کیدل صرف زما بدعملی ختمول نۀ دی، بلکه دا د عیسیٰ مسیح صداقت هم زما په نامه کوی. زما جولئ د هغه صداقت نه خالی ده کوم چې ما د خدائ پاک په نظر قبلوونکے جوړوی. د خدائ پاک په وړاندې زما دعوه دا ده: " . . . . نه چې دَ خپل صداقت

سره چې دَ شريعت په وسيله دے بلکه دَ هغه صداقت په وسيله کوم چې په مسيح دَ ايمان دَ راؤړلو په وسيله دے . . . . " ( فيليپيان ۳: ۹ ).

دا د مالک خدائ صداقت دے کوم چې زما د نوم د پاره غوره شوے دے. مطلب دا چې عيسیٰ مسيح ټول صداقت په صحيح طريقه پوره کړے دے، اؤ بيا دا چې کله ما په هغۀ باندې ايمان ولرلو نو هغه صداقت زما په عمل نامه کښې وليکلے شو. نو زۀ بيا په صادقانو کښې شمارلے شم. مالک خدائ د عيسیٰ مسيح په کامل صداقت باندې خپل نظر وکړو اؤ هغۀ د عيسیٰ مسيح د صداقت په سبب مونږ صادقان کړو اؤ زمونږ د صداقت اعلان يې وکړو.

د دې دوه وجې دی چې د خدائ پاک په نزد د بې دينه خلقو صادق کيدل ولې د خدائ پاک په وړاندې د نفرت لائق نۀ دی ( روميان ۴: ۵ ). اولنئ وجه دا ده چې ، د مالک عيسیٰ مسيح وينې زمونږ د ټولو ګناهونه په بيعه واخستل. ( وروستونی باب ته وګورئ ). دويمه وجه دا ده چې، د مالک عيسیٰ مسيح فرمانبردارئ د هغه صداقت بندوبست وکړو کوم چې د خدائ پاک په عدالت کښې مونږ له د صادق جوړيدلو د پاره پکار وو. په ابدی ژوند کښې د داخليدو د پاره خدائ پاک صرف دا نۀ غوښتل چې زمونږ ګناهونه لرې کړی بلکه دا هم چې دې سره زمونږ صداقت هم کامل پاتې شی.

د مالک عيسیٰ مسيح مرګ د دې دواړو خبرو بنياد دے. د هغۀ تکليفونه هغه تکليفونه وو د څۀ حقدار چې زمونږ ګناهونه وو. " . . . . خو زمونږ د ګناه په وجه هغه زخمی شو، مونږ چې کوم بد عمل کړے وو د هغې په وجه هغه ووهلے شو. . . " ( يشعيا ۵۳: ۵ ). خو د هغۀ تکليفونه زغمل اؤ په سولئ کيدل د هغۀ د هغه فرمانبردارئ کامليدل وو کومه چې زمونږ د صداقت بنياد جوړه شوه. هغۀ ". . . . خپل ځان يې عاجز کړو اؤ دومره تابعدار شو چې مرګ، بلکه دَ سولئ مرګ يې وزغملو " ( فيليپيان ۲: ۸ ). د هغۀ مرګ د هغۀ د فرمانبردارئ آخری نقطه ده. کلام مقدس هم د دې خبرې طرف ته اشاره کوی اؤ مونږ ته وائی چې " ځکه چې دَ يو سړی په نافرمانئ ډير ګناه ګار شول نو هم دغه شان دَ يو سړی په فرمانبردارئ به ډير صادِق کړے شی " ( روميان ۵: ۱۹ ).

د مالک عیسیٰ مسیح مرګ زمونږ د معافئ اؤ د کامل کیدو یو بنیاد جوړ کړو " هغه چا چې ګناه نهٔ پیژندہ خو خدائ هم هغه زمونږ دَ پاره ګناه وګڼلو چې مونږ په هغهٔ کښې دَ خدائ صداقت شو " ( دویم کورنتیان **۵**: **۲۱** ).

خدائ پاک بې ګناه عیسیٰ ګناه ګار کړو ، د دې مطلب څه دے؟ د دې مطلب دے چې مونږ ( څوک چې ګناه ګار یو ) په عیسیٰ مسیح کښې د خدائ پاک صادقان شو؟ د دې مطلب هم هغه شان دے چې د مالک عیسیٰ مسیح صداقت زمونږ د پاره حساب شو اؤ داسې هغه مسیح زمونږ کامل کوونکے جوړ شو. داسې مالک عیسیٰ مسیح تکلیف زغملو سره اؤ په سولئ کیدو سره دوه کارونه سر ته ورسول : یعنې زمونږ د ګناهونو د معافئ کار اؤ زمونږ د صادق کولو کار. رائځئ چې د هغهٔ د دې لویو کارونو سر ته رسولو د پاره د هغهٔ تعریف اؤ ثنا صفت وکړو اؤ په هغهٔ باندې بهروسه ولرو. کاش چې مالک عیسیٰ مسیح په سولئ باندې کوم تکلیف زغملے دے اؤ کومې معجزې یې کړې دی نو د هغې په وسیله دې هغهٔ ته عزت اؤ جلال ملاؤ شی.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو: ۱۲

# زمونږ د سزا ختمولو د پاره

*" نو بیا څوک دوئ مجرمان کولے شی؟ دا مسیح دے چې مړ شو اؤ د دې نه لا سیوا دا چې دَ مړو نه بیا ژوندے کړے شو چې دَ خدائ په ښی لاس ناست دے اؤ بې شکه چې زمونږ شفاعت کوی "*
*( رومیان ۸ : ۳۴ ).*

د مالک عیسیٰ مسیح د تکلیف اؤ د سولۍ د مرګ د ټولو نه لویه نتیجه دا ده چې " لنډه دا چې څوک چې دَ عیسیٰ مسیح سره یووالے لری، دَ هغوئ مجرم کیدل نِشته " ( رومیان ۸ : ۱ ). د مالک عیسیٰ مسیح سره د یو والی مطلب دا دے چې د ایمان په وسیلې سره هغۀ سره تعلق لرل. په مسیح باندې ایمان راوړل مونږ د هغۀ سره تړی د پاره د دې چې د هغۀ مرګ زمونږ مرګ شی اؤ د هغۀ کامل کیدلو سره مونږ هم کامل شو. مالک عیسیٰ مسیح زمونږ سزا ( اوس مونږ له د هغې د تیرولو ضرورت نشته دے ) اؤ زمونږ د کامل کیدو سبب ( کوم چې زمونږ د وس نه بهر دے ) جوړ شوے دے.

خدائ پاک زمونږ د ایمان په وسیله مونږ نۀ قبلوی بلکه د مالک عیسیٰ مسیح په وجه مونږ قبلوی. ایمان مونږ د مالک عیسیٰ مسیح په یووالی کښې تړی د پاره د دې چې د هغۀ صداقت زمونږ نوم سره پیوند شی. " خو بیا هم په دې پوهیږو چې سړے دَ شریعت په عملونو نه، بلکه صرف په عیسیٰ مسیح په ایمان راوړلو صادِق کیږی، نو په خپله مو هم په عیسیٰ مسیح ایمان راؤړو دَ دې دَ پاره چې مونږ په مسیح باندې په ایمان راوړلو صادِق شو، نۀ چې دَ شریعت په عملونو، ځکه چې دَ شریعت په عملونو یو سړے هم صادِق کیدے نۀ شی " ( ګلتیان ۲ : ۱۶ ).

" د ایمان راوړلو سره صادق کیدل " اؤ " مسیح سره په یو والی کښې صادق کیدلو" ( ګلتیان ۲ : ۱۷ ) کښې هیڅ فرق نشته دے، ځکه چې هم یو حقیقت په دوو اندازو کښې

بيان شوے دے. مونږ د ايمان په وسيله مالک عيسیٰ مسيح سره يو والے لرو اؤ هم په دې وجه صادق شو.

کله چې د دې سوال تپوس وکړے شی چې "څوک به مجرم جوړيږی؟" نو دا جواب ذهن ته راځی : " هيڅ څوک نه" بيا د بنياد اعلان کيږی : "عيسیٰ مسيح هغه وو چې مړ شو" د مالک عيسیٰ مسيح مرګ مونږ د مرګ د سزا نه محفوظ ساتی. زمونږ د سزا نه بچ پاتې کيدل دومره ضروری دی لکه څومره چې د مالک عيسیٰ مسيح د پاره مرګ ضروری وو. د خدائ پاک په عدالت کښې په دويم ځل د سزا خطره نشته دے. مونږ ته به بيا د هغه بدو کارونو د پاره په دوباره د سزا اعلان نۀ اؤرولے کيږی. مالک عيسیٰ مسيح زمونږ د ګناهونو د پاره قربان شو. اوس به مونږ ته د هغه ګناهونو د پاره د سزا حکم نۀ اؤرولے کيږی. سزا ختمه کړے شوې ده د دې د پاره نۀ چې ګنی اوس سزا بالکل نشته ، بلکه د دې د پاره چې سزا زغملے شوې ده.

خو د سزا د هغه حکم په باره کښې مو څۀ خيال دے کوم چې دنيا مونږ ته اؤروی؟ آيا هغه د دې سوال چې " څوک به مجرميږی ؟ " جواب نۀ دے څۀ؟ آيا دنيا ايمانداران د هغوئ د ايمان په وجه مجرم کوی نه څۀ؟ په تاريخ کښې ډيرو ايماندارانو خپل ځانونه قربان کړل. جواب دا دے چې هيڅوک هم مونږ کاميابئ سره مجرم کولے نۀ شی. آؤ، دا کيدے شی څوک الزام ولګوی، خو په آخر کښې به هغوئ ټول دروغژن ثابت کړے شی. " څوک دَ خدائ په غوره کسانو باندې اِلزام لګولے شی؟ چې خدائ په خپله دوئ صادِقوی " ( روميان ۸ : ۳۳ ). په کلام پاک کښې داسې بيان په يو بل ځائ کښې هم راغلے دے " نو بيا هغه کوم څيز دے چې مونږ به دَ مسيح دَ مينې نه جدا کړی؟ آيا سختې يا مصيبتونه داسې کولے شی؟ آيا ظلم، زياتے، لوږه، بربنډتوب، خطرې يا توره داسې کولے شی؟" ( روميان ۸: ۳۵ ). جواب دا نۀ دے چې ګنې ايماندارانو باندې به داسې وختونه نۀ راځی بلکه جواب دا دے " خو بيا هم د دې هر څۀ سره ښکاره کامله فتح بيا مومو دَ هغه چا په وسيله څوک چې مونږ سره مينه کوی!" ( روميان ۸ : ۳۷ ).

د دې دنيا خلق به مونږ ته مجرمان وائی. عن تر دې پورې چې مونږ به په تورا باندې مړۀ کوی اؤ هيڅ ويره به ونۀ کړی. خو مونږ ته معلومه ده چې د لوئ عدالت فيصله زمونږ په

حق کښې ده. " کۀ خدائ زمونږ په طرف دے نو بیا زمونږ مخالف څوک کیدے شی؟" ( رومیان ۸: ۳۱ ). په کامیابئ سره یو هم زمونږ مخالف نۀ شی کیدے. کۀ دنیا مونږ رد کوی نو خدائ پاک مونږ قبول کړی یو. کۀ هغوئ مونږ نه نفرت کوی خو مالک خدائ مونږ سره مینه کوی. کۀ هغوئ مونږ په قید کښې اچوی نو خدائ پاک زمونږ روحونه آزادوی. کۀ هغوئ مونږ ته زرر رسوی نو خدائ پاک د هغه مصیبت اور سره مونږ پاکوی. کۀ چرې هغوئ مونږ قتلوی نو خدائ پاک هغه زمونږ د پاره د جنت د تلو وسیله جوړوی. هغوئ مونږ له ماتې نۀ شی راکولے. عیسیٰ مسیح مړ شو اؤ بیا ژوندے شو. مونږ په هغۀ کښې ژوندی یو. اؤ په هغۀ کښې د ژوندی کیدو په وجه اوس مونږ باندې د سزا حکم نۀ شی کیدے. مونږ معاف کړے شوی اؤ صادقان کړے شوی خلق یو. اؤ صادقان د ازمری په شان بهادران وی ( امثال ۲۸: ۱ ).

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو: ۱۳

# سنت اؤ هغه ټولو رسم رواجونه کوم چې به د خلاصون بنیاد ګڼلے کیدل د هغې ختمولو د پاره

*" زما ورونړو! که زۀ تر اوسه دَ سنتیدو پیغام ورکوم نو بیا تر اوسه عذابولے ولې شوم؟ په هغه صورت خو دَ عیسیٰ دَ سولۍ دَ تیندک خبره هم نۀ وه" (ګلتیان ۵ : ۱۱).*

*" څومره خلق چې جسمانی نمائش غواړی، هغوئ تاسو په سنتیدلو مجبوروی تش دَ دې دَ پاره چې دَ مسیح دَ سولۍ په وجه ونۀ عذابولے شی" (ګلتیان ۶ : ۱۲).*

په اولنو جماعتونو کښې د سنتیدو خبره د جنګ جګړو اؤ د بحث کولو وجه جوړه شوې وه. خدائ پاک د سنت کیدو حکم د پیدائښت په کتاب ۱۷ : ۱۰ آیت کښې کړے وو، اؤ هغه وخت نه سنتیدل یو لازمی اؤ د عزت کار وو. مالک عیسیٰ مسیح هم یهودی وو. اؤ د هغۀ دولس مریدان هم یهودیان وو. تقریباً چې په شروع کښې کوم کسان عیسایان وو هغوئ ټول هم یهودیان وو. د یهودیانو مقدسې صحیفې اؤ کتابونه د بائبل مقدس برخه وو اؤ اوس هم دی. نو هم په دې وجه د یهودیانو رواجونه د عیسایانو جماعت ته راتلل څۀ د حیرانتیا خبره نۀ ده.

اؤ د هغه رسمونو راتلو سره د مسیحی جماعت تر مینځه د بحثونو اؤ د اختلاف بازار ګرم شو. اؤ د مالک عیسیٰ مسیح زیرے په غیر یهودی ښارونو کښې هم خوریدو، لکه سوریه اؤ په انطاکیه کښې. بې دینه خلقو په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان راوړو. اؤ په داسې حالاتو کښې دا اهم سوال مینځ ته راغلو : د انجیل بنیادی حقیقتونو سره د سنت اؤ د

داسې نورو رسمونو څۀ تعلق دے؟ هغه رسمونه د انجیل اؤ د مسیح سره څۀ تړون لری . . . . دا چې کۀ چرې تاسو په هغۀ باندې ایمان لرئ نو تاسو ته به د ګناهونو معافی ملاؤ شی، اؤ تاسو به د خدائ پاک په حضور صادقان شئ؟ ستاسو د خدائ پاک سره تعلق شروع شی. اؤ تاسو د ابدی ژوندون وارثان جوړ شئ.

په ټولو غیرو قومونو کښې د خدائ پاک رسولانو هم دا تعلیم ور کړے وو چې صرف ایمان راوړلو سره مونږ ته معافی ملاویږی اؤ مونږ صادقان کیږو. د پطروس رسول دا تعلیم واؤرئ " دَ هغۀ په حقله ټولو نبیانو دا شهادت کړے دے چې هر هغه څوک چې په هغۀ ایمان لری نو دَ هغۀ په نوم به دَ ګناهونو نه معافی بیا مومی " ( اعمال ۱۰ : ۴۳ ). پولوس رسول هم مونږ ته دا تعلیم را کړے دے " نو بیا اے زما ورونړو! تاسو ضرور ځان پوهه کړئ چې دا دَ عیسیٰ په وسیله دَ ګناهونو دَ معافئ بیان درته کیږی. اؤ هر څوک چې په عیسیٰ ایمان راؤړی، دَ هغۀ په وسیله به یې هره ګناه معاف شی چې دَ موسیٰ په شریعت کښې معاف کیدے نۀ شوه " ( اعمال ۱۳ : ۳۸- ۳۹ ).

*خو د سنت په باره کښې څۀ ووایو؟*

*په بیت المقدس کښې چا دا سوچ کولو چې دا ډیر ضروری دے.*

*اؤ په انطاکیه کښې د دې خلاف فیصلې په باره کښې بحث تر لرې*

*پورې ورسیدو. " بیا ځنې کسان چې له یهودیه نه راغلی وو*

*اؤ د عیسیٰ منونکو ته یې دا تعلیم شروع کړو چې کۀ*

*تاسو دَ موسیٰ دَ شریعت په مطابق سنت نۀ شئ نو*

*خلاصون نۀ شئ موندلے." ( اعمال ۱۵ : ۱ ).*

*یوه غونډه راټوله کړے شوه اؤ په دې مسئلې*

*باندې خبرې اترې وشوې.*

" بیا دَ فریسیانو دَ فرقې څۀ کسان چې ایمان یې راؤړے وو، وړاندې راغلل اؤ وې وئیل چې ضروری دی چې هغوئ سنت شی اؤ دَ موسیٰ دَ شریعت پابندی وشی. رسولانو اؤ مشرانو په دې خبره دَ بحث دَ پاره غونډه وکړه. اؤ دَ یو اوږد بحث نه پس پطروس پاڅیدو اؤ هغوئ ته مخاطب شو اؤ وې وئیل چې اے زما وروڼو! تاسو په خپله خبر یئ چې په اولو ورځو کښې خدائ په تاسو کښې زۀ دې ته غوره کړم چې غیر یهودیان زما په خلۀ دَ زیری کلام واؤری اؤ ایمان پرې راوړی. . . . نو بیا تاسو اوس خدائ ولې راپاروئ اؤ دَ دې عیسیٰ منونکو په اوږو داسې جغ ولې ږدئ چې نۀ خو مونږ اؤ نۀ زمونږ پلارونو نیکونو پورته کولے شو؟ نه! زمونږ دا عقیده ده چې مونږ دَ مالِک عیسیٰ دَ فضل په وسیله خلاصون موندلے دے اؤ دغسې دوئ هم. په دې ټوله غونډه چپ شوه" ( اعمال **۱۵**: **۵**- **۱۲** ).

سیوا د پولوس نه بل هیڅ څوک هم دې خبرې ته ونۀ رسیدل. د مالک عیسیٰ مسیح تکلیفونه اؤ د سولئ کیدلو مقصد دوئ په داؤ باندې لګولے وو. آیا د خدائ پاک سره زمونږ په روغه کښې صرف زمونږ ایمان راوړل کافی نۀ وو څۀ؟ یا دې سره سنت کول هم ضروری وو؟ جواب څرګند وو. کۀ چرې پولوس رسول د سنت وعظ کولو نو "؟ په هغه صورت خو دَ عیسیٰ دَ سولئ دَ تیندک خبره هم نۀ وه ( ګلتیان **۵**: ۱۱ ). د سولئ مطلب دے چې د رواجونو د غلامئ نه خلاصون. " مسیح مونږ دَ آزاد اوسیدلو دَ پاره آزاد کړی یو، نو بیا پرې ټینګ اوسئ اؤ بیا غلامان مۀ جوړیږئ" ( ګلتیان **۵**: ۱ ).

مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۱۴

# په مونږ کښې د ایمان پیدا کولو د پاره اؤ د وفاداره کیدو د توفیق راکولو د پاره

*" اؤ بیا هغۀ ووئیل چې دا زما دَ وعدې وینه ده چې دَ ډیرو خلقو دَ پاره توئیږی " ( مرقوس ۱۴ : ۲۴ ).*

*" زۀ به د هغوئ سره یو ابدی لوظ وکړم . . . اؤ زۀ به هغوئ دې ته جوړ کړم چې د زړۀ د اخلاصه زما نه یره کوی، نو داسې هغوئ به هیڅ کله زما نه نۀ اوړی " ( یرمیاه ۳۲ : ۴۰ ).*

کلام پاک مونږ ته دلته د دوو لوظونو ښودنه کوی.: " زوړ لوظ نامه" اؤ " نوې لوظ نامه " "لوظ " اؤ یا لوظ نامه " د دوو جماعتونو تر مینځه د یو بل سره شوې وعدې طرف ته اشاره کوی. د وعدې کولو په وخت کښې دواړه اړخونه ( جماعتونه ) یو څو شرطونه په مینځ کښې ږدی اؤ قسم خوری پس له هغې نه هغوئ پابند شی. په کلام مقدس کښې د انسان سره چې د کومو لوظونو ذکر شوے دے، نو په هغې کښې خدائ پاک ړومبے شو. اؤ خدائ پاک شرطونه تړی. اؤ د دې شرطونو وروستو د خدائ پاک خپل مقصدونه وی.

" زوړ لوظ نامه " د دې وعدې حواله راکوی کومه چې خدائ پاک د بنی اسرائیلو سره د حضرت موسی په شریعت کښې کړې وه. اؤ د دې کمزوری دا وه چې دا به د روحانی بدلون سبب نۀ ګرځیدو. حالانکې په دې شریعت باندې به عمل نۀ کیدو نو هم په دې وجه باندې ابدی ژوندون حاصلولو کښې ناکامه وو. د دې لفظونه د زړۀ نه په روح باندې نۀ وو لیکلے شوی، بلکه په کاڼو باندې لیکلے شوی وو. پیغمبرانو د یو نوې لوظ نامې وعده کړې وه کومه چې به د هغې نه بدله وی. دا به د ( لفظونو ) سره نه بلکه د ( روح ) سره به ولیکلے شی. ". . . ځکه چې لیکلے شریعت وژل کوی خو روح ژوندے کوی " ( ۲ کورنتیان ۳ : ۶ ).

نوې لوظ نامه د زړې لوظ نامې نه ډیره اثرناکه ده. د دې بنیاد د مالک عیسیٰ مسیح په تکلیفونو اؤ په سولئ باندې دے. " مسیح دَ نوې وعدې مینځګړے دے " ( عبرانیان ۹ : ۱۵ ). مالک عیسیٰ مسیح وفرمائیل چې " دا زما دَ وعدې وینه ده چې دَ ډیرو خلقو دَ پاره توئیږی " ( مرقوس ۱۴: ۲۴ ). د دې مطلب دا دے چې د مالک عیسیٰ مسیح وینې د نوې لوظ واک اختیار اؤ وعدې په بیعه باندې واخستلې. دا ډیره زیاته فائده منده خبره ده اؤ هم د دې مقصد د پاره مالک عیسیٰ مسیح خپل ځان قربان کړو. نو بیا د لوظ هغه کومې خبرې دی چې د مالک عیسیٰ مسیح وینی هغه تر سره کړې؟ یرمیاه نبی په خپل کتاب کښې د یو څو خبرو ذکر کړے دے : " مالک خدائ وائی، . . . . زۀ به. . . . یو نوے لوظ وکړم . . . . زۀ به د هغوئ ګناهونه معاف کړم اؤ د هغوئ غلطیانې به نورې هېرې کړم. ما ، مالک خدائ دا وئیلی دی " ( یرمیاه ۳۱: ۳۱- ۳۴ ). د مالک عیسیٰ مسیح مرګ اؤ تکلیفونه د هغۀ د خلقو زړونه بدلوی ( د هغوئ په زړونو باندی شریعت لیکلے کیږی ) اؤ هغوئ ته د هغوئ د ګناهونو د معافئ ضمانت هم ورکوی.

د دې خبرې ضمانت ور کولو د پاره چې دا نوې لوظ نامه هیڅ کله به هم بې فائدې نۀ وی اؤ نۀ به بې کاره شی، مالک عیسیٰ مسیح خپلو خلقو کښې ایمان پیدا کولو اؤ د هغوئ وفاداری په یقینی طور جوړولو کښې اولنے قدم په خپله اخلی. اؤ هغه شریعت تش په کاڼی نۀ لیکی بلکه هغه شریعت په زړونو لیکی نو هم په دې وجه اوس نوې لوظ نامه وجود ته راغله. کلام پاک وائی چې په کاڼی لیکلی "لفظونه " برعکس "روح ژوندی کوی" ( ۲ کورنتیان ۳: ۶ ). " چې مونږ چې دَ ګناهونو په وجه مړۀ وو نو مونږ یې دَ مسیح سره بیا ژوندی کړو. تاسو په فضل خلاصون موندلے دے " ( افسیان ۲ : ۵ ). روحانی ژوندون مونږ ته دا موقع په لاس راکوی چې مونږ د مالک عیسیٰ مسیح جلال ووینو اؤ د هغۀ په لویئ اؤ په جلال باندې ایمان راوړو. دا معجزه د نوې لوظ نامې خلقو ته نوې ژوندون ورکوی. اؤ دا حقیقت اؤ یقینی خبره ده ځکه چې مالک عیسیٰ مسیح دوئ په خپله وینه باندې اخستلی دی.

اؤ معجزه صرف دا نۀ ده چې ګنې زمونږ صرف د ایمان پیدائش کیږی، بلکه دا مونږ د هغۀ سره وفاداره کوی هم، په دې معجزه کښې دا دواړه خبرې شاملې دی. " زۀ به د هغوئ

سره یو ابدی لوظ وکړم. . . . اؤ زۀ به هغوئ دې ته جوړ کړم چې د زړۀ د اخلاصه زما نه یره کوی، نو داسې هغوئ به هیڅ کله زما نه نۀ اؤړی " ( یرمیاه ۳۲: ۴۰ ). مالک عیسیٰ مسیح خپلې وینې توئیولو سره نۀ صرف د خپلو خلقو زړونه بدل کړل بلکه د هغوئ حفاظت یې هم یقینی کړو. د لوظ وینه د دې خبرې ضمانت ورکوی.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو: ۱۵

# زمونږ د پاکولو، د بې الزامه کولو اؤ د کامل کولو د پاره

*" ځکه چې هغه په یوې قربانئ پیش کولو هغوئ همیشه دَ پاره کامل کړی دی کوم چې پاک شوی دی" (عبرانیان ۱۰ : ۱۴).*

*" خو اوس دَ مسیح دَ جسمانی مرګ په وسیله خدائ تاسو سره پخلا شو چې هغه تاسو مقدس، بې عیبه اؤ بې الزامه په خپل مخکښې حاضر کړی" (کولوسیان ۱ : ۲۲).*

*" زړۀ خمبیره وباسئ ، ځانونه پاک کړئ چې تاسو تازه اخنبلی اوړۀ جوړ شئ ځکه چې تاسو بې خمبیرے یئ، ولې چې زمونږ هم دَ فسح ګډورے، یعنې دَ مسیح قربانی وشوه" (اول کورنتیان ۵: ۷).*

په مسیحی ژوند کښې د ټولو نه لوئ د زړۀ درد په بدلون کښې سُستی ده. مالک خدائ په کلام پاک کښې دا حکم کړے دے چې " تۀ دَ مالک دَ خپل خدائ سره دَ ټول زړۀ سره، دَ خپل ټول روح، دَ خپل ټول عقل اؤ دَ خپل ټول طاقت سره مینه کوه ( مرقوس ۱۲ : ۳۰ ). خو آیا مونږ په دې حکم باندې پوره پوره عمل کولے شو؟ آیا مونږ په مسلسل توګه باندې د پولوس رسول په شان په خپله ژبه دا چغې وهو، " هائ زۀ څومره غم زپلے سړے یم! نو هغه څوک دے چې ما به دَ مرګ دَ وجود نه راخلاص کړی؟" ( رومیان ۷: ۲۴ ).

څنګه چې مونږ د یوې نوې ارادې نیت کوو، نو غم سره دا وایو : " زۀ دا نۀ وایم چې ما وموندل یا کامل شوم، بلکه دَ هغه څیز دَ رانیولو دَ پاره په منډه یم دَ کوم دَ پاره چې زۀ مسیح عیسیٰ نیولے یم" ( فیلیپیان ۳: ۱۲ ).

دا ټکی چې " مالک عیسیٰ مسیح زۀ نیولے یم ( مالک عیسیٰ مسیح زۀ خپل کړے یم )" د صبر اؤ د خوشحالئ کونجی ده. اوس زما ټوله منډه، لټون، خواهش اؤ کوشش د دې د پاره نۀ دی چې زۀ د مسیح شم ( دا کار خو شوے دے )، بلکه د دې د پاره دی چې د هغۀ په شان کیدو کښې په ما کښې څۀ کمے دے هغه پوره کړم.

د عیسایت د خوشحالئ اؤ د ارادو پیژندلو د پاره د ټولو نه لویه وسیله دا ده چې زمونږ نیم ګړے ژوند یې د مالک عیسیٰ مسیح تکلیفونو اؤ د مرګ په وسیلې سره کامل کړو. " ځکه چې هغه په یوې قربانئ پیش کولو هغوئ همیشه دَ پاره کامل کړی دی کوم چې پاک شوی دی " ( عبرانیان ۱۰ : ۱۴ ). دا څومره عجیبه خبره ده ! په یو جمله کښې دا لیکلے شوی دی چې مونږ "پاک شوی یو" اؤ هغۀ مونږ د "همیشه د پاره کامل کړی یو".

مونږ " پاک شوی یو" د دې مطلب دا دے چې مونږ کامل نۀ یو اؤ د کامل کیدو په طرف باندې روان یو. مونږ ورسره ورسره پاکیږو، خو لا تر اوسه پورې مونږ په مکمل توګه باندې پاک شوی نۀ یو. اؤ بلکل مونږ هم هغه خلق یو څوک چې "د همیشه د پاره کامل کړے شوی دی. " د ټولو نه ښۀ اؤ د حوصلې ور کولو خبره دا ده چې د مالک خدائ په وړاندې زمونږ د کامل کیدو ثبوت دا نۀ دے چې ګنې مونږ په خپله د دې کار تجربه کړې ده، بلکه دا چې د کامل کیدو طرف ته د عمل تجربه مو کړې ده. د خوشحالئ خبره خو دا ده چې په سفر باندې تلل د دې حکم ثبوت دے چې مونږ رسیدلی یو.

په کتاب مقدس کښې دوباره د زړې خمبیرې په ژبه کښې یو تصویر ښودلے کیږی. تصویر کښې خمبیره د بدئ ښودنه کوی. اؤ مونږ خمبیره اوړۀ یو. لیکلے شوی دی چې " زړه خمبیره وباسئ ، ځانونه پاک کړئ چې تاسو تازه اخښلی اوړۀ جوړ شئ ځکه چې تاسو بې خمبیرے یئ، ولې چې زمونږ هم دَ فسح ګډورے، یعنې دَ مسیح قربانی وشوه " ( اول کورنتیان ۵ : ۷ ). اؤ عیسایان " تازه اخښلے شوی اوړۀ " دی. هغوئ د خمبیرې یعنی د بدئ نه پاک دی. مونږ کامل کړے شوی یو. نو هم په دې وجه باندې مونږ له " زړه خمبیره ویستل " پکار دی. مونږ په مالک عیسیٰ مسیح کښی تازه اخښلے شوی اوړۀ یو. اؤ داسې مونږ له په عملی ژوند کښې هم یعنې تازه اخښلې شوی اوړۀ جوړیدل دی. مونږ له هم هغه جوړیدل پکار دی څۀ چې مونږ یو.

د دې ټول هر څۀ بنیاد څۀ دے ؟ "ځکه چې زمونږ د پاره هم فسح یعنی د مالک عیسیٰ مسیح قربانی وشوه. " د مالک عیسیٰ مسیح دا تکلیفونه زمونږ کاملیت څومره مضبوط او محفوظ کوی. اوس مونږ د حقیقت په سانچه کښې اچولے شوی یو. اوس مونږ په خپله د کامل کیدو د پاره د ګناهونو خلاف جنګ نۀ کوو، د پاره د دې چې مونږ کامل یو. د مالک عیسیٰ مسیح مرګ هغه چابی ده د څۀ په وسیله چې مونږ د خپل کامل او مضبوط بنیاد په وجه باندې د خپل نیم ګړی ځان خلاف جنګ کولے شو.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو: ۱۲

# مونږ له د پاک زړۀ راکولو د پاره

*" نو بیا ولې دَ مسیح وینه له دې نه زیات څۀ ونۀ کړی! هغۀ دَ هغه روح په وسیله چې له ازل نه د ے دَ خپل ځان دَ یو بې عیبه قربانئ په طور دَ خدائ په مخکښې پیش کړو اؤ دَ هغۀ وینه به زمونږ زړونه دَ داسې کارونو نه پاک کړی"*

*( عبرانیان ۹ : ۱۴ )*

په ځنې ځیزونو کښې بدلون نۀ راځی. د ناپاکو زړونو مسئله هم دومره زیاته زړه ده لکه څومره چې حضرت آدم علیه السلام اؤ بې بې حوا زاړۀ دی. څنګه چې هغوئ ګناه وکړه نو د هغوئ زړونه ناپاک شول. د بدئ په باره کښې چې د هغوئ کوم احساس وو هغه بربادونکے وو. بدئ د دوئ تعلق د خدائ پاک سره ختم کړو. . . . هغوئ د خپل مالک خدائ نه پټیدل شروع کړل. دې د هغوئ نزدې تعلق تباه اؤ برباد کړو. . . . هغوئ یو بل باندې الزامونه لګول شروع کړل. . . . دې د هغوئ باطنی امن اؤ سکون غرق کړو. . . . هم د دې د پاره چې کله هغوئ ځان ته خیال وکړو نو په اول ځل باندې یې شرم محسوس کړو.

په ټوله زړه لوظ نامه کښې زړۀ د ناپاکئ مسئله ده. عن تر دې پورې چې د ځناورو قربانیانې هم په زړۀ صفا کولو کښې ناکامه پاتې شولې. " . . . . داسې نذرانې اؤ قربانئ ورکولے کیږی چې دَ عبادت کوونکو ضمیر پاک نۀ شی جوړولے. دَ هغوئ تعلق تش دَ خوراک څښاک اؤ دَ پاکیدو تر رسمونو پورې وو دا ظاهری قانون د ے اؤ تش تر هغه وخته پورې جاری کړے شوے وو. . . " ( عبرانیان ۹ : ۹ ، ۱۰ ). د ځناورو وینې به د مالک عیسیٰ مسیح یو جهلک ښودلو اؤ د خدائ پاک په نظر کښې دا وینه صرف د انسان د رسمی پاکوالی د پاره کافی وه، نۀ چې د هغۀ د زړۀ د پاکوالی د پاره.

د څناورو وینې د انسان زړهٔ نهٔ شو پاکولے. اؤ هغوئ ته د دې حقیقت معلومات هم وو. ( د یشعیاه **۵۳** باب ولولئ اؤ د زبور شریف **۵۱** باب ). اؤ مونږ هم د دې نه ښهٔ واقف یو. یو نوے سردار کاهن راځی، یعنی عیسیٰ د خدائ زوئ اؤ هغه به د ډیرو د پاره قربان شی. " نو بیا ولې دَ مسیح وینه له دې نه زیات څهٔ ونهٔ کړی! هغهٔ دَ هغه روح په وسیله چې له ازل نه دے خپل ځان دَ یو بې عیبه قربانئ په طور دَ خدائ په مخکښې پیش کړو اؤ دَ هغهٔ وینه به زمونږ زړونه دَ داسې کارونو نه پاک کړی چې دَ هغې اَنجام مرګ دے، چې مونږ دَ ژوندی خدائ عبادت وکړو " ( عبرانیان **۹ : ۱۴** ). د څناورو قربانو به د مالک عیسی مسیح د آخری قربانئ جهلک ښودلو، اؤ د مسیح قربانیدل د زړې زمانې د ټولو انسانانو د ګناهونو د پټولو د پاره هم دی اؤ د نوې زمانې د ټولو بندیانو د ګناهونو د پاره هم دی اؤ د راتلونکو نسلونو د پاره هم د ګناهونو پړده ده.

نن مونږ په یو نوی دور کښې اوسیږو، یعنی سائنسی دور، انټر نیټ، د اندامونو لګول، سمدستی پیغام رسیدلو، موبائیل فون اؤ د نوی سهولتونو په دور کښې . . . . اؤ زمونږ مسئله لاتر اوسه پورې هم هغه شان ده څنګه چې دا مخکښې وه، زمونږ زړونه مونږ قصوروار جوړوی. مونږ په زړهٔ کښې دا محسوسوو چې مونږ د خدائ پاک په وړاندې د ودریدو قابل نهٔ یو. دې سره هیڅ فرق نهٔ غورزیږی چې زمونږ زړهٔ څومره ګنده دے. زمونږ د پاره دا خبره رښتیا اؤ کافی ده چې مونږ د خدائ پاک په وړاندې د ودریدو قابل نهٔ یو.

مونږ چې هر څومره هم خپل ځان ته تکلیف ورسوو، قربانئ اؤ نذرانې پیش کړو، پاکو دریابونو کښې ولامبو، د مقدسو ځایونو زیارت وکړو، په لاکونو روپئ د خیرات د پاره خرچ کړو، اؤ د خدائ پاک په لاره کښې دیګونه پاخهٔ کړو اؤ هغه په نورو خلقو وویشو، کهٔ مونږ هر څهٔ هر څومره هم وکړو نو نتیجه به هم هغه وی. داغونه به په مونږ پراتهٔ وی اؤ مرګ به مونږ په خپله ویره کښې ساتی. مونږ ته معلومه ده چې زمونږ زړهٔ د ګناهونو نه ګنده دے. . . . .دا د بهرنو څیزونو په وجه نه، چې ګنې چا مړی له لاس وروړو یا یې د خنزیر غوښه وخوړه مالک عیسیٰ مسیح وفرمائیل داسې هیڅ څیز نشته چې اِنسان یې تیر کړی اؤ هغه پرې پلیت شی ( مرقوس ۷: **۱۵ – ۲۳** ). زمونږ دَ زړهٔ نه بد خیالونه راوځی، ، حرص، بدئ، ټګئ، بې شرمی، بد نظر، کفر، اؤ ویره دا ټول عملونه مونږ پلتوی ځکه چې د دې څیزونو

پیداوار ګناه ده. دا ټول څیزونه ناپاکه څیزونه دی. دې نه روحانی ژوند خالی د ے. دا نوی ژوندون سره تړون نۀ لری، بلکه د مرګ سره تړون لری اؤ د مرګ طرف ته مو بوځی. هم دا وجه ده چې زمونږ په زړۀ باندې خفګان وی. په زړې اؤ نوې زمانې دواړو کښې صرف هم یو جواب د ے اؤ هغه جواب د ے د مالک عیسیٰ مسیح وینه. کله چې زمونږ زړۀ بیدار شی اؤ مونږ ته مجرم ووائی نو مونږ د چا طرف ته خپله توجو ورکوو. مونږ مالک عیسیٰ مسیح له خپله توجو ورکوو. مونږ د مالک عیسیٰ مسیح تکلیفونو اؤ مرګ یعنې د هغۀ وینې له ځو. په پوره دنیا کښې صرف یوه وینه ده کومه چې دَ ژوند په دوران کښې زړۀ ته اطمینان اؤ د مرګ نه پس سکون ورکولے شی.

مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۱۷

# ټول ښۀ څيزونه کوم چې زمونږ دَ پاره ښۀ دی د هغې حاصلولو د پاره

*" هغۀ خو خپل زوئ هم پرې نۀ ښودو اؤ زمونږ ټولو دَ پاره يې قربان کړو، نو د دې بخښنې سره به نور ټول څيزونه رانۀ کړی څۀ؟ "*
*( روميان ۸: ۳۲ ).*

په دې آیت کښې زما دا خبرې ډیرې زیاتې خوښې دی. د دې د پاره نه چې ګنې دا په ما ښې لرې، بلکه د دې د پاره چې زما خپل ټول رښتینی ضرورتونه پوره کیدل خوښ دی. د رومیانو ۸ : ۳۲ آیت په دوو حصو باندې مشتمل دے اؤ په دواړو کښې د حیرانتیا خبره دا ده چې دوړاه یو بل سره تعلق لری. ممکنه ده چې دا تعلق مونږ ونۀ وینو ځکه چې دویمه حصه په یو سوال باندې مشتمله ده. " نو د دې بخښنې سره به نور ټول څیزونه رانۀ کړی څۀ ؟" کۀ چرې مونږ د سوال دا کرښه په ساده ټکو کښې بیان کړو نو بیا به مونږ دا حواله داسې لولو: " هغۀ خو خپل زوئ هم پرې نۀ ښودو اؤ زمونږ ټولو دَ پاره يې قربان کړو، نو د دې بخښنې سره به نور ټول څیزونه هم یقیناً راکوی.

دا لفظونه دواړو حصو کښې د موجود تعلق مقصد دویمې حصې سره په مستقله طور باندې یقینی جوړوی. چې خدائ پاک سخت کار سر ته ورسولو، یعنی خپل زوی يې پرې نۀ ښودو اؤ مرګ ته يې حواله کړو، نو بیا به د دې په نسبت باندې آسان کارونه ضرور کوی، یعنی د خپل زوئ سره به نور څیزونه هم راکړی. مونږ له د ټولو څیزونو راکولو وعده خدائ پاک کړې ده دا وعده دومره یقینی ده څومره چې د مالک عیسی مسیح قربانی. هغۀ خپل یک یو زوئ " زمونږ د ټولو په خاطر " قربان کړو. آیا د دې هر څۀ نه پس د هغۀ د رحم اؤ کرم سلسله بنده شوه څۀ؟ نه، مونږ خو دا سوچ هم نۀ شو کولے.

خو " نو د دې بخښنې سره به نور ټول ځيزونه رانۀ کړی څۀ " د دې نه مطلب څۀ دے؟ د دې مطلب د سکون نه ډک ژوند نۀ دے. اؤ د دې مطلب دا هم نۀ دے چې ګنې مونږ به د دښمنانو نه محفوظ يو. د دې پته مونږ ته د وړاندينو څلورو آيتونو نه لږی: "مونږ ټوله ورځ دَ مرګ سره ستا په خاطر مخامخ کيږو، اؤ مونږ سره دَ حلاليدونکو ګډو په شان سلوک کيږی " ( روميان ۸: ۳۶ ). نن هم مونږ عيسايان د دې قسمه حالاتو اؤ د تکليفونو سره مخامخ کيږو. کلام پاک مونږ نه دا پوښتنه کوی چې " نو بيا هغه کوم ځيز دے چې مونږ به دَ مسيح دَ مينې نه جدا کړی؟ آيا سختې يا مصيبتونه داسې کولے شی؟ آيا ظلم، زياتے، لوږه، بربنډتوب، خطرې يا توره داسې کولے شی؟ " ( روميان ۸ : ۳۵ ). نو جواب دے چې "هيڅ ځيز نه" په دې وجه نه چې ګنې د عيسايانو په ژوند کښې دا ځيزونه نۀ راځی، بلکه د دې د پاره چې " خو بيا هم د دې هر څۀ سره ښکاره کامله فتح بيا مومو دَ هغه چا په وسيله څوک چې مونږ سره مينه کوی!" ( روميان ۸ : ۳۷ ).

بيا د دې څۀ مطلب دے چې د مسيح د مرګ په وجه به خدائ پاک دې سره مونږ له نور ټول ځيزونه هم يقيناً راکوی؟ د دې نه مطلب دا دے چې هغه به مونږ له داسې ځيزونه راکوی کوم چې زمونږ د ټولو د ښې د پاره وی. هغه ټول ځيزونه کوم چې زمونږ مرسته کوی چې د هغۀ د زوئ په شان شو نو خدائ پاک به يې مونږ له راکوی. ( روميان ۸: ۲۹ ) هغه ټول ځيزونه کوم چې مونږ ته د ابدی ژوندون د پاره پکار دی.

هم داسې د کلام پاک يوه بله وعده هم ده : " زما خدائ به ستاسو هر حاجت دَ خپل بې پايانه دولت په مطابق دَ مسيح عيسیٰ په وسيله پوره کړی " ( فيليپيان ۴: ۱۹ ).

د دې وعدې وضاحت په تيرو شوو لفظونو کښې شوے دے " زۀ په غريبئ هم پوهيږم اؤ دَ مال په زياتوالی هم پوهيږم. کۀ زۀ وږے يم اؤ کۀ موړ، کۀ زۀ غريب يم اؤ کۀ مالدار، په ټولو حالوتو کښې د قناعت راز مې زده کړے دے. مسيح چې ما ته توان راکوی په هغۀ کښې زۀ هر څۀ کولے شم " ( فيليپيان ۴: ۱۲ ، ۱۳ ).

ليکلے شوی دی چې مونږ په مسيح کښې " هر څۀ " کولے شو. خو غور وکړئ، په هر څۀ کښې "نهر وسيدل" اؤ "توان" هم شامل دے. خدائ پاک به زمونږ هر يو حقيقی ضرورت پوره

کوی، عن تر دې پورې چې هغه به زمونږ په لوږه تنده کښې هم په مونږ باندې رحم اؤ فضل کوی اؤ زمونږ ضرورتونه به پوره کوی، خو هغه به زمونږ د خوښې د خوراک خواهش نۀ پوره کوی. د مالک عيسیٰ مسيح تکليفونه اؤ مرګ به د دې خبرې ضمانت ورکوی چې خدائ پاک به زمونږ د ضرورت ټول څيزونه مونږ له راکوی کوم چې د هغۀ د مرضئ پوره کولو، هغۀ له جلال ورکولو اؤ ابدی خوشحالئ حاصلولو د پاره پکار دی.

مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو: ۱۸

# مونږ له د اخلاقی اؤ د جسمانی بیمارو نه د شفا ورکولو د پاره

*"خو زمونږ د ګناه په وجه هغه زخمی شو، مونږ چې کوم بد عمل کړے وو د هغې په وجه هغه ووهلے شو"*
*( یشعیا ۵۳: ۵ ).*

*" هغۀ ( عیسیٰ ) دَ هغوئ نه په یو حکم پیریان وشړل اؤ ټول رنځوران یې جوړ کړل، چې دغه رنګ دَ یشعیاه نبی په وسیله وئیلے شوې دا پیشن ګوئی پوره شی چې: هغۀ زمونږ رنځونه اؤ کمزورئ اوچتې کړې."*
*( متی ۸: ۱۶، ۱۷ ).*

مالک عیسیٰ مسیح د دې د پاره تکلیفونه وزغمل اؤ خپل ځان یې قربان کړو چې یوه ورځ به رنځونه اؤ بیمارئ په مکمل طور ختم شی. بیماری اؤ مرګ د دنیا د پاره د خدائ پاک په اصلی منصوبه کښې شامل نۀ وو. دا دنیا ته د ګناه په وسیله راغلل. دا د یو سزا په طور باندې د خدائ پاک له طرفه په انسانانو باندې راغلل. اؤ هم د عدالت یوه حصه ده. په کلام مقدس کښې لیکلے شوی دی چې " ځکه چې مخلوقات دَ فنا تابع کړے شول، نۀ دَ هغوئ په رضا بلکه دَ خدائ په رضا، خو دا یې اُمید وو " ( رومیان ۸: ۲۰ ). خدائ پاک دنیا د جسمانی تکلیف اؤ د درد د اختیار لاندې کړه د پاره د دې چې د بد اخلاقئ خراب شکل مونږ ته وښائی.

په دې بدئ کښې مرګ هم شامل دے. " دَ یو سړی په وسیله ګناه دنیا ته راغله اؤ دَ ګناه په وسیله مرګ. . . . " ( رومیان ۵ : ۱۲ ). په دې کښې بیماری اؤ درد هم شامل دے. اؤ عیسایان هم د دې نه جدا نۀ دی : " یواځې مخلوقات نه بلکه مونږ هم، چا ته چې روح دَ وړومبئ میوې په څیر ورکړے شوے دے چې په خپل باطن کښې ناقلاره یو اؤ مونږ په دې

اِنتظار کښې یو چې خدائ مونږ په خپل زوئ والی کښې واخلی اؤ زمونږ ټول وجود آزاد کَړی." ( رومیان ۸ : ۲۳ ).

خو د بیمارئ دا ټول مصیبت اؤ دا تکلیفونه د څۀ وخت د پاره وی. خو مونږ د یو داسې وخت په انتظار یو چې کله به زمونږ د درد اؤ تکلیف خاتمه وشی. ځکه چې مخلوقات د فنا تابع کړے شول خو دا به تر تله پورې نۀ وی. بائبل مقدس مونږ ته وائی چې د عدالت په شروع کښې خدائ پاک د اُمید ورکولو منصوبه جوړه کړه. د هغۀ آخری مقصد دا وو : " چې مخلوقات به یوه ورځ دَ فنا کیدو نه آزاد شی اؤ دَ خدائ دَ بچو دَ جلال په آزادئ کښې به شامل شی" ( رومیان ۸ : ۲۱ ).

مالک عیسیٰ مسیح دې دنیا له دَ خلاصون اؤ دَ آزادئ ورکولو دَ مقصد دَ پاره راغلے وو. په دې زمکه باندې د خپل ژوند په دوران کښې هغۀ خپل مقصدونه څرګند کړل اؤ ډیرو بیمارانو له یې شفا ورکړه. څو څو ځله خو به د خلقو ګڼه را جمع شوه اؤ مالک عیسیٰ مسیح به " ټولو بیمارانو له شفا ورکوله " ( متی ۲ : ۱۲، لوقا ۲ : ۱۹ ). څۀ چې د تاریخ په آخر کښې راتلونکی دی دا دَ هغې یو څرګندونه وه، کله چې " هغه به دَ هغوئ دَ سترګو ټولې اوښکې وچې کړی، هلته به نۀ مرګ،نۀ ویره، نۀ ژړا اؤ نۀ دَرد وی " ( مکاشفه ۲۱ : ۴ ).

مالک عیسیٰ مسیح مرګ اؤ بیمارئ له داسې ماتے ورکړو چې دا یې په خپل ځان واخستل اؤ قبر ته یې یوړل. مالک عیسیٰ مسیح غم وزغملو اؤ خپل ځان یې قربان کړو اؤ هغه سزا یې برداشت کړه کومه چې خدائ پاک ګناه له ورکړې وه هغه ګناه کومه چې د بیماریانو سبب جوړه شوې وه. یشعیاه نبی د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ وضاحت په دې لفظونو کښې کړے وو " خو زمونږ د ګناه په وجه هغه زخمی شو، مونږ چې کوم بد عمل کړے وو د هغې په وجه هغه ووهلے شو. هغۀ له چې کومه سزا ورکړے شوه نو د هغې په وجه مونږ ته شفا ملاؤ شوه" ( یشعیاه ۵۳ : ۳- ۵ ). مالک عیسیٰ مسیح چې کومې کوړې وخوړلې د هغه زخمونو په وجه بیماریانې اؤ درد د دنیا نه په بیعه باندې واخستلے شو.

یوه ورځ راتلونکې ده کله چې به د خدائ پاک په بیعه اخستے شوے مخلوق د هر قسم بیمارئ نه پاک کړے شی. نو بیا به نوې زمکه وی. زمونږ به نوې بدن وی مرګ به د نوی

ژوندون نوږئ جوړه شی. ( اول کورنتیان ۱۵ : ۴- ۵، دویم کورنتیان ۵ : ۴ ). هغه وخت " شرمخان اؤ ګډېږ به یو ځائ خوراک کوی؛ ازمری به د څاروو په شان بوس خوری " ( یشعیاه ۲۵ : ۲۵ ). اؤ هغوئ چې ټول د مالک عیسیٰ مسیح سره مینه لری هغوئ به د ګډوری شکر ادا کوی اؤ د هغهٔ ګیتونه به وائی څوک چې زمونږ د ګناه د پاره قربان شو اؤ مونږ یې د مرګ اؤ د بیماریانو نه آزاد کړو.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو: ۱۹

# ځوک چې په هغهٔ باندې ایمان لری هغوئ له د ابدی ژوند ور کولو د پاره

*" خدائ دَ دې دنیا سره داسې مینه وکړله چې خپل یک یو زوئ یې هم ورکړو چې هر هغه ځوک چې په زوئ یې ایمان راؤړی هغه هلاک نهٔ شی خو دَ تل عمری ژوندون بیا مومی"*
*( یوحنا ۳ : ۱۶ ).*

مونږ د ژوندون په خوشحاله وخت کښې د خپل ځان د پاره مرګ نهٔ غواړو. د مرګ خواهش صرف هغه وخت زمونږ زړهٔ ته راځی کله چې زمونږ خپل ژوند ډیر د درد اؤ د مصیبت د برداشت نه بهر وی. په حقیقت کښې هغه وخت هم مونږ مرګ نهٔ غواړو، بلکه سکون غواړو اؤ د غم اؤ د درد نه خلاصون غواړو. زمونږ دا خواهش وی چې ښهٔ اؤ ښکلې ورځې زمونږ په ژوند کښې واپس راشی. مونږ غواړو چې غم اؤ درد ختم شی. مونږ د ژوندون اؤ د خوشحالئ طمع کوو.

کله چې مونږ مرګ دَ خپل تیر شوی ژوند دَ پاره یو لوړه درجه ګڼو نو دا مونږ خپل ځان له دوکه ورکوؤ. ځکه چې مرګ زمونږ دښمن دے. دا مونږ د دنیا د خوشحالو نه جدا کوی. مونږ د مرګ غم کمولو د پاره دې له ښهٔ ښهٔ نومونه ورکوؤ. د بنی آدم د زړهٔ خو دا خواهش وی چې هغه ټول عمر ژوندے اؤ خوشحاله اوسی.

خدائ پاک بنی آدم په دې ډول باندې جوړ کړے دے چې " هغهٔ ابدیت له د هغوئ په زړونو کښې ځائ جوړ کړے دے. . . . " ( واعظ ۳ : ۱۱ ). مونږ د مالک خدائ پاک په صورت باندې جوړ شوی یو. اؤ مالک خدائ ژوندون اؤ د تل ژوندون خوښوی. مونږه تر ابده پورې د ژوندی اوسیدلو د پاره پیدا کړے شوی وو اؤ مونږ به تر ابده پورې اوسیږو هم. د

ابدی ژوندون اُلټه د وجود ختميدل نۀ دی بلکه دوزخ دے. مالک عیسیٰ مسیح د جهنم په باره کښې د ټولو پيغمبرانو نه زياتې خبرې وکړې اؤ دا خبره يې واضحه کړه چې هغه چې کوم ابدی ژوند ورکوی نو د دې د رد کولو نتيجه صرف مرګ نۀ دے، بلکه د خدائ پاک د غضب درد اؤ تکليف زغمل دی. " ځوک چې په زوئ ايمان راؤړی نو هغه دَ تل ژوندون لری، خو ځوک چې دَ زوئ نافرمانی وکړی هغه به دا ژوندون ونۀ وينی ليکن دَ خدائ غضب په هغۀ دے " ( يوحنا ۳ : ۳۶ ).

اؤ د خدائ پاک دا غضب هيڅ کله د ختميدو والا نۀ دے. مالک عيسیٰ مسيح وفرمائيل " اؤ هغوئ به تل عمری عذاب ته لاړ شی، خو صادِقان به دَ تل ژوندون بيا مومی " ( متی ۲۵ : ۴۶ ). دا يو نۀ بيانيدونکے حقيقت دے چې د دې دومره خرابې بدئ ښکارنه کوی چې مونږ مالک خدائ له هغه مقام نۀ ورکوو د کوم چې خدائ پاک حقدار دے، بلکه مونږ د هغۀ د حق نه خپل مخ اړوو. د دې د پاره مالک عيسیٰ مسيح مونږ ته ښودنه کوی چې " که ستا سترګه تا له تيندک در کړی نو وې باسه. دا ستا دَ پاره غوره ده چې دَ خدائ په بادشاهئ کښې په يوه سترګه داخل شې، نه دا چې دواړه سترګې لرې اؤ دوزخ دې ځائ شی، چرته چې رغړيدونکی چينجی چرې نۀ مری اؤ اور يې تل تر تله لمبې وهی " ( مرقوس ۹ : ۴۷، ۴۸ ).

پس ابدی ژوندون په دې دنياوی ژوندون کښې کوم چې د غمونو اؤ خوشحالو مجموعه ده ، صرف اضافه کول نۀ دی. لکه څنګه چې دوزخ دَ دې ژوند يو خرابه نتيجه ده، نو داسې " ابدی ژوندون" هم ډيره ښۀ نتيجه ده. ابدی ژوندون د ډير ښۀ اؤ د تل زياتيدونکې خوشحالئ نوم دے، د کوم ژوندون نه چې به ګناه اؤ خفګان لرې کړې شی. د ګناه نه لرِلے شوے مخلوق به د هر قسم بدئ اؤ د نقصان رسوونکو څيزونو نه بلکل پاک کړے شی. هر هغه څۀ چې ښۀ دی يعنی څۀ چې رښتينی اؤ د تل د خوشحالئ سبب ګرځی هغه به زيات کړے شی.

مونږ به بدل شو د پاره د دې چې مونږ د هغه خوشحالئ نه د مزې اخستلو د پاره جوګه شو کومه چې په دې ژوندون کښې زمونږ د پاره د تصور کولو نه هم بهر دی. " څۀ چې نۀ سترګو ليدلی، نۀ غوږونو آؤريدلی اؤ نۀ دَ اِنسان په زړۀ کښې راغلی دی هغه څيزونه خدائ

دَ هغوئ دَ پاره چې ورسره مینه لری، تیار کړی دی " ( اول کورنتیان ۲ : ۹ ). دا خبره اوس اؤ د تل د پاره رښتیا ده، ځکه چې څوک په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان لری نو هغه ښهٔ څیزونه اوس هم د هغوئ منتظر دی. مونږ به د مالک خدائ پاک د اطمینان نه ډک جلال ووینو. " دا تل عمری ژوندون دے چې تا وپیژنی چې تهٔ یواځې رښتینے خدائ یې اؤ عیسیٰ مسیح چې تا را استولے دے " ( یوحنا ۱۷ : ۳ ). مالک عیسیٰ مسیح هم د دې د پاره مصیبتونه وزغمل اؤ خپل ځان یې قربان کړو. مونږ ولې دا بخښنه په خپل ژوندون کښې نهٔ قبلوو؟

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو: ۲۰

# مونږ له د دې موجوده بدې زمانې نه د خلاصون ورکولو د پاره

*" چا چې (عیسیٰ مسیح) زمونږ دَ ګناهونو دَ پاره خپل ځان قربان کړو چې مونږ دَ دې موجوده بدې زمانې نه بچ کړی، لکه چې زمونږ دَ خدائ او پلار رضا ده" (ګلتیان ۱ : ۴).*

تر کومې پورې چې مونږ مړۀ شوی نۀ یو یا تر کومې چې د مالک عیسیٰ مسیح بادشاهی دې دنیا باندې بیا راغلې نۀ وی نو تر هغه وخته پورې به مونږ په "دې موجوده بده زمانه" کښې اوسیږو. کله چې کتاب مقدس مونږ ته دا ښودنه کوی چې مالک عیسیٰ مسیح خپل ځان ورکړو" د پاره د دې چې مونږ د دې بدې زمانې نه بچ کړی" نو د دې دا مطلب نه د ے چې ګنې هغه به مونږ د دې دنیا نه وباسی، بلکه د دې مطلب دا د ے چې هغه به مونږ د دې دنیا د خراب قوت نه خلاص کړی. مالک عیسیٰ مسیح زمونږ د پاره دعا وکړه " زۀ ستا نه دا دعا نۀ کوم چې دوئ دَ دې دنیا نه وباسې خو دَ شریر نه حفاظت ورکړے " (یوحنا ۱۷ : ۱۵).

مالک عیسیٰ مسیح زمونږ د پاره د " شریر نه د حفاظت " دعا کوی د پاره د دې چې " دا موجوده خرابه زمانه " هغه زمانه ده چې په کومه کښې شیطان ته دا طاقت حاصل د ے چې مونږ له دهوکه راکړی اؤ مونږ تباه اؤ برباد کړی. په بائبل مقدس کښې لیکلے شوی دی، " ټوله دنیا دَ شریر په قبضه کښې ده " (اول یوحنا ۵ : ۱۹). دې " شریر " ته د دې دنیا خدائ (سردار) هم وئیلے شی، اؤ د هغۀ کار د دنیا خلق ړندول دی چې هغوئ د خدائ پاک حقیقت ونۀ ګوری. " . . . . هغه به ایمان نۀ راوړی ځکه چې دَ دې بدې دنیا سردار یعنې شیطان دَ هغوئ عقل ړوند کړے د ے، دَ دې دَ پاره چې مسیح څوک چې دَ خدائ په شکل د ے، دَ هغۀ دَ جلال دَ زیری رڼا په هغوئ ونۀ ځلیږی" (دویم کورنتیان ۴ : ۴).

ترکومې پورې چې مونږ د خپل هغه روحانی حالت نه نۀ یو راوتلی کوم چې د تیارو نه ډک دے ، نو تر هغې پورې مونږ " د دې خرابې زمانې " اؤ د دې د سردار د حکم لاندې یو " تاسو دَ دې دنیا په کړو لارو روان وئ، اؤ دَ هوا دَ عمل دارئ دَ حاکِم، یعنې دَ هغه روح پسې تللئ کوم چې اوس په نافرمانو بچو کښې اثر کوی " ( افسیان ۲ : ۲ ). دا خبره زمونږ په علم کښې نۀ وه چې ګنې د شیطان هم خادمان اؤ پیروکار شته دے. څۀ چې مونږ آزادی ګڼو، هغه په اصل کښې قید وو. کتاب مقدس مونږ ته د یویشتمې صدئ د فیشن ، د مستئ اؤ د خرابو عادتونو په باره کښې دا وائی چې " هغوئ خو دَ خلقو سره دَ آزادئ لوظ کوی اؤ په خپله دَ خرابئ غلامان جوړ شوی دی، ځکه چې کوم سړے چې دَ چا نه معلوب وی، هغه دَ هغۀ غلام دے " ( دویم پطروس ۲ : ۱۹ ).

د آزادئ په باره کښې د خدائ پاک کلام مونږ ته ډیر په واضحه طور باندې وعظ کوی چې "خپل ځان د دې موجوده دنیا په شان مۀ جوړوئ، بلکه بویه چې ستاسو پوهه بیا نوې کړے شی اؤ د دې په وسیله ستاسو فطرت بلکل بدل شی. . . . ." ( رومیان ۱۲ : ۲ ). د دې مطلب په نورو ټکو کښې دا دے چې آزاد شئ! د دې جهان د پیرانو اؤ د روحانی مشرانو په دهوکه کښې را نۀ شو. هغوئ نن شته دے صبا به نۀ وی. غلامان جوړولو والا د یو فیشن په ځائ دویم فیشن خپل کړی.

د خدائ پاک په نظر کښې د دې دنیا حکمت بې وقوفی ده. " هیڅوک دې خپل ځان ونۀ غلوی. کۀ څوک په تاسو کښې په دې جهان ځان حکیم ګڼی نو ځان دې ناپوهه کړی چې حکیم شی. ځکه چې دَ دنیا حکمت دَ خدائ په نزد بې وقوفی ده، لکه چې لیکلی دی چې: هغه حکیمان دَ هغوئ په چالاکئ راګیروی." ( اول کورنتیان ۳ : ۱۸ ، ۱۹ ).

" ځکه چې دَ سولئ پیغام دَ هلاکیدونکو په نِزد بې وقوفی ده خو زمونږ دَ نجات موندونکو په نِزد دَ خدائ قدرت دے " ( اول کورنتیان ۱ : ۱۸ ). نو بیا په دې دنیا کښې د خدائ پاک حکمت څۀ دے؟ دا دے د نجات ورکوونکی مالک عیسیٰ مسیح مرګ. د مالک عیسیٰ مسیح اولنو مریدانو به دا وئیل چې " مونږ په سولئ شوی د مسیح زیرے ورکوو. . . . دَ هغوئ په نِزد مسیح دَ خدائ قدرت اؤ دَ خدائ حکمت دے " ( اول کورنتیان ۱ : ۲۳ ، ۲۴ ). د مالک عیسیٰ مسیح د سولئ مرګ په لکونو خلق د قید

نه آزاد کړل. هغۀ د شرير د دهوکې نه پړده لرې کړه اؤ د هغۀ طاقت يې ختم کړو. د سولئ کيدو نه وړاندې هغۀ وفرمائيل اؤ د هغۀ د دې خبرې نه دا مطلب وو " اوس دَ دې دنيا دَ پاره دَ عدالت وخت د ے اؤ دَ دې دنيا سردار به بهر وويستلے شی " ( يوحنا ۱۲ : ۳۱ ). چا ته چې شکست ور کړے شوے د ے د هغۀ پيروی مۀ کوئ. مالک عيسیٰ مسيح پسې ځئ ، بې شکه د دې د پاره قيمت ور کړئ. په دې دنيا کښې به ستاسو حيثيت د مسافرو په شان وی. خو تاسو به آزاد کړے شئ.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۲۱

# د مالک خدایٔ پاک سره زمونږ د صلح اؤ د بیا ملاویدو د پاره

*" ځکه چې سره د دې چې مونږ دَ خدایٔ دښمنان وو نو مونږ دَ هغۀ دَ زویٔ دَ مرګ په وسیله ورسره پخلا شو اؤ د دې نه زیات دَ هغۀ دَ زویٔ دَ ژوند په وسیله به بچ شو!"* ( رومیان ۵ : ۱۰ ).

د ګناه ګار انسان اؤ د خدایٔ پاک تر مینځه د صلح اؤ د بیا ملاویدو ضرورت دے اؤ د دې عمل د پاره د دواړو طرفونو نه قدم اوچتولے کیږی. زمونږ د پاره لاژمی ده چې د خدایٔ پاک په وړاندې په خپل عمل کښې بدلون راولو اؤ د هغۀ نافرمانی ونۀ کړو بلکه د خدایٔ پاک فرمانبرداری وکړو. اؤ دا هم ضروری ده چې خدایٔ پاک په مونږ باندې دَ خپل غضب په ځائې باندې رحم را نازل کړی. خو دا دواړه قدمونه یو شان نۀ دی. د بدلون د پاره ما ته د خدایٔ پاک ضرورت دے، خو خدایٔ پاک ته زما هیڅ ضرورت نشته دے. زما بدلون به د بهر نه په ما کښې راځی، خو د خدایٔ پاک بدلون د هغۀ د ذات اؤ د فطرت نه دے. د دې مطلب دا شو چې خدایٔ پاک کښې هیڅ کله هم بدلون نۀ راځی. خدایٔ پاک د خپل دې عمل د پاره یوه منصوبه جوړه کړې ده چې هغه زمونږ مخالفت ختم کړی اؤ زمونږ مرستیال جوړ شی.

دا لفظونه ډیر مهم دی " د دې خبرې په باوجود چې په دغه دوران خدایٔ پاک زمونږ دښمن وو " نو مونږ دَ هغۀ دَ زویٔ دَ مرګ په وسیله ورسره پخلا شو " ( رومیان ۵ : ۱۰ ). غور وکړئ کله چې مونږ دښمنان وو. د دې لفظونو نه دا واضحه کیږی چې اولنے بدلون خدایٔ پاک راوستو نه چې مونږ. خو لاتر اوسه پورې مونږ د هغۀ دښمنان وو. د دې د پاره نه چې مونږ قصداً د جنګ په لاره تلو. اکثر خلقو ته د دې خبرې احساس نۀ وی چې هغوئ د خدایٔ پاک دښمنان دی. دا دښمنی هغه وخت راڅرګندیږی کله چې مونږ نافرمانی کوو اؤ د هغۀ

سره تعلق نۀ لرو. کتاب مقدس د دې بیان څۀ په داسې طریقې کوی، " ځکه چې انسانی فطرت لرونکے دَ خدائ سره دښمنی کوی اؤ دا دَ خدائ دَ شریعت تابعداری نۀ ده اؤ نۀ کیدے شی " ( رومیان ۸ : ۷ ).

کله چې مونږ دښمنان وو، نو هغه وخت خدائ پاک مونږ له مالک عیسیٰ مسیح راکړو د پاره د دې چې زمونږ د ګناهونو سزا په خپل ځان باندې اوچته کړی اؤ دغه شان دا خبره ممکنه شوه چې زمونږ خالق مونږ سره صرف د رحم سلوک وکړی. کله چې خدائ پاک زمونږ سره صلح کوله نو د هغۀ اول کار دا وو چې هغه خنډ لرې کړی کوم چې زمونږ تر مینځه وو اؤ هغه خنډ زمونږ ګناه وه کومې چې د خدائ پاک بې عزتی کوله. " . . . . چې خدائ دَ مسیح په وسیله دنیا دَ خپل ځان سره پخلا کوله اؤ دَ هغوئ ګناهونه یې دَ هغوئ په ذمه وا نۀ چول. " ( دویم کورنتیان ۵ : ۱۹ ).

کله چې دَ مالک عیسیٰ مسیح استازی یا منونکی دا پیغام دنیا له وررکوی نو هغوئ وائی چې " . . . . .مونږ دَ مسیح دَ طرف نه منت کوو چې دَ خدائ سره پخلا شئ " ( دویم کورنتیان ۵ : ۲۰ ). آیا د دې مطلب صرف دا دے څۀ چې په خپله رویه کښې د خدائ پاک سره بدلون راولو؟ نه، د دوئ مطلب دا هم دے چې د خدائ پاک هغه کار قبول کړو کوم چې هغۀ تاسو سره پخلا کیدو د پاره په مسیح کښې د اول نه کړے وو. د خلقو په مینځ کښې د صلح کیدو په دې مثال باندې غور وکړئ. مالک عیسیٰ مسیح وفرمائیل " که چرې تاسو دَ قربانئ ځائ ته څۀ شے راوړئ اؤ درته را یاد شی چې ستا ورور په څۀ خبره درنه خفه دے، نو خپله قربانی په هغه ځائ پریږده، لاړ شه، اول خپل ورور پخلا کړه اؤ بیا راشه اؤ خپل نذر وړاندې کړه " ( متی ۵ : ۲۳ ، ۲۴ ). کله چې مالک عیسیٰ مسیح فرمائی چې " لاړ شه اول خپل ورور پخلا کړه" دا خبره په زړۀ کښې واچوئ چې هغه ورور له پکار دی چې هغه د خپل ورور خلاف عدالت ختم کړی . ورور ستا نه "ګیله مند " دے لکه څنګه چې خدائ پاک د ستاسو نه ګیله مند دے. " خپل ورور سره پخلا کیدو " نه مطلب دا دے چې تۀ هغه عمل اول وکړې کوم چې تا له لازمی کول پکار دی د پاره د دې چې ستا د ورور خلاف ستا عدالت یا جنګ ختم شی.

خو کله چې مونږ د انجیل شریف تلاوت کوو نو مونږ ته معلومیږی چې خدائ پاک دا کار د اول نه کړے دے، یعنی زمونږ خلاف د هغۀ د عدالت ختمولو د پاره کوم کار چې مونږ په خپله نۀ شو کولے نو هغۀ زمونږ د پاره هغه په خپله وکړو. هغۀ عیسیٰ مسیح راواستلو چې زمونږ په ځائ باندې زمونږ ګناهونه واخلی. کله چې مونږ لا دښمنان وو نو هغۀ پخلا کړو. د پخلا کیدو د پاره زمونږ د طرف نه اولنے کار دا دے چې صرف دا قدم اوچت کړو چې څۀ زمونږ د پاره خدائ پاک کړی دی نو هغه دې مونږ د یو قیمتی تحفی په طور باندې قبول کړو.

# مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو: ۲۲

## د دې د پاره چې مونږ خدائ پاک ته ورسوی

*" مسیح ستاسو دَ گناهونو دَ خاطره یو ځل همیشه دَ پاره مړ شو، یعنې صادقِ دَ گناه گارانو دَ پاره، دَ دې دَ پاره چې مونږ خدائ ته ورسوی " (اول پطروس ۳ : ۱۸ ).*

*" خو تاسو چې اول لرې وئ اؤ دَ مسیح په یو والی کښې دَ مسیح دَ وینې په وسیله نزدې شوئ " (افسیان ۲ : ۱۳ )*

د ټولو خبرو خلاصه دا ده چې خدائ پاک هم انجیل دے. د انجیل مطلب دے " زیرے ". عیسائیت د خدائ پاک اولنے الٰهی علم نهٔ دے ، بلکه زیرے دے. د دې مثال د هغه جنگی قیدیانو په شان دے کوم چې په خفیه ریډیو باندې اوری چې وائی اتحادی فوجیان زمکې ته رارسیدلی دی اؤ زر به مونږ آزاد کړی. اؤ هغه څوکیداران چې پرې مقرر کړے شوی وو حیران وو چې دا قیدیان ولې دومره خوشحاله دی.

خو د زیری آخری ښهٔ والے څهٔ دے؟ د دې ټولو خلاصه دا ده : خدائ پاک په خپله. د انجیل شریف ټولې خبرې د هغهٔ طرف ته زمونږ رهنمائی کوی، د مثال په طور باندې خلاصون زیرے نهٔ دے بې شکه چې دا مونږ صرف د دوزخ نه بچ کوی، خو دا خلاصون مونږ خدائ پاک ته نهٔ رسوی. معافی زیرے نهٔ دے بې شکه چې دا مونږ له د گناه نه خلاصون راکوی، خو دا هم مونږ ته هغه دروازه نهٔ خلاصوی کومه چې مونږ خدائ پاک ته رسوی. صادق ثابت کیدل هم زیرے نهٔ دے بې شکه چې دا مونږ صرف په قانونی طور باندې د خدائ پاک په نظر کښې د قبلیدو قابل جوړوی، خو دا هم زمونږه د خدائ پاک سره تعلق نهٔ بحال کوی. آزادی هم زیرے نهٔ دے بې شکه چې دا مونږ د یو قید نه آزادوی، خو دا هم مونږ خدائ پاک له نهٔ ورولی. خپلول یعنی د خدائ پاک بچی جوړیدل هم زیرے نهٔ دے

بې شکه چې دا مونږ د خدائ پاک د کورنئ حصه جوړوی خو دا هم مونږ د خدائ پاک لاسونو کښې نۀ ورکوی.

دا حکم ډیر زیات مهم دے. ډیر خلق داسې دی چې د خدائ پاک کلام یې سینې سره نیولے وی خو خدائ پاک سره یو والے نۀ لری. کۀ زمونږ د زړۀ صرف دا یو خواهش وی چې مونږ به د دوزخ نه بچ شو نو دا د دې خبرې پوخ ثبوت دے چې مونږ د نوی زړۀ مالکان نۀ یو. دا خو په پوره توګه باندې زمونږ فطری خواهش دے، نۀ چې د خدائ . کۀ مونږ ته د معافئ په نتیجه کښې ملاؤ شوے نفسیاتی سکون، د خدائ پاک د غضب ختمیدل، یا د خدائ پاک د بادشاهئ وارث جوړیدل غواړو نو د دې هر یو څیز د پاره مونږ ته د نوی زړۀ ضرورت نشته دے. دا ټولې خبرې زمونږ د روحانی بدلون نه علاوه هم زمونږ په پوهه کښې راتلے شی. تاسو ته د دې څیزونو د پاره د نوی پیدا ایښت څۀ ضرورت نشته دے. د دې ټولو څیزونو خواهش خو شیطانانو هم کولو.

د دې خواهش لرل بده خبره نۀ ده. په حقیقت کښې د دې خواهش نۀ لرل زمونږ بې وقوفی ده. اؤ د دې خبرې ثبوت دا دے چې مونږ بدل شوی یو نو د دې هر څۀ خواهش مونږ د دې د پاره کوو چې مونږ د خدائ پاک په حضورئ کښې د دې هر څۀ نه مزه واخلو. د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ د پاره د ټولو نه لویه وجه هم دا وه. " مسیح ستاسو دَ ګناهونو دَ خاطره یو ځل همیشه دَ پاره مړ شو، یعنې صادِق دَ ګناه ګارانو دَ پاره، دَ دې دَ پاره چې مونږ خدائ ته ورسوی " ( اول پطروس ۳ : ۱۸ ).

دا د زیری خلاصه ولې ده؟ د دې د پاره چې مونږ د دې د پاره پیدا کړے شو چې مونږ د کاملې اؤ د نۀ ختمیدونکې خوشحالئ تجربه وکړو کومه خوشحالی چې مونږ د خدائ پاک د جلال په لیدو سره په زړۀ کښې حاصلوو. کۀ مونږ ته داسې خوشحالی په بل یو څیز کښې ملاویدے شی نو بیا مونږ بت پرسته یو اؤ د خدائ پاک د بې عزتئ سبب جوړیږو. هغۀ مونږ ټول په دې طریقه باندې جوړ کړی یو چې زمونږ د خوشحالئ نه د هغۀ د جلال ځرګندونه وشی. د مالک عیسیٰ مسیح انجیل د دې خبرې زیرے دے چې خدائ پاک د خپل زوئ د مرګ په وسیلې سره دا ممکن کړل چې مونږ د ابدی خوشحالئ نه مزه واخلو، اؤ هغه دے د هغۀ خپل ذات.

د مالک عیسیٰ مسیح دې دنیا ته د راتګ نه ډیره موده وړاندې ، مالک خدائ خپل ځان د کاملې اؤ د خوشحالئ ذریعې په طور باندې پیش کړو. " تا ما ته د ژوند لاره ښودلې ده. ستا په خپل حضور کښې دا کامله خوشحالی ده، اؤ ستا ښی لاس ته د همېشه خوشحالی ده ( زبور ۱۶ : ۱۱ ). پس د دې نه بیا هغۀ مالک عیسیٰ مسیح راولیږلو د پاره د دې چې تکلیفونه وزغمی " اؤ مونږ خدائ پاک له ورسوی " د دې مطلب دا دے چې مالک عیسیٰ مسیح د دې د پاره راولیږلے شو چې بنی آدمو له ډیره ژوره، د زړۀ اؤ نۀ ختمیدونکې خوشحالی ورکړی، د کومې خوشحالئ تجربه چې بنی آدم هیڅ کله هم نۀ وی کړې. نو بیا د دې دعوت ته غوږ کیږدئ "د ګناه د ژوندون د خوند اخستلو " نه توبه وکړئ ( عبرانیان ۱۱ : ۲۵ ). اؤ " کاملې اؤ ابدی خوشحالئ" له راشئ. مالک عیسیٰ مسیح له راشئ.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۲۳

# زمونږ د خپلولو د پاره

*" تاسو دَ عیسیٰ دَ وجود سره تړلی یئ اؤ اوس دَ هغهٔ خپل شوی یئ چې هغه دَ مړو نه بیا ژوندے شوے دے "*
*( رومیان ۷ : ۴ ).*

*" اؤ تاسو دَ خپل ځان نهٔ یئ، ځکه چې خدائ تاسو په بیعه آخستی یئ. "*
*(اول کورنتیان ۶ : ۱۹ ، ۲۰ ).*

*" دَ خپل ځان اؤ دَ هغه ټول کنډک خیال ساتئ کوم چې روح القدس ستاسو په حواله کړې دے اؤ تاسو دَ مالِک دَ هغې جماعت شپونکی یئ کوم چې هغهٔ دَ خپلې وینې په قیمت آخستے دے "*
*(اعمال ۲۰ : ۲۸ ).*

آخری سوال دا نهٔ دے چې تاسو څوک یئ، بلکه دا دے چې تاسو د چا یئ. بغیر د څهٔ شک نه ډیر خلق دا خیال کوی چې هغوئ د چا غلامان نهٔ دی. هغوئ د کاملې آزادئ ( خوب ګوری ) یعنی خواهش لری.

چا چې داسې سوچ لرلو نو هغوئ ته مالک عیسیٰ مسیح وفرمائیل " اؤ تاسو به په حقیقت پوهه شئ اؤ حقیقت به تاسو آزاد کړی ". خو هغوئ ورته په جواب کښې ووئیل " مونږ چرې هم دَ چا غلامان شوی نهٔ یو. ستا دَ دې وینا نه مطلب څهٔ دے چې تاسو به آزاد شئ؟" عیسیٰ ورته دا ووئیل چې ، "رښتیا زهٔ تاسو ته دا وایم، هر څوک چې ګناه کوی هغه دَ ګناه غلام دے " ( یوحنا ۸ : ۳۲- ۳۴ ).

بائبل مقدس دې سوچ ته ښۀ خيال نۀ وائی چې په ګناه کښې غورزيدلے انسانيت په پوره طور سره آزاد يعنی خپل واکه دے. د ګناه نه لړلے شوې دنيا کښې مونږ آزاد نۀ يو. په مونږ باندې يا ګناه حکومت کوی اؤ يا خدائ پاک. " تاسو ته ښۀ معلومه ده چې تاسو چې کوم مالک ته ځان وقف کړئ اؤ دَ هغۀ فرمانبردار شئ نو دَ هغۀ غلامان يئ. . . . کله چې تاسو دَ ګناه غلامان وئ نو تاسو دَ صداقت نه آزاد وئ . . . . خو اوس تاسو دَ ګناه دَ غلامئ نه آزاد يئ اؤ دَ خدائ غلامان يئ " ( روميان ۶ : ۱۶، ۲۰، ۲۲ ).

ډير ځله مونږ آزاد يو اؤ هغه څۀ کوو څۀ چې مونږ کول غواړو. خو څۀ چې مونږ له کول پکار دی د هغې خواهش لرلو د پاره مونږ آزاد نۀ يو. نو په داسې حالت کښې مونږ ته د نوی طاقت ضرورت وی اؤ دا طاقت مونږ له مالک خدائ پاک راکوی. کوم چې هغۀ زمونږ د پاره اخستلې دے. په پاک کلام کښې ليکلے شوی دی چې، " دَ خدائ شکر په دې په کار دے چې تاسو په يو وخت کښې دَ ګناه غلامان وئ خو اوس دَ زړۀ دَ اخلاصه دَ هغه تعليم کوم چې تاسو ته په حواله شوے دے، فرمانبردار يئ . . . . ( روميان ۶ : ۱۷ ). " . . . . چې خدائ هغوئ ته دَ توبې ويستو طاقت ورکړی اؤ هغوئ حق وپيژنی. په دې وجه به پوهه شی اؤ دَ ابليس دَ دام نه بچ شی چې هغۀ دَ خپلې مرضئ دَ پوره کولو دَ پاره نيولی دی. " ( دويم تيموتيوس ۲ : ۲۵، ۲۶ ).

د مالک عيسیٰ مسيح په سولئ کيدو سره د دې قوت قيمت ادا کړے شو. " . . . . اؤ تاسو دَ خپل ځان نۀ يئ، ځکه چې خدائ تاسو په بيعه آخستی يئ . . . . " ( اول کورنتيان ۶ : ۱۹، ۲۰ ). مالک عيسیٰ مسيح هغوئ په بيعه اخستی دی څوک چې په هغۀ باندې ايمان راوړی؟ " کوم چې هغۀ دَ خپلې وينې په قيمت آخستی دی " ( اعمال ۲۰ : ۲۸ ).

بې شکه چې اوس مونږ آزاد يو. خو د خپل واکئ يا خپل اختيار لرلو د پاره نه ، بلکه هر هغه څۀ چې ښۀ دی د هغې په طمع وسيدلو د پاره. کله چې د مالک عيسیٰ مسيح مرګ زمونږ د زوړ فطرت د پاره د مرګ سبب جوړ شی نو هله بيا زمونږ د پاره د نوی ژوندون لار کولاؤ شی. د مالک عيسیٰ مسيح سره زمونږ تعلق د قانون ځائ اخلی اؤ د ميوا داره کيدو آزادی د شريعت د غلامئ ځائ اخلی. " . . . . تاسو هم دَ شريعت نه په خپل مرګ آزاد شوی

يئ ځکه تاسو دَ عيسىٰ دَ وجود سره تړلى يئ اؤ اوس دَ هغۀ خپل شوى يئ چې هغه دَ مړو نه بيا ژوندے شوے دے، د دې دَ پاره چې مونږ دَ خداۍ ښۀ خدمت وکړو " ( روميان ۷ : ۴ ).

مالک عيسىٰ مسيح تکليفونه وزغمل د پاره د دې چې مونږ د شريعت د ګناه نه آزاد کړے شو اؤ د مالک عيسىٰ مسيح شو. د هغۀ فرمانبردارى کول څۀ بوج نۀ دے بلکه دا د آزادۍ اولنۍ ميوه ده. دا خبره ياد لرئ، چې تاسو نور د خپل ځان نۀ يئ. نو تاسو خپل ځان چا ته سپارل غواړئ؟ کۀ چرې مسيح ته سپارل غواړئ نو بيا هغه په خپل ژوندون کښې د مالک په طور تسليم کړئ.

# مونږ له حوصله راکولو د پاره چې په بهادرئ سره د مالک خدائ په پاک ترین مقام کښې داخل شو

*" مونږ دَ عیسیٰ دَ وینې په سبب پاک ترین مقام ته په داخلیدو زړۀ ور یو " ( عبرانیان ۱۰ : ۱۹ ).*

د زړې لوظ نامې په عظیمو رازونو کښې یو راز خیمه هم وه په کومه خیمه کښې به چې بنی اسرائیلیانو عبادت کولو اؤ د دې ځائ نوم " خیمه اجتماع " وو. د دې راز په باره کښې مونږ ته صرف نخښې اؤ اشارې ملاویږی خو وضاحت یې موجود نۀ دے. کله چې بنی اسرائیلیان د مصر نه په سفر روان شول اؤ د سینا غرۀ ته ورسیدل نو خدائ پاک حضرت موسیٰ ته په تفصیل سره وفرمائیل چې د عبادت د پاره به دا خیمه څنګه جوړوی اؤ په دې کښې به څو حصې جوړوی اؤ په دې کښې به څۀ رنګ سامان کیږدی. په دې حکم کښې د راز خبره دا وه چې : " ګوره چې دا د هغې نقشې په مطابِق جوړه کړې چې کومه ما درته په غرۀ باندې ښودلې ده " ( هجرت ۲۵ : ۴۰ ).

کله چې ۱۴۰۰ کاله پس مالک عیسیٰ مسیح دې دنیا ته راغلو نو بیا دا خبره ډیره په واضحه طور باندې څرګنده کړے شوه چې د زړې خیمې " نمونه " د آسمانی حقیقتونو نه یو " عکس" یا " نقل " وو. خیمه اجتماع په زمکه باندې د آسمانی حقیقت یوه نمونه وه. په نوې لوظ نامه کښې مونږ د دې په باره کښې داسې لولو. " ( کاهنان ) نو بیا هم هغه خدمت چې هغوئ په مزکه کوی، هغه دَ هغۀ دَ آسمانی خدمت نقل اؤ عکس دے. هر کله چې موسیٰ خیمه جوړوله نو هغۀ ته دا هدایت وشو چې : ګوره! کومه نمونه چې تا ته په غرۀ ښودلے شوې وه دَ هغې په شان ټول څیزونه جوړوه." ( عبرانیان ۸ : ۵ ).

بې شکه چې په زړه لوظ نامه کښې د بنی اسرائیلیانو د عبادت ټولې حصې د یو حقیقی څیز طرف ته اشاره کوی. په خیمه کښې پاک ځایونه وو کوم ځائ ته چې به امام بیا

بیا د ځناور وینه وړله اؤ هغه امام به هلته کښې د خدائ پاک سره ملاقات کولو. هم داسې په دې خیمه کښې پاک ترین مقام هم وو لکه څنګه چې په آسمان کښې، چرته چې مالک عیسیٰ مسیح د ټولو د پاره خپلې وینې وړلو سره داخل شو.

" خو مسیح دَ ښو څیزونو دَ پاره دَ مشر کاهن په طور راغے چې اوس موجود دے. په کومه خیمه کښې چې هغه خدمت کوی، هغه ډیره لویه اؤ کامله ده. اِنسان هغه خیمه نۀ ده جوړه کړې اؤ نۀ هغه دَ دې دنیا ده. اؤ دَ چیلو اؤ سخو په وینه وړلو سره نه، بلکه خپله وینه یې واخسته اؤ په هغه پاک ترین مقام کښې یو ځل داخل شو اؤ په دې یې دَ تل خلاصون وکړو " ( عبرانیان ۱۹ : ۱۱، ۱۲ ).

*د دې مطلب دا دے چې زمونږ د پاره لاره کولاؤ کړے شوې ده اؤ اوس مونږ مالک عیسیٰ مسیح سره یو پاک ترین مقام کښې د خدائ پاک په حضور کښې داخلیدے شو. وړاندې به داسې ځایونو ته صرف یهودی امامان تلے شول. مشر کاهن به پاک ترین مقام ته کوم ځائ کښې چې به د خدائ پاک جلال وو اؤ دغه ځائ ته به امام په کال کښې صرف یو ځل تلے شو ( عبرانیان ۹ : ۸ ). د پاک مقام اؤ د پاک ترین مقام تر مینځه یوه غټه پړده وه کومه چې به د جلالی مقام د حفاظت د پاره لګولے شوې وه. کلام پاک مونږ ته ښودنه کوی چې کله مالک عیسیٰ مسیح په سولئ باندې خپل ځان قربان کړو نو " هغه وخت دَ خدائ دَ کور پړده دَ یو سر نه تر بل سره په مینځ وشلیده. اؤ زلزله راغله، کڼاں وچاؤدل " ( متی ۲۷ : ۵۱ ).*

د دې مطلب څۀ دے؟ د دې وضاحت اؤ بیان په دې لفظونو کښې شوے دے : " . . . . مونږ دَ عیسیٰ دَ وینې په سبب پاک ترین مقام ته په داخلیدو زړۀ ور یو، په هغه نوې اؤ ژوندئ لار چې هغۀ زمونږ دَ پاره دَ پړدې له مینځ نه خلاصه کړې ده، یعنې دَ خپل بدن په

وسیله " ( عبرانیان ۱۰ : ۱۹، ۲۰ ). د هیکل د پړدې شلیدو نه وړاندې دا خبره لازمی وه چې خدائ پاک خپل پاک والے د انسان نه محفوظ وساتی. کۀ دا پړده د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ نه وړاندې شلیدلے وے نو د مالک خدائ به بې عزتی شوې وه اؤ مونږ به د ګناه په وجه سیزلے شوی وو اؤ ایره شوی به وو. خو اوس مونږ د مالک عیسیٰ مسیح په وسیله نزدې راتلے شو اؤ د هغۀ د پاک والی نه مزه اخستلے شو. اوس به د هغۀ بې عزتی نۀ کیږی. اوس به مونږ اور سره ایره کیږو هم نه. په کامله توګه باندې د حفاظت کوونکی عیسیٰ مسیح په وجه به اوس د خدائ پاک عزت کیږی اؤ مونږ به د هغۀ په نۀ ختمیدونکی رعب اؤ جلال کښې قائم اوسیږو. تاسو هغۀ له د راتلو نه مۀ یریږئ. بلکه هغۀ له د مالک عیسیٰ مسیح په وسیله راځئ.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۲۵

# هغه مقام جوړولو د پاره کوم ځائ کښې چې مونږ د مالک خدائ سره ملاقات کوو

*عیسیٰ جواب ورکړو چې: دا دَ خدائ کور ونړوئ اؤ زهٔ به یې درته په دریوو ورځو کښې بیا ودان کړم یهودیانو ورته ووئیل، دا دَ خدائ کور خو په شپږ څلویښت کاله کښې جوړ شوے دے، اؤ تهٔ یې راته په دریو ورځو کښې جوړوې؟ خو دَ خدائ دَ کوم کور ذکر چې هغهٔ کولو هغه دَ دهٔ خپل وجود وو"*

*(یوحنا ۲: ۱۹-۲۱).*

زما د پوهې په مطابق مالک عیسیٰ مسیح یوحنا ۲: ۱۹-۲۱ کښې فرمائی چې: " ما مړ کړئ نو زهٔ به هغه مقام جوړ شم کوم ځائ کښې چې به ټوله دنیا د خدائ پاک سره ملاقات کوی" یهودیانو دا سوچ کولو چې مالک عیسیٰ مسیح د خدائ د کور طرف ته اشاره کوی: " دا دَ خدائ کور ونړوئ اؤ زهٔ به یې درته په دریوو ورځو کښې بیا ودان کړم " خو دَ خدائ دَ کوم کور ذکر چې هغهٔ کولو هغه دَ دهٔ خپل وجود وو.

مالک عیسیٰ مسیح ولې د خپل بدن تعلق د خدائ پاک د کور سره جوړ کړو؟ ځکه چې هغه د دې د پاره دې دنیا ته راغلو چې د هیکل ځائ واخلی اؤ په خپله د خدائ پاک سره د ملاقات هغه مقام جوړ شی. د خدائ پاک زوئ په انسانی جسم کښې د څرګندیدو نه پس عبادت اؤ د هغوئ ټولو مذهبی رسمونو اؤ رواجونو له بدلیدل وو. مالک عیسیٰ مسیح له په مستقل طور باندې د فسح ګډورے، مشر امام، اؤ په مستقل طور باندې هیکل جوړیدل وو. اولنو څیزونو له ختمیدل ضروری وو اؤ مالک عیسیٰ مسیح له قایم پاتې کیدل وو.

ځکه چې قايم پاتې کيدونکے به د حد نه زيات ښۀ وی. مالک عيسیٰ مسيح د خپل ځان په باره کښې داسې ووئيل : " زۀ تاسو ته وايم چې دلته دَ خدائ دَ کور نه څۀ نور هم لوئ څيز موجود دے " ( متی ۱۲ : ۲ ). د هيکل په پاک ترين مقام کښې په خاص موقعو باندې د خدائ پاک جلال څرګنديدو.

خو د مالک عيسیٰ مسيح په باره کښې کلام پاک مونږ ته دا وائی چې : " ځکه هر څۀ چې خدائ دے، هم هغه شان مسيح په خپل اِنسانی حالت کښې په کامل طور هم هغه دے " ( کولوسيان ۲ : ۹ ). دا خبره نۀ ده چې ګڼې په مالک عيسیٰ مسيح باندې به کله کله د خدائ پاک حضوری وه اؤ بيا به ترې نه جدا شوه. هغه خو په خپله خدائ وو، ځکه چې د هغۀ سره ملاقات کول داسې وو لکه چې د خدائ پاک سره ملاقات.

خدائ پاک به په هيکل کښې د هغه مينځګړی په وسيله د خلقو سره ملاويدو کوم چې به په پوره طور باندې کامل نۀ وو. خو اوس د مالک عيسیٰ مسيح په باره کښې داسې ليکلے شوی دی چې " ځکه چې يو خدائ دے اؤ دَ خدائ اؤ دَ اِنسان په مينځ کښې مينځګړے هم يو، يعنې مسيح عيسیٰ چې اِنسان دے " ( اول تيموتيوس ۲ : ۵ ). کۀ چرې مونږ له د خدائ پاک عبادت کول وی اؤ د هغۀ سره ملاقات کول غواړو نو بيا مونږ له صرف يو مقام ته تلل پکار دی اؤ هغه مقام مالک عيسیٰ مسيح دے. خدائ پاک سره د ملاقات موقعې حاصلولو د پاره د عيسايانو يو خاص ځائ نشته دے لکه څنګه چې يهوديانو سره وو.

يو ځل چې کله مالک عيسیٰ مسيح يو ځائ کښې د يو بد کرداره ښځې سره ملاؤ شو نو هغې د خبرو موضوع بل طرف ته واړوله اؤ مالک عيسیٰ مسيح ته يې ووئيل " زمونږ نيکونو په دې غرۀ عبادت کولو خو تاسو يهوديان وايئ چې په کوم ځائ کښې چې دَ خدائ عبادت کول په کار دی هغه په بيت المقدس کښې دے " مالک عيسیٰ مسيح هم په دې موضوع خپلې خبرې جاری وساتلې " باور وکړه چې يو وخت داسې راتلونکے دے چې نۀ خو به تاسو دَ آسمانی پلار عبادت په دې غر وکړئ اؤ نۀ په بيت المقدس کښې " . مسئله ځائ نۀ ده کوم چې د زمکې د پاسه وی . نو بيا مسئله د څۀ ده؟ مالک عيسیٰ مسيح خپله خبره

جاری وساتله، " خو وخت راتلونکے دے بلکه اوس هم دے چې رښتینی سجدې کوونکی به آسمانی پلار ته په روح اؤ په رښتیا سجدې وکړی" ( یوحنا ۴ : ۲۰ – ۲۳ ).

مالک عیسیٰ مسیح د عبادت ځائ په مکمل توګه باندې بدل کړو. د خدائ پاک عبادت به نۀ په دې غرۀ باندې کیږی اؤ نۀ په بیت المقدس کښې، بلکه په روح اؤ په رښتیا به سجدې وکړی. هغه دې دنیا ته د زمکې د پاسه یو خاص ځائ کښې عبادت ختمولو د پاره راغلے وو. اوس یو هیکل هم نشته دے. اوس د عبادت ځائ بیت المقدس نۀ دے بلکه مالک عیسیٰ مسیح دے. آیا مونږ د خدائ پاک د دیدن خواهش لرونکی یو؟ مالک عیسیٰ مسیح مونږ ته فرمائی " . . . . ځوک چې تاسو قبلوی هغه ما قبلوی، اؤ ځوک چې ما قبلوی هغه زما رالیږونکے قبلوی" ( متی ۱۰ ۴۰ ). آیا مونږ د عبادت په دوران کښې د خدائ پاک د حضورئ خواهش مند یو؟ کتاب مقدس مونږ ته وائی چې : " ځوک چې دَ زوئ ( مالک عیسیٰ ) نه اِنکار کوی دَ هغۀ سره پلار هم نِشته، اؤ ځوک چې دَ زوئ اِقرار کوی نو دَ هغۀ سره پلار هم شته " ( ۱- یوحنا ۲ : ۳ ).

آیا مونږ د پلار عزت کول غواړو؟ مالک عیسیٰ مسیح فرمائی " . . . . ځوک چې دَ زوئ عزت نۀ کوی هغه دَ پلار عزت نۀ کوی چې هغه یې را استولے دے " ( یوحنا ۵ : ۲۳ ).

کله چې مالک عیسیٰ مسیح مړ شو اؤ بیا د مړو نه ژوندے شو نو هغۀ د بنی اسرائیلیانو د هیکل یعنی د بیت المقدس ځائ واخستلو د پاره د دې چې د دنیا هر یو کس په آسانئ سره د عبادت ژوندی مقام ته د رسیدو موقعه حاصله کړی. تاسو د سفر کولو نه بغیر هم هغۀ له تلے شئ. هغه تاسو سره ډیر نزدې دے، بس صرف تاسو له په هغۀ باندې ایمان راوړل پکار دی.

مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۲۲

## د زړې لوظ نامې د امامت ختمولو د پاره
## اؤ د ابدی سردار کاهن جوړیدو د پاره

*" دَ کاهنانو شمیر ځکه زیات شو چې هغوئ دَ مرګ په وجه په خپلې عهدې باندې قایم پاتې کیدے نۀ شو. خو عیسیٰ تل تر تله ژوند ے پاتې کیږی، نو ځکه هغه داسې کاهن دے چې د هغۀ په ځائ بل هیڅوک نۀ مقرر کیږی. دَ دې دَ پاره چې څوک دَ دۀ په وسیله خدائ ته راځی هغه هغوئ ته پوره پوره خلاصون ورکولے شی ځکه چې هغه دَ هغوئ دَ شفاعت دَ پاره همیشه ژوند ے د ے. . . . اؤ دَ هغه مشرانو کاهنانو په شان دې ته محتاجه نۀ وی چې هره ورځ اول دَ خپلو ګناهونو دَ پاره اؤ بیا دَ اِسرائیل دَ امت دَ ګناهونو دَ پاره قربانۍ ورکوی ځکه چې دا هغۀ په یو ځل وکړل څۀ وخت چې یې خپل ځان قربان کړو "*
*( عبرانیان ۷: ۲۳ _ ۲۷ ).*

*" ځکه چې مسیح . . . په آسمان کښې داخل شو چې اوس دَ خدائ په مخکښې زمونږ دَ خاطره حاضر وی. لکه څنګه چې مشر کاهن پاک ترین مقام ته هر کال دَ بل چا وینه وړی، هغه شان مسیح خپل ځان بیا بیا نۀ قربانوی. نو بیا دَ دنیا له پیدا ینبت نه به هغۀ ته بیا بیا خامخا مصیبت زغمل په کار وو، خو اوس دَ زمانو په آخر کښې یو ځل ظاهر*

*شو چې دَ خپل ځان په قربان کولو ګناه لرې کړی"*
*(عبرانيان ۹ : ۲۴ - ۲۶ ).*

*" اؤ هر يو کاهن خو هره ورځ په ولاړه عبادت کوی اؤ بيا بيا يو قسم*
*قربانی پيش کوی کومې چې هيڅ کله ګناهونه لرې کولے نۀ شی. خو*
*مسيح دَ هميشه دَ پاره دَ ګناهونو دَ لرې کولو دَ پاره*
*په يوې قربانئ پيش کولو دَ خدائ ښی لاس*
*ته کښيناستو" (عبرانيان ۱۰ : ۱۱ ، ۱۲ ).*

د عيسائيت د ټولو نه لوئ بيان دا دے چې : " هم يو ځل." د دې پاره د يونانئ لفظ دا دے چې مطلب دے " دَ هرې زمانې د پاره صرف هم يو ځل " د دې مطلب دا دے چې څۀ وشو نو هغې نه پس به هيڅ نۀ کيږی. هغه کار دې حده پورې سر ته ورسيدو چې اوس دَ هغې دَ دوباره کولو ضرورت نشته دے. د هغه کار دوباره کوشش کول" کوم چې هم يو ځل" شوے دے داسې کولو سره مونږ هغه لوئ کار کم تره ګڼو.

د بنی اسرائيلو امامانو به کال په کال خپل ځان د پاره اؤ د خپل قوم د ګناهونو د پاره ځناور قربانول. زما د دې خبرې نه دا مطلب نۀ دے چې ګنې هغوئ ته به معافی نۀ ملاويده. هم خدائ پاک د خپلو خلقو د خلاصون د پاره قربانی کول مقرر کړی وو. هغوئ به ګناهونه کول اؤ د دې ګناهونو د سزا برداشت کولو د پاره به هغوئ ته د څۀ ضرورت وو. خدائ پاک به په ګناه ګارو باندې رحم وکړو اؤ د هغوئ د ګناه په سزا کښې به يې د ځناور قربانی قبولوله.

خو د دې يو تيارې اړخ هم وو. دا عمل به بيا بيا کيدو. کلام پاک مونږ ته د دې په باره کښې وائی چې ، " بلکه هغه قربانئ کال په کال ګناهونه رايادوی " ( عبرانيان ۱۰ : ۳ ). خلقو ته دا معلومه وه چې کله به هغوئ د قربانئ د ځناورو په سر باندې لاس ايښودلو نو هغوئ به د خپلې ګناه بوج په هغوئ باندې اچولو، نو هم دا هر څۀ به هغوئ بيا کول. يو

ځناور هم د انسان د ګناه سزا په خپل ځان باندې نۀ شوه اوچتولے. ګناه ګارو امامانو له به هم د خپلو ګناهونو نه د پاکيدو د پاره د قربانۍ ضرورت وو. چې کاهن به مړ شو نو د هغۀ په ځائ به بل نوے کاهن مقرر کړے شو غوايان اؤ چيلۍ د اخلاقی ژوند نه خالی مخلوق وو اؤ د انسان د ګناه د اوچتولو قابل نۀ وو " ځکه چې دا ممکنه نۀ ده چې دَ غوايو اؤ چيلو وينه ګناهونه لرې کړی" (عبرانيان ۱۰ : ۴).

خو په نا مکمله اؤ په نيم ګړې خبره کښې هم د اُميد يوه رڼا په نظر راتله. خدائ پاک د دې نامکمله څيزونو قدر کولو نو د دې مطلب خو لازمی دا دے چې خدائ پاک به يوه ورځ داسې خادم دې دنيا ته راوليږی څوک چې به د امامانو نيم ګړے کار سر ته ورسوی، يعنی په يو ځل باندې به ګناه لرې کړی.

اؤ دا خادم مالک عيسیٰ مسيح دے. هغه مشر امام اؤ کامله قربانی جوړه شوه. يوه بې ګناه هستی ، چا چې د خپلو ګناهونو د پاره قربانی پيش نۀ کړه. غير فانی (ابدی)، د هغۀ ځائ بل چا وا نۀ خستلو يعنې د هغۀ نه پس د يو کاهن ضرورت هم راپيښ نۀ شو. انسان، هم د دې د پاره هغۀ د انسان ګناهونه اوچت کړل. حالانکه هغۀ د خپل ځان د پاره قربانيانې پيش نۀ کړې بلکه د کاملې قربانۍ په طور باندې يې خپل ځان قربان کړو. اوس د نورو قربانو ضرورت نشته دے. اؤ اوس د خدائ پاک اؤ د انسان تر مينځه يو مينځ ګړے شته دے. اؤ يو امام هم شته. اوس د بل چا ضرورت نشته دے. واه ، هغه خلق څومره مبارک دی چې صرف د مالک عيسیٰ مسيح په وسيله خدائ پاک له راځی.

## مالک عيسىٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولۍ کيدو د پاره راغلو: ۲۷

# په غم درد کښې د شريکيدو اؤ مرستيال کاهن جوړيدو د پاره

*" ځکه چې زمونږ داسې مشر کاهن نۀ دے چې زمونږ په کمزورتيا اؤ کښې همدرد کيدے نۀ شى بلکه هغه په ټولو خبرو کښې زمونږ په شان وآزمئيلے شو خو بيا هم بې ګناه پاتې شو. نو راځئ چې مونږ د خدائ دَ فضل دَ تخت په وړاندې په زړۀ ورتيا يون کوو چې په مونږ رحم وشى اؤ هغه فضل حاصل کړو کوم چې د حاجت په وخت زمونږ مدد وکړى"*

*(عبرانيان ۴ : ۱۵ ، ۱۶ ).*

مالک عيسىٰ مسيح په سولۍ باندې قربانيدو سره زمونږ امام جوړ شو (عبرانيان ۹ : ۲۲ ). هغه زمونږ اؤ د مالک خدائ پاک تر مينځه دريم ګړے دے. د مالک عيسىٰ مسيح فرمانبردارى اؤ تکليفونه زغمل دومره کامل وو چې مالک خدائ د هغې نه مخ نۀ شو اړولے. کۀ مونږ د هغۀ په وسيله سره خدائ پاک له راځو نو بيا خدائ پاک زمونږ د قبلولو نه انکار هم نۀ کوى.

خو دلته کښې کار نور زيات ښۀ شى. د سولۍ کيدو نه وړاندې تر ديرشو کالو پورې مالک عيسىٰ مسيح هم هغه شان آزميښتونو سره مخامخ کيدو لکه څنګه چې هر يو انسان آزميښتونو ته مخامخ کيږى. دا خبره ريښتيا ده چې هغۀ هيڅ قسم ګناه ونۀ کړه. خو د هوښيارو کسانو دا وينا ده چې د مالک عيسىٰ مسيح آزميښت زمونږ د آزميښتونو نه زيات سخت وو. کۀ چرې يو سړے په آزميښت کښې پرېوځى اؤ زړۀ وبائيلى نو بيا هغه خپل کار سر ته رسولے نۀ شى، يعنې د هغۀ طاقت آخرى حده پورې نۀ رسى. دباؤ رو رو زياتيږى اؤ مونږ وسله وغورزو. خو مالک عيسىٰ مسيح داسې نۀ دى کړى. هغۀ تر آخرى

حده پورې دباؤ برداشت کړو اؤ حوصله یې ونۀ بائیلله. هغۀ ته معلومه ده چې د ټولو نه زیات سخت آزمیښت څۀ وی.

مالک عیسیٰ مسیح په خپل ژوند کښې ډیرو آزمیښتونو سره مخامخ شو اؤ دا آزمیښتونه هله سر ته ورسیدل کله چې د خلقو په وړاندې په هغۀ باندې ظلم وشو اؤ مالک خدائ پاک هم په سولئ باندې هغه یواځې پرېښودو. نو هم په دې وجه هغه د هغه کسانو همدردی کول غواړی څوک چې په آزمیښت کښی وی اؤ د تکلیفونو سره مخ وی ځکه چې په مالک عیسیٰ مسیح کښې دا ټولې خوبئ شته دے. د هغۀ نه زیات په نور چا باندې آزمیښتونه نۀ دی تیر شوی.

د مالک عیسیٰ مسیح نه زیات هیچ چا هم ظلم نۀ دے زغملے. اؤ د دې ټولو ظلمونو د مخ نوی د پاره د مالک عیسیٰ مسیح نه زیات طاقت ور اؤ حقدار څوک نۀ وو. خو پطروس رسول مونږ ته وائی چې ، " نۀ هغۀ څۀ ګناه وکړه، اؤ نۀ دَ هغۀ دَ خلې نه دَ څۀ فریب خبره ووتله. نۀ هغۀ دَ کنځلو په بدل کښې کنځل کول اؤ نۀ یې په مصیبتونو زغملو چا ته دپکه ورکوله بلکه خپل ځان یې رښتونی اِنصاف کوونکی ته وسپارلو " (اول پطروس ۲ : ۲۲، ۲۳).

کتاب مقدس مونږ ته دا ښودنه کوی چې مالک عیسیٰ مسیح د دې قابل دے "ځکه چې زمونږ داسې مشر کاهن نۀ دے چې زمونږ په کمزورتیاؤ کښې همدرد کیدے نۀ شی " (عبرانیان ۴ : ۱۵). دا د حیرانتیا خبره ده چې د مالک خدائ زوئ د مړو نه ژوندے شو اؤ د خدائ پاک ښی لاس ته کښیناستو اؤ د ټول عالم کائنات اختیار یې حاصل کړو هغه هر هغه څیز محسوسوی څۀ چې مونږ محسوسوو کله چې مونږ هغۀ له د غم په حالت کښې ورځو یا هغه وخت کښې کله چې د ګناه نه ډکې دروغژنې وعدې زمونږ نه چار چاپیره وی.

مالک عیسیٰ مسیح چې زمونږ ټول احساسات په ښۀ شان سره پیژنی نو آیا دې سره څۀ فرق پریوځی؟ بائبل مقدس د دې جواب مونږ له داسې راکوی چې د مالک عیسیٰ مسیح همدردی اؤ زمونږ په دعا ګانو کښې په هغۀ اعتماد لرل زمونږ اؤ د هغۀ تر مینځه تعلق پیدا کوی. لیکلے شوی دی چې هغه د دې قابل دے " ځکه چې زمونږ داسې مشر

کاهن نۀ دے چې زمونږ په کمزورتیاؤ کښې همدرد کیدے نۀ شی نو راځئ چې مونږ د خدائ دَ فضل دَ تخت په وړاندې په زړۀ ورتیا یون کوو چې په مونږ رحم وشی اؤ هغه فضل حاصل کړو کوم چې د حاجت په وخت زمونږ مدد وکړی " ( عبرانیان ۴ : ۱۵ - ۱۲ ).

په دې حواله کښې د یو خیال څرکندونه کیږی چې : کله چې مونږ خپلو کړو سره د خدائ پاک په حضور کښې ودریږو نو مونږ دا محسوسوو چې خدائ پاک به مونږه نۀ قبلوی. مونږ د کامل خدائ پاک قدوسیت دومره زیات محسوسوو چې د مالک خدائ په حضور کښې زمونږ هر څۀ نامناسب دی. خو بیا هم مونږ له دا خبره یاد ساتل پکار دی چې مالک عیسیٰ مسیح زمونږ همدرد دے. هغه زمونږ مخالف نۀ دے بلکه زمونږ شفاعت کوونکے دے. د مالک عیسیٰ مسیح همدردی مونږ د دې جوګه کوی چې د خدائ پاک په حضورئ کښې په بهادرئ سره ودریږو. هغه زمونږ د غمونو نه خبر دے. هغه ته زمونږ کوشش ښکاری. مالک عیسیٰ مسیح مونږ ته دعوت راکوی چې کله مونږ ته د هغۀ د مدد ضرورت وی نو مونږ دې پوره یقین سره هغۀ له راشو.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۲۸

## د پلار نیکونو د بدو لارو نه د خلاصون ورکولو د پاره

*" ځکه چې تاسو خبر یئ چې ستاسو فضول چال چلن چې دَ پلار نیکۀ نه مو موندلے دے دَ هغې نه ستاسو خلاصون دَ فانی څیزونو، یعنې سرو یا سپینو زرو په وسیله ونۀ شو، بلکه دَ یو روغ رمتۀ اؤ بې داغه ګډوری، یعنې دَ مسیح دَ قیمتی وینې په وسیله "*
*(اول پطروس ۱ : ۱۸ ، ۱۹ ).*

بې شکه کۀ مونږ ډیر تعلیم یافته یو اؤ یا مو لږ تعلیم کړے وی اؤ یا مو بلکل تعلیم نۀ وی کړے، خو زمونږ بد زوړ چال چلن کوم چې زمونږ د پلار نیکۀ د وخت نه راروان دے په مونږ کښې هم په څۀ نه څۀ صورت کښې موجود دے. زمونږ د پلار نیکۀ د وخت د بد چال چلن یو څو نمونې دا دی، لکه جادوګری، ساخت تعویذ، وهم پرستی، زیارتونو له تلل، دَ روحونو سره تعلق ساتل، پیری مریدی وغیره. د دې نه علاوه نور عادتونه هم دی کوم چې زمونږ د پلار نیکۀ نه مونږ ته په وراثت کښې ملاؤ شوی دی، مثلاً دَ غیرت اؤ عزت یا د رسم و رواج په نوم باندې دَ کمزورو خلقو بې عزتی کول. کۀ حالات هر څنګه وی نو په دې خبره کښې هیڅ شک نشته دے چې هغه خراب عادتونه کوم چې زمونږ پلار نیکۀ کښې وو اوس هم موجود دی اؤ مونږ هم په دې لعنتونو کښې خپل ژوند تیروو. کۀ مونږ خراب عادتونه نۀ پریږدو نو زمونږ مستقبل به د تیارو نه ډک اؤ د امن اؤ خوشحالۍ نه خالی وی.

کتاب مقدس مونږ ته وائی چې " ستاسو فضول چال چلن چې دَ پلار نیکۀ نه مو موندلے دے دَ هغې نه تاسو له خلاصون" درکړے شو. نو د دې آیت اشاره د هغه ژوند طرف ته ده کوم چې نیم ګړے دے، بې مطلبه اؤ بې فائدې دے د کوم انجام چې د بربادۍ نه علاوه بل هیڅ نۀ دے. دا " فضول چال چلن " زمونږ د پلار نیکۀ د وخت نه راروان دے. اهم

خبره دا نۀ ده چې ځنګه، بلکه دا ده چې مونږ د فضول چال چلن د تړون نه ځنګه خلاصون موندلے شی د خلاصون ورکولو والاطاقت د دې آزادئ اندازه لګولے شی.

د پلار نیکۀ د طور طریقو نه خلاصون د " فانی ځیزونو، یعنې سرو یا سپینو زرو په وسیله ونۀ شو " سرۀ زر اؤ سپین زر قیمتی ځیزونه دی کوم چې مونږ د خلاصون د پاره پکار راوستلے شو. خو مونږ ته دا هم معلومه ده چې دا د خلاصون د پاره بې کاره دی اکثر مونږ دا فضول چال چلن په مالدارو خلقو کښې وینو اؤ هغوئ زیات تر د دې غلامان جوړ شوی دی دې فضول چال چلن د ډیرو خلقو کورونه وران کړی دی اؤ د هغوئ شان و شوکت اؤ کاروبارونه یې هم تباه اؤ برباد کړی دی.

سرۀ زر اؤ سپین زر زمونږ مرسته نۀ شی کولے. د مالک عیسیٰ مسیح په سولئ کیدل اؤ تکلیفونه زغمل مونږ له هر هغه څۀ راکوی کوم چې زمونږ پکار وی. دا په سرو اؤ سپینو زرو نۀ ده " بلکه دَ یو روغ رمتې اؤ بې داغه ګډوری، یعنې دَ مسیح دَ قیمتی وینې په وسیله" مونږ ته خلاصون ملاویږی. کله چې مالک عیسیٰ مسیح مړ شو نو خدائ پاک ته دا خبره معلومه وه چې زمونږ د خپل پلار نیکۀ سره څۀ تعلق دے. مالک خدائ دا غوښتل چې هغه مونږ د فضول چال چلن نه آزاد کړی کوم چې مونږ ته په میراث کښې ملاؤ شوے وو. د مالک عیسیٰ مسیح په سولئ کیدو کښې یوه لویه وجه دا هم وه.

کۀ چرې تاسو ته د ګناهونو نه معافی ملاؤ شوې وی اؤ د مالک عیسیٰ مسیح د صداقت جامې مو اغوستې وی اؤ د کائنات مالک ستا فدیه ورکړې وی اؤ تا سره مینه لری نو بیا به په تا باندې تعویزونه یا جادو اثر نۀ کوی. ځکه چې مالک عیسیٰ مسیح مصیبتونه وزغمل اؤ زمونږ د پاره یې خپل ځان قربان کړو. نو هم په دې وجه اوس " نۀ داسې جادو شته اؤ نۀ داسې تعویزونه شته، چې د اِسرائیلیانو په قوم باندې وشی " ( شمیر ۲۳ : ۲۳ ). مالک عیسیٰ مسیح خپل ځان قربان کړو د هغه خلقو د پاره څوک چې په هغۀ ایمان راوړی هغۀ د آسمان ټول برکتونه په بیعه واخستل. اؤ کله چې مالک خدائ چا له برکت ورکړی نو هیڅ څوک داسې نشته دے چې هغه لعنتی کړی.

داسې یو زخم هم نشته کوم چې د مور پلار د لاسه بچو ته ملاؤ شوے وی اؤ د هغې علاج د مالک عیسیٰ مسیح سره نهٔ وی " دَ مسیح دَ قیمتی وینی" سره د شفا قیمت ادا کړے شوے دے.لفظ "قیمتی" د وینی قدر اؤ د اهمیت څرګندونه کوی.فدیې ورکولو سره خلاصون ملاویږی. هیڅ قسمه تړون ( دیوال ) د دې وړاندې قایم پاتې کیدے نهٔ شی نو راځئ چې سرهٔ اؤ سپین زر پریږدو اؤ د مالک تحفه په خپل ژوند کښې قبوله کړو.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو: ۲۹

# مونږ له د ګناهونو د غلامۍ نه د خلاصون د پاره

*" عیسیٰ مسیح.مونږ سره مینه کوی اؤ مونږ یې دَ خپلې وینې په قربانۍ له ګناهونو نه آزاد کړو اؤ مونږ یې دَ خپل خدایٔ پلار دَ پاره دَ بادشاهت کاهنان جوړ کړلو " ( مکاشفه ۱ : ۵ ، ۶ ).*

*" عیسیٰ هم دَ خپلې وینې په وجه دَ امت دَ پاکولو دَ پاره دَ ښار دَ دروازې نه بهر تکلیف وزغملو "*
*( عبرانیان ۱۳ : ۱۲ ).*

زمونږ ګناه مونږ په دوو ځایونو کښې مخ تورن ( تباه ) کوی. زمونږ ګناه مونږ د خدایٔ پاک په وړاندې مجرموی. نتیجه یې دا شی چې مونږ د خدایٔ پاک د سزا حق دار شو. اؤ دا زمونږ عمل بدرنګ ( خراب ) کړی. نتیجه کښې مونږ د خدایٔ پاک راکړے شوے صورت خرابوو کوم صورت سره چې مونږ جوړ شوی وو اؤ د څۀ څرګندونه چې مونږ له د دنیا په وړاندې کول پکار دی. دا مونږ قصورواره کوی اؤ مونږ لعنتیان کوی هم. اؤ په مونږ کښې مینه ختموی.

د مالک عیسیٰ مسیح وینه مونږ له د داسې مصیبونو نه خلاصون راکوی. دا د خدایٔ پاک د صداقت هغه ټولې غوښتنې پوره کوی د پاره د دې چې زمونږ ګناهونو نه مونږ ته په انصاف سره معافی ملاؤ شی. اؤ دا د ګناه هغه طاقت زرې زرې کوی کوم طاقت کښې چې مونږ د مینې نه لرې کیږو. په وروستونو سبقونو کښې مونږ د یو سبق نه زده کړې وو چې مالک عیسیٰ مسیح څنګه د خدایٔ پاک غصه یخوی اؤ زمونږ جرمونه څنګه زمونږ نه لرې کوی. خو اوس د مالک عیسیٰ مسیح وینه مونږ څنګه د ګناه د غلامۍ نه آزادوی؟

د دې جواب دا نۀ دے چې ګنې هغه زمونږ د پاره يو زبردست مثال دے اؤ هغه مونږ ته لار ښودنه کوی چې مونږ څنګه د خپلې خود غرضۍ نه آزادیدے شو. اؤ ، په دې کښې هم هیڅ شک نشته دے چې مالک عیسیٰ مسیح زمونږ د پاره يو زبرست مثال دے. هغه په واضح طور باندې دا غواړی چې مونږ هم د هغۀ پیروی وکړو.

" زۀ تاسو ته نوے حکم درکوم. دَ يو بل سره مینه کوئ، لکه چې ما تاسو سره مینه کړې ده دغه شان تاسو هم دَ يو بل سره مینه کوئ " ( يوحنا ۱۳ : ۳۴ ). د هغۀ پسې تلو سره مونږ ته د آزادۍ قوت نۀ ملاویږی. بلکه دا کار د دې نه زیات ژور والے لری.

زمونږ په ژوند کښې د ګناه اثر دومره زیات دے چې مونږ له پکار دی چې مونږ د خپلې ارادې سره نه بلکه د خدائ پاک په طاقت سره د دې نه خلاصون ومومو. خو مونږ چې ګناه ګار يو ، نو د دې د پاره مونږ له دا ضروری سوال کول پکار دی : آیا مونږ د مالک خدائ قوت آزادوی یا په مونږ باندې د سزا حکم کوی؟ اؤ هم دې ځائ کښې د مالک عیسیٰ مسیح تکلیفونه خپل اثر ښائی. کله چې هغه زمونږ د سزا ختمولو د پاره په سولۍ باندې مړ شو نو دې سره مالک عیسیٰ مسیح د آسمان د رحم دروازې کولاؤ کړې د پاره د دې چې مونږ د ګناه د اختیار نه خلاص کړی.

د دې خبرو په مطابق د ګناه د احساس اؤ د مالک خدائ د غضب د خلاصیدو نه پس د خدائ پاک د رحم په وسیله مونږ ته د ګناه د اختیار نه خلاصون ملاؤ شو. بائبل مقدس مونږ ته دا حقیقت په دې لفظونو کښې بیانوی "صادق کیدل " اؤ "پاکیدل". اولنے قدم صادق کول دی اؤ د هغې نه پس بیا پاکیدل یقینی کیږی. دا دواړه څیزونه د يو بل نه جدا جدا دی. اولنے سمدستی اعلان دے " چې تۀ بې ګناه يې" اؤ بل هغه پاک عمل دے کوم عمل چې به ټول عمر جاری وی.

څوک چې په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان لری نو د هغوئ د پاره د خدائ پاک قوت د يو غضب راوستونکی سزا په طور باندې کار نۀ کوی ، بلکه د خلاصون د پاره په هغوئ رحم کوی. مالک خدائ د دې بدلون د پاره د پاک روح په وسیلې سره مونږ له قوت راکوی. نو هم په دې وجه باندې " خو دَ خدائ دَ روح میوه مینه، خوشحالی، سلامتی،

زغم، مهرباني، نيکی، اِيمانداری، عاجزی اؤ پرهيزګاری ده " ( ګلتيان ۵ : ۲۲، ۲۳ ).
نو هم په دې وجه باندې کتاب مقدس مونږ سره يو حيرانيدونکے لوظ کوی. " د دې دَ پاره چې ګناه نور په تاسو باندې حکم ونۀ چلوی ځکه چې تاسو نور دَ شريعت دَ لاندې نۀ يئ بلکه دَ خدائ دَ فضل دَ لاندې يئ " ( روميان ۶ : ۱۴ ). " د فضل لاندې کيدل " د دې خبرې ثبوت دے چې د خدائ پاک قدرت به په مونږ کښې د مينې کمے پوره کوی. ( دا کار په يو ځل باندې نۀ کيږی بلکه رو رو کيږی ). مونږ په خپلو ګناهونو اؤ خود غرضۍ باندې په خپل قوت فتح نۀ شو موندلے بلکه د خدائ پاک په فضل باندې مونږ په دې غالب کېدے شو. نو هم په دې وجه باندې د خدائ پاک عظيم رسول مونږ ته دا ښودنه کوی چې " ما دَ هغوئ ټولو نه زياته خواری وکړله. دا ما ونۀ کړل بلکه دَ خدائ په هغه فضل وشوله چې په ما دے " ( اول کورنتيان ۱۵ : ۱۰ ). د فضل نه ډک خدائ پاک دې مونږ په مسيح باندې ايمان راوړلو سره د ګناه د احساس اؤ د ګناه د غلامۍ نه آزاد کړی.

## ۳۰ مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو؛

# د پاره د دې چې مونږ د ګناه د پاره مړۀ شو اؤ د صداقت د پاره ژوندی شو

*" هغۀ زمونږ ګناهونه سولۍ ته دَ خپل ځان سره یوړل دَ دې دَ پاره چې مونږ ګناهونو ته مړۀ شو اؤ دَ صداقت دَ پاره ژوند تیرو*
*(اول پطروس ۲ : ۲۴ ).*

دا ممکنه ده چې دا خبره ستاسو په نظر کښې عجیبه وی چې زمونږ په ځای اؤ زمونږ د ګناهونو په خاطر د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ مطلب دا دے چې مونږ مړۀ شو. تاسو به دا سوچ کوئ چې زمونږ په ځای د بل کس د مړ کیدو مطلب دا دے چې مونږ به د مرګ نه خلاص شو. اؤ بې شکه مونږ به د مرګ نه بچ شو. یعنی د ابدی مرګ نه، چا سره چې ابدی ژوند نۀ وی نو هغۀ نه خدائ پاک لرې وی اؤ عذاب کښې وی. مالک عیسیٰ مسیح وفرمائیل " زۀ هغوئ له دَ تل ژوند ور کوم اؤ هغوئ به هیڅ کله هم هلاک نۀ شی " ( یوحنا ۱۰ : ۲۸ ). " اؤ کۀ څوک چې ژوندے دے اؤ په ما ایمان لری هغه به هیڅ کله هم مړ نۀ شی " ( یوحنا ۱۱ : ۲۲ ) . بې شکه چې د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ مطلب دے چې " هر هغه څوک چې په زوئ یې ایمان راؤړی هغه هلاک نۀ شی خو دَ تل عمری ژوندون بیا مومی " ( یوحنا ۳ : ۱۲ ).

خو مونږ چې مړۀ کیږو نو دَ دې مطلب بالکل جدا دے، ځکه چې مالک عیسیٰ مسیح زمونږ په ځای اؤ زمونږ د ګناهونو د پاره خپل ځان قربان کړے دے. " هغۀ زمونږ ګناهونه سولۍ ته دَ خپل ځان سره یوړل دَ دې دَ پاره چې مونږ . . . . مړۀ شو اؤ دَ صداقت دَ پاره ژوند تیروو" ( اول پطروس ۲ : ۲۴ ). هغه مړ شو د پاره د دې چې مونږ ژوندی پاتې شو، اؤ هغه مړ شو د دې د پاره چې مونږ مړۀ شو. کله چې مالک عیسیٰ مسیح مړ شو نو زۀ هم د ایمان راوړلو په وسیله د مالک سره مړ شوم. کتاب مقدس مونږ ته په واضحه طور باندې ښودنه

کوی " مونږ دَ هغۀ په مرګ کښې ورسره شامل شو نو دغه شان به دَ هغۀ په بیا ژوندی کیدو کښې هم یو " ( رومیان ۶ : ۵ )چې که یو دَ ټولو دَ پاره مړ شو نو ټول مړۀ شول " ( دویم کورنتیان ۵ : ۱۴ )

ایمان د دې خبرې ثبوت دے چې مونږ د مالک عیسیٰ مسیح سره یو والے لرو. ایمان داران د مالک عیسیٰ مسیح سره په سولئ شوی دی ( ګلتیان ۲ : ۲۰ ). مونږ په تیر شو وخت کښې دَ هغۀ مرګ ته ګورو اؤ په دې پوهیږو چې دَ خدائ پاک په نظر کښې مونږ هلته کښې وو. زمونږ ګناهونه په هغۀ باندې اچولے شوی وو اؤ د کوم مرګ چې مونږ حقدار وو هغه په هغۀ کښې په مونږ باندې راغلو. د مالک عیسیٰ مسیح سره د مړ کیدو عمل د بپتسمې نه ښکاره کیږی. " اؤ په دې بپتسمه مونږ دَ هغۀ سره ښخ کړے شولو اؤ ورسره مړۀ شولو." ( رومیان ۶ : ۴ ). اوبۀ لکه د قبر په شان دی. اؤ په کښې دننه تلل لکه د مرګ تصویر دے. اؤ اوبو نه راوتل لکه د نوی ژوندون تصویر دے. اؤ دا ټول د هغه څۀ تصویر دے کوم چې خدائ پاک زمونږ د ایمان راړلو په وجه کوی. " اؤ تاسو دَ مسیح سره په بپتسمه کښې ښخ شوئ اؤ په هغۀ کښې مو دَ هغه خدائ په قوت ایمان راؤړو چې هغه یې دَ مړو نه ژوندے کړو، اؤ تاسو هم ورسره ژوندی شوئ" ( کولوسیان ۲ : ۱۲ ).

دا حقیقت چې زۀ مالک عیسیٰ مسیح سره مړ شوم، نیغ په نیغه دې سره تړون لری چې هغۀ زما د ګناهونو په خاطر خپل ځان قربان کړو. " هغۀ زمونږ ګناهونه سولئ ته دَ خپل ځان سره یوړل دَ دې دَ پاره چې مونږ . . . . مړۀ شو. " د دې مطلب دا دے چې کله زۀ مالک عیسیٰ مسیح ته د خپل خلاصونکی په طور خپل ځان وسپارم نو زۀ د یو ګناه ګار په طور باندې مرګ ته ځان سپارم. زما ګناهونو مالک عیسیٰ مسیح قبر ته کوز کړو اؤ زۀ یې هم د هغۀ سره ښخ کړم. ایمان ګناه ته د یو قاتل په نظر ګوری. ګناه مالک عیسیٰ مسیح قتل کړو اؤ زۀ یې هم قتل کړم.

د عیسائی کیدو مطلب دے چې د ګناه د پاره مړ کیدل. زوړ فطرت د کوم چې ګناه خوښه وه د مالک عیسیٰ مسیح سره مړ شو. ګناه د یوې ډمې په شان ده کومه چې اوس ښکلې نۀ ښکاری. هغې زما بادشاه اؤ زۀ قتل کړے یم. ایماندار د ګناه د پاره مړ دے، اوس هغه د دې ډمې د حسن قیدی نۀ دے. د ګناه ډمې زما د خوږ دوست د مالک عیسی

مسيح ژوند اخستلے دے، اوس زما په زړهٔ کښې د دې د پاره هيڅ ځائ نشته دے. اوس هغه زما دښمنه ده.

اوس زما په نوی ژوندون باندې صداقت حکومت کوی. " هغهٔ زمونږ ګناهونه سولئ ته دَ خپل ځان سره يوړل دَ دې دَ پاره چې مونږ ګناهونو ته مړهٔ شو اؤ دَ صداقت دَ پاره ژوند تيروو. . (اول پطروس ۲ : ۲۴ ). د مالک عيسیٰ مسيح حسن زما د روح ی خواهش دے، هغه مالک عيسیٰ چا چې ما سره مينه ولرله اؤ زما په خاطر يې خپل ځان قربان کړو. اؤ کامل صداقت د مالک عيسیٰ حسن دے. اؤ اوس چې په کوم حکم باندې عمل کول زما خوښ دی هغه دا دے ( اؤ زهٔ تاسو ته بلنه درکوم چې تاسو هم ما سره په دې کښې شامل شئ ). " د دې نه پس تاسو دَ خپل وجود اَندامونه دَ ګناه دَ پاره مهٔ اِستعمالوئ اؤ خپل ځانونه خدائ ته وسپارئ، داسې لکه مړهٔ چې بيا راژوندی شوی دی، اؤ خپل اَندامونه هغهٔ ته دَ صداقت دَ پاره اِستعمالوئ " ( روميان ۶ : ۱۳ ).

## مالک عيسىٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولئ کيدو د پاره راغلو: ۳۱

# د پاره د دې چې مونږ د شريعت د پاره مړۀ شو اؤ د مالک خدائ د پاره ميوه پيدا کړو

*" تاسو هم دَ شريعت نه په خپل مرګ آزاد شوی يئ ځکه تاسو دَ عيسىٰ دَ وجود سره تړلی يئ اؤ اوس دَ هغۀ خپل شوی يئ چې هغه دَ مړو نه بيا ژوندے شوے دے، د دې دَ پاره چې مونږ دَ خدائ نبۀ خدمت وکړو " ( روميان ۷ : ۴ ).*

کله چې مالک عيسىٰ مسيح مړ شو نو د هغۀ سره مونږ هم مړۀ شو. مالک خدائ په مونږ باندې نظر وکړو ځوک چې د ايمان په وسيلې سره د مالک عيسىٰ مسيح سره يو شوی دی. زمونږ د ګناهونو د پاره د مالک عيسىٰ مسيح مرګ په حقيقت کښې په هغۀ کښې زمونږ مرګ وو. ( وروستی سبق ته وګورئ ). خو صرف ګناه واحد حقيقت نۀ وو د څۀ په وجه چې مونږ اؤ مالک عيسىٰ مړۀ شو. دې سره د خدائ پاک شريعت هم دا کار سر ته ورسولو. کله چې مونږ د ګناه کولو سره د شريعت خلاف ورزی وکړه نو شريعت مونږ ته د مرګ سزا راکړه. کۀ چرې شريعت نۀ وے نو سزا به هم نۀ وه. " . . . . . . ، خو چرته چې شريعت نشته نو هلته دَ شريعت ماتول هم نشته " ( روميان ۴ : ۱۵ ). خو " . . . . دَ شريعت ټول کلام دَ هغه چا دَ پاره دے ځوک چې دَ شريعت دَ لاندې دے، د دې دَ پاره چې . . . . ټوله دنيا دَ خدائ په مخکښې مجرمه کړے شی " ( روميان ۳ : ۱۹ ).

د شريعت د لعنت نه بچ کيدل مشکل وو. لکه داسې چې مونږ مجرمان وو. د آزادئ د پاره مونږ سره صرف يوه طريقه وه اؤ هغه دا وه چې زمونږ په ځائ باندې يو بل تن زمونږ سزا برداشت کړی. نو هم د دې د پاره مالک عيسىٰ مسيح دې دنيا ته راغلو : "مسيح مونږ په

بيعه واخستو اؤ دَ شريعت دَ لعنت نه يې راخلاص کړلو ځکه چې هغه زمونږ دَ پاره لعنتى شو " ( ګلتيان ۳ : ۱۳ ).

کهٔ چرې مونږ په مالک عيسىٰ مسيح کښې يو نو شريعت مونږ مجرمولے نهٔ شى. د عيسىٰ مسيح په مونږ باندې د حکومت کولو اختيار په دوو طريقو سره ختم کړے شوے دے. اول، مالک عيسىٰ مسيح زمونږ د پاره د شريعت ټولې غوښتنې پوره کړې دى. هغهٔ چې په شريعت پوره عمل کړے وو نو هغه زمونږ په کهاته کښې وليکلے شو. ( ۱۱ باب وګورئ ). دويم ، شريعت ته چې کوم زيان رسيدلے وو هغه قيمت مالک عيسىٰ مسيح په خپلې وينې ادا کړو.

هم دا وجه ده چې کتاب مقدس مونږ ته په واضحه طور باندې تعليم راکوى چې د خدائ پاک په حضور کښې صادق کيدل په شريعت باندې عمل کولو سره ممکن نهٔ دى. "اؤ يو سړے به هم په شريعت دَ عمل کولو دَ خدائ په وړاندې صادِق نهٔ وى . . . . " ( روميان ۳ : ۲۰ ). " . . . . سړے دَ شريعت په عملونو نه، بلکه صرف په عيسىٰ مسيح په ايمان راوړلو صادِق کيږى. . . . " ( ګلتيان ۲ : ۱۲ ). په شريعت باندې عمل کولو سره د خدائ پاک نه د روغې اُميد لرل بې ضائع دى. مونږ صرف د مالک عيسىٰ مسيح د وينې اؤ د صداقت نه دا اُميد لرلې شو، اؤ صرف په مالک عيسىٰ مسيح ايمان راوړلو سره مونږ خدائ پاک سره روغه کولے شو. " مونږ دا وايو چې خدائ سړے دَ ايمان په وسيله صادِق کوى، نهٔ چې په شريعت دَ عمل کولو " ( روميان ۳ : ۲۸ ).

کهٔ چرې مونږ د شريعت د پاره مړهٔ يو اؤ اوس يې په مونږ باندې هيڅ اختيار نشته دے، نو بيا مونږ څهٔ رنګه مالک خدائ خوشحالولے شو؟ آيا شريعت د خدائ پاک دَ نيکې اؤ پاکې مرضئ څرګندونه نهٔ کوى څهٔ ( روميان ۷ : ۱۲ )؟ کلام مقدس مونږ ته دا جواب راکوى چې اوس مونږ د شريعت ملکيت نهٔ يو کوم چې مونږ نه غوښتنه کوى اؤ مونږ مجرموى. بلکه اوس مونږ د شريعت په ځائ باندې د مالک عيسىٰ مسيح ملکيت يو څوک چې مونږ له راکوى اؤ زمونږ نه مطالبه هم کوى. مخکښې چې به کومه د صداقت غوښتنه کيدله نو هغه غوښتنه په کاڼى ليکلے شوې وه. خو اوس صداقت د مالک عيسىٰ مسيح سره د تعلق په وجه په مونږ کښې يو خواهش پيدا کوى. مالک عيسىٰ مسيح د روح په

وسيله زمونږ په کمزوريانو کښې مدد کوی. يو ژوندی سړی يو خطر ناک فهرست ختم کړو. " . . . . .ځکه چې ليکلے شريعت وژل کوی خو روح ژوندے کوی " ( دويم کورنتيان ۳ : ۲ ) اؤ ( باب ۱۴ هم ولولئ ).

نو هم په دې وجه باندې پاک کلام وائی چې د خدائ پاک د فرمانبردارئ يو نوے انداز په شريعت باندې عمل کول نۀ دی بلکه ميوه راوړل دی. " . . . . تاسو هم دَ شريعت نه په خپل مرګ آزاد شوی يئ ځکه تاسو دَ عيسیٰ دَ وجود سره تړلی يئ اؤ اوس دَ هغۀ خپل شوی يئ چې هغه دَ مړو نه بيا ژوندے شوے دے، د دې دَ پاره چې مونږ دَ خدائ بنۀ خدمت وکړو " ( روميان ۷ : ۴ )..مونږ په شريعت باندې د عمل کولو د پاره مړۀ شوی يو، د پاره د دې چې مونږ دَ ميوې راوړلو دَ پاره ژوند تير کړو. په حقيقت کښې خو ونه ميوه راوړی . کۀ بوټے بنۀ وی نو ميوه به يې هم بنۀ وی اؤ په دې حواله کښې ونه د مالک عيسیٰ مسيح سره د مينې ژوندے تعلق دے. هم د دې د پاره هغۀ خپل ځان قربان کړو. اوس هغه مونږ له دعوت راکوی چې راشئ اؤ " په ما باندې بهروسه وکړئ. " د شريعت په اعتبار مړۀ شئ چې د مينې ميوه پيدا کړئ.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۳۲

# د دې لائق جوړولو د پاره چې مونږ خپل ژوند
# د مالک عیسیٰ مسیح د پاره تیر کړو نۀ چې د خپل ځان د پاره

*" اؤ هغه دَ دې خاطره دَ ټولو دَ پاره مړ شو چې څوک چې ژوندی دی هغه دې بیا دَ ځان دَ پاره نۀ وی ژوندی بلکه دَ هغۀ دَ خاطره دې ژوندی وی څوک چې دَ هغوئ دَ پاره مړ شو اؤ بیا ژوندے شو"* (دویم کورنتیان **۵ : ۱۵**).

د ډیرو خلقو د پاره دا خبره ډیره زیاته مشکله ده چې مسیح، مسیح له د جلال ورکولو دَ پاره مړ شو. دویم کورنتیان **۵ : ۱۵** د دې خبرې د نچوړ راویستلو د پاره دا وائی چې مالک عیسیٰ مسیح زمونږ د پاره مړ شو د پاره د دې چې مونږ د هغۀ د پاره ژوند تیر کړو. وړاندې تاسو ولوستل چې هغه زمونږ د پاره مړ شو چې مونږ د هغۀ ښۀ خدمت وکړو اؤ مونږ نه د هغۀ نوم ته جلال ملاؤ شی. لنډه دا چې مسیح هم مسیح له د جلال ورکولو د پاره مړ شو.

اوس دا خبره بالکل ربښتیا ده. دا صرف د خلې خبرې نۀ دی. اؤ د ګناه کار دا دے چې مونږ خدائ پاک له جلال ورکولو کښې ناکامه شوی یو، اؤ په دې کښې د هغۀ زوئ له جلال ورکولو کښې ناکامی هم شامله ده. (رومیان **۳: ۲۳** ) مالک عیسی مسیح د دې ګناه ختمولو اؤ مونږ له د دې نه خلاصون راکولو د پاره مړ شو. هغه د هغه بې عزتئ اوچتولو د پاره مړ شو کومه چې مونږ د خپلې ګناه په وجه هغۀ باندې بار کړه. هغه د دې د ختمولو د پاره مړ شو. مسیح، مسیح له دَ جلال ورکولو د پاره مړ شو.

دا خبره د ډیرو خلقو د پاره ځکه د تکلیف سبب ګرځی چې هغوئ ته دا بې کاره اؤ بې مقصده ښکاری. دا کار د مینې نه ډک نۀ ښکاری. بهر حال دا دَ عیسیٰ مسیح تکلیفونه، څۀ چې بائبل مقدس وائی، دَ هغې اُلټه جوړوی، اؤ د کتاب مقدس په مطابق د مینې عمل ته غوره والے حاصل ده. خو په حقیقت کښې په دې خبرو کښې دواړه څیزونه شامل دی. د مالک عیسی مسیح خپل ځان له جلال ورکولو د پاره مړ کیدل اؤ د خپلې مینې د ښکارنې کولو د پاره مړ کیدل، نۀ صرف دا دواړه خبرې رښتیا دی، بلکه دا دواړه خبرې یو دی.

د مالک عیسیٰ مسیح مثال نشته دے. بل یو سړی هم داسې نۀ شو کولے، اؤ دې ته یې دَ مینې نوم نۀ شو ورکولے. په دنیا کښې صرف د مالک عیسیٰ مسیح هغه اوچته هستی وه څوک چې خدائ هم دے اؤ انسان هم دے. اؤ هم په دې وجه هغه د ډیر زیات قدر قابل دے. اؤ هغه هم په خپل اخلاقی کاملیت کښې بې انتها زیات ښکلے دے. هغه ډیر زیات حکمت والا، صادق، لوئ، ښۀ اؤ قوت ناک دے. " هغه دَ خدائ دَ جلال مظهر اؤ دَ هغۀ دَ ذات عکس دے . . . . . " ( عبرانیان ۱ : ۳ ). د هغۀ لیدل اؤ د هغۀ پیژندل د دنیا د ټولو خزانو جمع کولو نه ډیر زیات د اطمینان اؤ د خوشحالئ نه ډک دی.

*چا چې مالک عیسیٰ مسیح ښۀ طریقې باندې وپیژندلو نو هغوئ دا ووئیل : " خو چې څومره خبرې زما دَ ګټې وې، هم هغه ما دَ مسیح دَ خاطره نقصان وګڼلې. بلکه ما دَ مسیح عیسیٰ دَ خاطره هر څۀ نقصان وګڼلو، دَ دې دَ پاره چې هغه زما مالک دے، اؤ زۀ دَ هغۀ پیژندل دَ هر څۀ نه زیات قیمتی ګڼم. دَ هغۀ دَ خاطره ما هر څۀ پریښودل اؤ هغه ګندګی ګڼم چې مسیح ومومم. " ( فیلیپیان ۳ : ۷ ، ۸ ).*

مالک عیسیٰ مسیح مړ شو د پاره د دې چې مونږ د هغۀ د پاره ژوند تیر کړو. د دې دا مطلب نۀ دے چې مونږ د هغۀ مدد وکړو. " هغه دَ بنی آدم دَ څۀ څیز محتاج نۀ دے چې دَ بنی آدم دَ لاسه خدمت آخلی " ( اعمال ۱۷ : ۲۵ ). اؤ نۀ مالک عیسیٰ مسیح " ځکه چې اِبن

آدم هم دَ دې دَ پاره نۀ دے راغلے چې خدمت واخلی بلکه دَ دې دَ پاره راغلے دے چې دے دَ نورو خدمت وکړی اؤ چې خپل ژوندون دَ ډیرو په بدل کښې په فدیه ورکړی " ( مرقوس ۱۰ : ۴۵ ).

مالک عیسیٰ مسیح د دې د پاره مړ نۀ شو چې ګنې مونږ دې د هغۀ مرسته وکړو ، بلکه د دې د پاره چې مونږ دې هغۀ ته د یو لوئې اؤ د قدردانې هستۍ په طور باندې وګورو اؤ د هغۀ د جلال نه دې مزه واخلو. هغه د دې د پاره مړ شو چې مونږ د خرابو خواهشونو د غلامۍ نه آزاد شو اؤ د هغۀ د ښائست مینه وال جوړ شو. اؤ هغه هم په دې طریقه مونږ سره مینه لری اؤ مونږ هم هغۀ له عزت اؤ جلال ورکوو. دا دواړه جدا جدا مقصدونه نۀ دی بلکه دا هم یو دی.

مالک عیسیٰ مسیح خپلو شاګردانو ته وفرمائیل چې هغۀ له آسمان ته تلل ضروری دی د پاره د دې چې هغه د هغه ځائ نه مددګار یعنی روح القدس راواستوی ( یوحنا ۱۲ : ۷ ) . بیا هغۀ هغوئ ته وفرمائیل چې کله مدد ګار راشی نو هغه به خپل کار سر ته ورسوی : " هغه به زما جلال ښکاره کوی . . . . " ( یوحنا ۱۲ : ۱۴ ) . مالک عیسیٰ مسیح مړ شو اؤ بیا ژوندے شو د پاره د دې چې هغه مونږ ووینو اؤ د هغه حمد و ثنا وکړو. هم دا مینه ده. د مالک عیسیٰ مسیح د ټولو نه زیاته د مینې نه ډکه دعا دا وه : "اے پلاره ! دا خلق چې تا ما له راکړی دی زۀ غواړم چې دوئ دې زما سره وی چرته چې زۀ یم، چه دوئ زما جلال ووینی کوم چې تا ما له راکړے دے . . . ." ( یوحنا ۱۷ : ۲۴ ). د دې د پاره مالک عیسیٰ مسیح مړ شو. دا ده مینه. . . . هغۀ مونږ له د ابدی خوشحالۍ راکولو د پاره یعنی خپل ځان مونږ له راکولو د پاره مصیبتونه وزغمل.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو: ۳۳

# خپل صلیب زمونږ د فخر بنیاد جوړولو د پاره

*" خو خدائ دې نۀ کړی چې زۀ په څۀ فخر وکړم بغیر دَ عیسیٰ مسیح دَ سولئ نه، چه په هغې دنیا زما په نزد په سولئ شوله اۆ زۀ دَ دنیا په نزد " (ګلتیان ۶ : ۱۴ ).*

عجیبه خبره ده چې صرف په سولئ باندې فخر وکړے شی! واقعی؟ صرف اۆ صرف په سولئ باندې؟ حالانکه بائبل مقدس مونږ ته د نورو څیزونو په باره کښې د فخر کولو خبره کوی. د مالک خدائ په لوئ اُمید باندې فخر کوئ ( رومیان ۵ : ۲ ). په خپلو تکلیفونو فخر کوئ ( رومیان ۵ : ۳ ). په خپلو کمزوریانو باندې فخر کوئ ( دویم کورنتیان ۱۲ : ۹ ). د مالک عیسیٰ مسیح په خلقو باندې فخر کوئ ( اول تسالونیکیان ۲ : ۱۹ ). دلته د لفظ " صرف " نه مطلب څۀ دے؟

د دې مطلب دا دے چې زمونږ د ټول فخر مرکز دې صرف سولئ وی. کۀ مونږ د خدائ پاک په لوئ اُمید باندې فخر وکړو ، نو دا فخر دې هم د مسیح د سولئ فخر وی. کۀ چرې مونږ د مالک عیسیٰ مسیح په خلقو باندې فخر وکړو نو دا فخر دې هم د مسیح په سولئ فخر وی. صرف په سولئ باندې د فخر کولو مطلب دا دے چې صرف سولئ د دې قابله ده چې نور فخر کول صحیح اۆ جائز جوړوی. اۆ هر یو ښۀ فخر له پکار دی چې د سولئ د عزت سبب وګرځی.

ولې؟ ځکه چې هر هغه ښۀ څیز زمونږ په خاطر ( عن تر دې پورې چې هر یو خراب څیز مالک خدائ په ښۀ څیز باندې بدل کړو ) د سولئ په وجه مونږ ته را کړے شو. آو، ګناه ګارانو ته هم ډیر زیات ښۀ څیزونه ملاویږی. خو د کلام مقدس تعلیم دا دے چې کۀ چرې مونږ د ژوندون دا قدرتی برکتونه اۆ د مالک عیسیٰ مسیح د تکلیفونو بنیاد په شکر

ګزارئ سره قبول نۀ کړو ، نو په آخره کښې به دا څیزونه د خدائ پاک په عدالت کښې زمونږ د سختئ سبب ګرځی ( رومیان ۲ : ۴ ، ۵ ).

په مالک عیسیٰ مسیح باندې د بهروسه کوونکو په حیثیت چې کوم برکتونو نه مونږ فائده اوچتوو هغه ټول برکتونه مونږ ته د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ په وسیله ملاؤ شوی دی. د هغۀ مصیبتونو هغه سزا لواړه تیره کړه کومه سزا چې د ګناه ګارو د پاره وه، اؤ هر هغه څۀ چې ښۀ وو هغۀ هغه هر څۀ په بیعه واخستل د پاره د دې چې هغه معاف شوی ګناه ګاران د هغې نه فائده اوچته کړی. اؤ په دې هر څۀ چې مونږ فخر کوو نو د دې ټول فخر دې مونږ د سولئ د پاره وکړو. مونږ مالک عیسیٰ مسیح له هغه ځائ نۀ ورکوو کوم چې هغۀ له ورکول پکار دی اؤ سولئ هم په مونږ باندې دومره ګرانه نۀ ده څومره چې پکار ده، ځکه چې مونږ ټول په دې حقیقت باندې دومره غور نۀ کوو چې هر ښۀ څیز اؤ هر بد څیز ، کوم چې مالک خدائ په ښو څیزونو باندې بدل کړو ، هغه د مالک عیسیٰ مسیح مصیبتونو زغملو سره په بیعه اخستلې شوی دی.

مونږ سولئ څنګه د توجو مرکز جوړولے شو؟ پکار دے چې دا حقیقت مونږ رابیدار کړی چې کله مالک عیسیٰ مسیح په سولئ مړ شو نو مونږ هم د هغۀ سره مړۀ شو ( ۳۱ باب ولولئ ). کله چې پولوس رسول دې خبرې سره مخامخ شو نو هغۀ دا ووئیل، " .... دنیا زما په نزد په سولئ شوله اؤ زۀ دَ دنیا په نزد " ( ګلتیان ۶ : ۱۴ ). د مالک عیسیٰ مسیح په سولئ د فخر کولو مرکز دا دے.

کله چې ستاسو بهروسه په مالک عیسیٰ مسیح باندې وی نو د دنیا د حد نه زیات ښائست والی زور ختم شی. تاسو د دنیا د پاره د یو لاش په شان یئ اؤ دنیا ستاسو د پاره د یو لاش په شان ده. یا په ښۀ طریقې سره به درته داسې ووایم چې تاسو " نوی مخلوق " یئ ( ګلتیان ۶ : ۱۵ ). ستاسو زوړ انسانیت مړ شوے دے. اوس ستاسو نوې انسانیت په تاسو کښې ژوند تیروی. . . . هغه انسانیت چې په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان لری. د هغه ایمان څرګندې خوبئ دا دی چې دا مالک عیسیٰ مسیح ته د دنیاوی ټولو څیزونو نه زیات اهمیت اؤ فضیلت ورکوی. د دنیا هغه طاقت کوم چې ستا د مینې خپل طرف ته د را اړولو صلاحیت لری هغه طاقت یې ورله ختم کړو.

د دنيا په نزد د مړ کيدو مطلب دا دے چې د دنيا هره جائزه اؤ درسته خوشحالی د دې خبرې ګواهی جوړيږی چې د مالک عيسیٰ مسيح مينې دا په خپله وينه باندې په بيعه اخستلې ده اؤ دا خبره په سولئ باندې د فخر کولو موقع جوړيږی. کله چې زمونږ په زړونو کښې د هغه د برکت د پاره مينه پيدا شی د څۀ سر چينه چې سولئ ده نو په هغه برکت کښې د دې موجوده دنياداریٔ مرګ وی اؤ بيا د مالک عيسیٰ مسيح سولئ هر څۀ هر څۀ وی.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو : ۳۴

# زمونږه د دې قابل جوړولو د پاره چې په هغۀ باندې د ایمان نه ډک ژوند تیر کړو

*" زۀ دَ مسیح سره په سولئ شوے یم اؤ اوس زۀ ژوند ے نۀ یم بلکه مسیح په ما کښې ژوند ے د ے. اؤ زۀ چې اوس کوم ژوندون لرم نو دَ خدائ په زوئ په ایمان راوړلو کښې یې تیروم چا چې زما سره مینه کړې ده اؤ خپل ځان یې زما دَ خاطره ورکړو "* (ګلتیان ۲ : ۲۰ ).

په دې حواله کښې په واضحه طور باندې تضاد د ے " زۀ . . . . د مسیح سره په سولئ شوے یم " خو " زۀ چې اوس کوم ژوندون لرم " . تاسو به د دې په باره کښې څۀ وایئ چې "دا تضاد نۀ د ے بلکه یو کړئ ( سلسله ) ده. اول، زۀ د مالک عیسیٰ مسیح سره مړ شوم، بیا زۀ د هغۀ سره ژوند ے پاڅیدم اؤ اوس زۀ د هغۀ سره ژوندون تیروم. بلکل صحیح ! خو د دې خبرې په باره کښې ستا څۀ خیال د ے کومه خبره چې ډیره مخالفه ښکاری. " اوس زۀ ژوند ے نۀ یم " بیا هم " زۀ چې اوس کوم ژوندون لرم " ؟ آیا زۀ ژوند ے یم اؤ کۀ نۀ یم ژوند ے؟

د پولوس مطلب دا د ے چې زما زوړ ژوند ختم شو ، اؤ اوس زۀ یو مختلف ژوند تیروم. اؤ د عیسائې کیدو مطلب هم دا د ے. زوړ بنی آدم مړ شی. اؤ نوے بنی آدم " نوے مخلوق " یا " د مړو نه ژوند ے شوے " کس وی. " دَ دې دَ پاره که څوک په مسیح کښې وی نو هغه نوے مخلوق د ے. . . . " ( دویم کورنتیان ۵ : ۱۷ ). " چې مونږ چې دَ ګناهونو په وجه مړۀ وو نو مونږ یې دَ مسیح سره بیا ژوندی کړو. . . . اؤ خدائ مونږ دَ مسیح عیسیٰ سره راژوندی کړو " ( افسیان ۲ : ۵، ۶ ).

مالک عیسیٰ مسیح هم د دې مقصد د پاره په سولئ شو چې هغه زمونږ " زوړ انسانیت " د ځان سره قبر ته یوړو اؤ هلته کښې د دې خاتمه وشوه. " زمونږ زوړ انسانیت هغهٔ سره د دې د پاره په سولئ کړے شو چې د ګناه بدن بې کاره کړی . . . . ؟ ( رومیان ۶ : ۶ ). کهٔ چرې مونږ په مالک عیسیٰ مسیح باندې توکل کوو نو بیا مونږ د هغهٔ سره یو شو اؤ خدائ پاک زمونږ زوړ انسانیت د مالک عیسیٰ مسیح سره مړو کښې حسابوی . د دې مقصد وو چې مړهٔ په نوی انسانیت کښې ژوندی کړی.

نو بیا دا نوے انسانیت څوک دے؟ په دې دواړو انسانیتونو کښې څهٔ فرق دے ؟ زهٔ نوے بنی آدم یم یا زوړ بنی آدم یم ؟ د دې باب اولنے آیت نوے انسانیت په دوؤ طریقو سره بیانوی: اولنئ طریقه خو تقریباً د انسانیت د تصور نه هم بهر ده اؤ دویمه طریقه ډیره ساده شان ده. اولنئ طریقه مونږ ته ښودنه کوی چې د مالک عیسیٰ مسیح په مونږ کښې پاتې کیدل نوے انسانیت دے. " اؤ اوس زهٔ ژوندے نهٔ یم بلکه مسیح په ما کښې ژوندے دے. " زما په خیال کښې د دې نه مطلب دا دے چې نوی انسانیت کښې د مالک عیسیٰ مسیح حضوری اؤ هر وخت د هغهٔ د مرستې اؤ د مدد شرف ما ته حاصل دے. هغه په ژوند تیرولو کښې ما سره شریک دے. هغه ما له تل طاقت را کوی چې زهٔ د هغهٔ ټول حکمونه ومنم. نو د دې د پاره کتاب مقدس مونږ ته وائی چې " مسیح چې ما ته توان راکوی په هغهٔ کښې زهٔ هر څهٔ کولے شم." ( فیلیپیان ۴: ۱۳ ). " اؤ دَ دې دَ پاره زهٔ دَ مسیح دَ هغه قوت په مطابق دَ زړهٔ سره خواری کوم چې په ما کښې په زور اثر کوی " ( کولوسیان ۱ : ۲۹ ). د دومرهٔ څهٔ اؤریدو اؤ وئیلو نه پس نوے انسانیت دا بیانوی " ځکه چې زهٔ دَ هغه خبرو کولو جرات کوم چې مسیح زما په وسیله کړې دی " ( رومیان ۱۵ : ۱۸ ).

د ګلتیانو ۲ : ۲۰ آیت کښې د نوی انسانیت بیانولو اولنئ طریقه هم دا ده چې مالک عیسیٰ مسیح په ما کښې اوسی، مالک عیسیٰ زما مرسته کوونکے دے، مالک عیسیٰ ما ته طاقت را کوی. هم د دې هر څهٔ کولو د پاره مالک عیسیٰ مسیح مړ شو. اؤ هم داسې عیسایان دی. د نوی انسانیت د بیانولو د پاره دویمه طریقه دا ده چې : دا هره یوه لحظه کښې په مالک عیسیٰ مسیح باندې بهروسه کوی اؤ داسې ژوند تیریږی. " اؤ زهٔ چې اوس

کوم ژوندون لرم نو دَ خدائ په زوئ په ايمان راوړلو کښې يې تيروم چا چې زما سره مينه کړې ده اؤ خپل ځان يې زما دَ خاطره ورکړو " .

د نوی انسانيت په دې خيال کښې د دې دويم بيان په موجودګئ کښې مونږ د حيرانئ اؤ د فکر مندئ په جال کښې راګيريدے شو چې هره ورځ د ميسح د مدد د تجربې حاصلولو د پاره مونږ له څۀ کول پکار دی. اوس مونږ سره د دې جواب شته دے اؤ هغه جواب دے ايمان راوړل. مالک عيسیٰ مسيح په مونږ کښې ژوند تيروی اؤ مونږ د دې قابل جوړوی چې مونږ هغه شان ژوند تير کړو څنګه چې هغۀ مونږ ته د ژوند تيرولو تعليم راکړے دے. دا د هغۀ کار دے. خو زمونږ کار هم دا دے چې مونږ دې هره لحظه په مالک عيسیٰ مسيح باندې بهروسه وکړو اؤ د هغۀ د رفاقت اؤ د مدد تجربه دې کوو. د دې حکم ثبوت چې هغه به زمونږ ملګرے اؤ مرستيال وی دا حقيقت دے چې هغۀ د دې هر څۀ کولو د پاره مصيبتونه وزغمل اؤ خپل ځان يې قربان کړو.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو ۳۵

# د ښځې خاوند رشتې له اصل مقصد اؤ مفهوم ورکولو د پاره

*" اے خاوندانو! دَ خپلو ښځو سره مینه کوئ لکه څنګه چې مسیح دَ جماعت سره مینه کړې ده اؤ خپل ځان یې دَ هغۀ دَ پاره مرګ ته سپارلے دے" (افسیان ۵ : ۲۵ ).*

کتاب مقدس د ښځې اؤ د خاوند د ژوندون یو عکس ښائی چې خاوند دې د خپلې ښځې سره هم هغه شان مینه ولری لکه چې مسیح یې د خپلو خلقو سره لری. اؤ د دې په جواب کښې دې ښځه هم د خپل خاوند سره هغسې سلوک وکړی لکه څنګه چې د مالک عیسیٰ مسیح خلق د هغې سره سلوک کوی. کله چې خدائ پاک مالک عیسیٰ مسیح دې دنیا ته راوستولو نو د هغۀ په ذهن کښې هم داسې تصویر وو. مالک عیسیٰ مسیح د خپلې ناوې د پاره دې دنیا ته راغلو اؤ خپل ځان یې د هغې د پاره قربان کړو د پاره د دې چې هغه داسې کولو سره څرګنده کړی چې ښځې اؤ خاوند له په کومه طریقه یو بل سره ژوند تیرول پکار دی.

دا مثال دا نۀ وائی چې ګنې خاوندان دې د خپلو ښځو د لاسه تکلیفونه وزغمی. دا خبره رښتیا ده چې مالک عیسیٰ مسیح په یو لحاظ دې تجربې سره مخامخ شو. هغۀ د خپلې ناوې په وجود کښې راوستلو د پاره مصیبتونه وزغمل د پاره د دې چې هغې له ژوندون ورکړی. اؤ کومو خلقو چې هغۀ له تکلیف ورکړو هغوئ هم په دې ناوې کښې شریک وو. اؤ دا خبره هم د مالک عیسیٰ مسیح د پاره د غم سبب وګرځیده کله چې د هغۀ شاګردانو هغه یواځې پریښودو اؤ هغوئ ټول ترې نه وتښتیدل ( متی ۲۲ : ۵۴ ). د دې مثال مهم خبره دا ده چې مالک عیسیٰ مسیح تر دې حده پورې خپله مینه څرګنده کړه چې خپل ځان یې قربان کړو، خو هغوئ یې رد نۀ کړل.

د وادهٔ په باره کښې د خدائ پاک اولنئ منصوبه مونږ د حضرت آدم علیه السلام اؤ د بې بې حوا اؤ پس له هغې نه مونږ د مالک عیسیٰ مسیح دې دنیا ته راتلو سره ګورو. دا خبره مونږ ته معلومه ده ځکه چې کله مالک عیسیٰ مسیح د وادهٔ د راز په باره کښې خبرې کولې نو هغه د وضاحت د پاره د بائبل مقدس اولنی کتاب ته لاړو اؤ دا حواله د پیدایښت ۲ : ۲۴ آیت وو : " . . . . سړے خپل مور اؤ پلار پرېږدی اؤ د ښځې سره یو ځائ وی، اؤ دواړه یو بدن شی ". اؤ د دې نه پس هغه د دې حوالې وضاحت کوی چې : " دا یو لوئ راز دے خو زهٔ یې دَ عیسیٰ اؤ جماعت په حقله وایم " ( افسیان ۵ : ۳۱ ، ۳۲ ).

د دې مطلب دا دے چې خدائ پاک په شروع کښې وادهٔ داسې ډول سره جوړ کړو چې دا د مسیح اؤ د خلقو په مینځ کښې تعلق څرګند کړی. وادهٔ ته د "راز " وئیلو وجه هم دا ده چې د مالک عیسیٰ مسیح تر راتلو پورې د ښځې خاوند د ژوند د مقصد په پوره طور باندې وضاحت نهٔ وو شوے. اوس مونږ ګورو چې د ښځې خاوند د ژوند مطلب دے چې په دې دنیا کښې هغه مینه نوره هم زیاتول کومه مینه چې مالک عیسیٰ مسیح خپلو خلقو سره کوی.

په شروع کښې دا د خدائ پاک په ذهن کښې وو، اؤ کله چې مرګ د مالک عیسیٰ مسیح په وړاندې وو نو د هغهٔ په ذهن کښې هم دا وو. هغهٔ ته معلومه وه چې د هغهٔ په مصیبتونو زغملو کښې یو مقصد د وادهٔ د ژور والی مفهوم هم آسانول دی. د هغهٔ د تکلیف زغملو مقصد دا وو چې هغه په خاص توګه باندې د خاوندانو د پاره یوه نمونه جوړ شی د پاره د دې چې هر یو خاوند د خپلې ښځې سره هم داسې مینه ولری.

دا خبره د خدائ پاک د منصوبې حصه نهٔ وه چې د ښځې اؤ د خاوند ژوند دې د بدحالئ اؤ مشکلاتو سبب وګرځی ، خو افسوس چې بې شمیره خلق په مصیبت کښې پراتهٔ دی. د دې وجه ګناه ده. هم په دې وجه باندې مونږ د یو بل سره بد سلوک کوو. مالک عیسیٰ مسیح زمونږ د دې عمل بدلولو د پاره مصیبت وزغملو اؤ خپل ځان یې قربان کړو. د دې بدلون د پاره مالک عیسیٰ مسیح ښځو ته هم یوه ذمه واری ورکړې ده. خو خاوندانو له مالک عیسیٰ مسیح یوه خاص ذمه واری ورکوی نو هم په دې وجه باندې کتاب مقدس مونږ ته وائی چې ، " اے خاوندانو! دَ خپلو ښځو سره مینه کوئ لکه څنګه چې مسیح دَ

جماعت سره مينه کړې ده اؤ خپل ځان يې دَ هغۀ دَ پاره مرګ ته سپارلے دے " (افسيان **۵ : ۲۵**) .

خاوندان خو عيسیٰ نۀ دے، خو خاوندانو ته د هغۀ په شان جوړيدلو د پاره وئيلے شوی دی. اؤ د مالک عيسیٰ په شان جوړيدلو د پاره يوه اهم خبره دا ده چې خاوندان دې خپلو ښځو ته دهمکيانی نۀ ورکوی اؤ نۀ دې هغوئ يروی هغوئ ته دې کنځل نۀ کوی اؤ بد رد دې ورته نۀ وائی بلکه د هغوئ د خاطره دې د تکليفونو د پاره هر وخت تيار وی. په دې کښې هغه تکليفونه هم شامل دی کوم چې تاسو دَ خپلې ښځې دَ حفاظت دَ پاره برداشت کوئ، يعنی کوم خلق چې ستاسو ښځې ته نقصان رسوی، نو هغوئ نه دَ حفاظت دَ پاره. اؤ هغه تکليفونه هم کوم چې دَ ښځې دَ بدسلوکئ يا جنګ جګړې په وجه وی. اؤ داسې مينه کول ممکن دی، ځکه چې مالک عيسیٰ مسيح د خاوند اؤ د ښځې دواړو د پاره مړ شو. د هغوئ ګناهونه معاف کړے شول. اوس د هغه ګناهونو د پاره يو ځل بيا د تکليفونو تيرولو هيڅ ضرورت نشته دے. مالک عيسیٰ مسيح يو ځل د هميشه د پاره تکليفونه زغملی دی. اوس د دوو ګناه ګارو اؤ د معاف شوو بنديانو په حيثيت مونږ د بدئ په بدل کښې ښۀ کولے شو.

مالک عيسیٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولې کيدو د پاره راغلو: ۳۶

# مونږ په نيک کارونو کښې
# يو محنتي اُمت جوړولو د پاره

*" چا چې خپل ځان زمونږ دَ پاره ورکړو چې مونږ دَ هر قِسم نافرمانۍ نه خلاص کړی اؤ پاک مو کړی، اؤ په خپل خاص ملکيت کښې مو يو داسې خلق وګرزوی کوم چې دَ ښۀ کارونو دَ پاره په کار آخته وی "*

*(تيطوس ۲ : ۱۴) .*

د عيسائيت د حقيقت نچوړ دا دے چې مونږ هغه خلق يو کوم چې معاف شوی دی اؤ خدائ پاک مونږ قبول کړی يو، زمونږ د نيکو اعمالو په وجه نه، بلکه د دې د پاره چې مونږ د هغۀ د پاره په ښۀ کارونو کښې آخته يو. په کتاب مقدس کښې ليکلے شوی دی چې ". (خدائ پاک) چې مونږ ته يې خلاصون راکړو . . . . زمونږ دَ کارونو په وسيله نه " (دويم تيموتيوس ۱ : ۹). زمونږ د قبليدو بنياد زمونږ نيک عملونه نۀ دی، بلکه د دې ميوه ده. مالک عيسیٰ مسيح د دې د پاره مصيبتونه وزغمل اؤ خپل ځان يې ورکړو" چې . . . پاک مو کړی، . . . . خاص ملکيت کښې مو يو داسې خلق وګرزوی کوم چې دَ ښۀ کارونو دَ پاره په کار آخته وی " (تيطوس ۲ : ۱۴) .

د فضل هم دا مطلب دے. چې مونږ د نيکو کارونو په وسيله د خدائ پاک سره تعلق نۀ شو لرلے اؤ نۀ صلح کولے شو. پکار دے چې د صلح د پاره يا د خلاصون د پاره مونږ ته بخښنه ملاؤ شی. اؤ مونږ دا بخښنه د ايمان په وسيله حاصلولے شو اؤ دا د يوې عظيمې خزانې په طور باندې ځان سره ساتلے شو. هم په دې وجه کتاب مقدس مونږ ته وائی چې " ځکه چې تاسو دَ ايمان په وسيله په فضل خلاصون موندلے دے، دا ستاسو له طرفه نه نۀ، بلکه دَ خدائ بخښنه ده. اؤ دا دَ عملونو په سبب نۀ ده، دَ پاره دَ دې چې څوک فخر ونۀ کړی

" ( افسیان ۲ : ۸ ، ۹ ). مالک عیسیٰ مسیح تکلیفونه اوچت کړل اؤ مړ شو د پاره د دې چې زمونږ نیک عملونه زمونږ د قبلیدو سبب نه، بلکه زمونږ د قبلیدو نتیجه وی.

نو د حیرانیدو ضرورت نشته د ے کله چې راتلونکې جمله مونږ ته دا ښودنه کوی چې " . . . . مونږ دَ مسیح عیسیٰ په یووالی کښې دَ هغه ښۀ کارونو دَ پاره پیدا شوی یو " ( افسیان ۲ : ۱۰ ) .یعنی مونږ ته د نیک عملونو د پاره خلاصون ملاؤ شو، د نیکو عملونو په وجه نه. اؤ د مالک عیسیٰ مسیح مقصد صرف دا نۀ وو چې مونږ د دې قابل شو ، بلکه دَ ښۀ کارونو دَ پاره په کار آخته اوسو. د دې د پاره په پاک کلام کښې دا ټکے " آخته " استعمال شو ے د ے. مالک عیسیٰ مسیح مونږ په ښۀ کارونو آخته کولو د پاره مړ شو. د آخته کیدو مطلب د ے مشغول. مالک عیسیٰ مسیح صرف د دې د پاره خپل ځان قربان نۀ کړو چې ګنې زمونږ په وجه دې نیک عملونه کول ممکن کړی یا دې مونږ په نیم ګړی زړۀ سره د دې د پاره کوشش کول شروع کړو. هغه د دې د پاره مړ شو چې زمونږ په زړۀ کښې د نیکو عملونو جذبه پیدا کړی. د عیسائیت پاک والے صرف د بدئ نه مخ اړول نۀ دی بلکه د هغې نه ځان ساتل اؤ د نیکئ د پاره کوشش کول دی.

مالک عیسیٰ مسیح په مونږ کښې د نیک عملونو د جذبې پیدا کولو د پاره دومره زیات قیمت ولې ورکړو، د دې وجې دا دی. هغۀ مهم وجه په دې لفظونو سره بیان کړه : " اؤ تاسو هم دغه رنګ دَ خلقو دَ وړاندې رڼا خوره کړئ دَ دې دَ پاره چې هر کله چې هغوئ ستاسو ښۀ کارونه ووینی نو هغوئ به ستاسو دَ پلار چې په آسمان کښې د ے، لوئی بیان کړی " ( متی ۵ : ۱۲ ). د عیسایانو د نیک کارونو په سبب د خدائ پاک لوئی کیږی. اؤ هم د دې لویئ اؤ جلال په خاطر مالک عیسیٰ مسیح غم وزغملو اؤ خپل ځان یې قربان کړو.

کله چې خدائ پاک مونږ قبول کړی اؤ مونږ له معافی راکړی نو هغه مونږ د یرې، غرور، اؤ د لالچ نه خلاصوی نو لکه څنګه چې مونږ سره مینه وکړ ے شوه،نو هم داسې په مونږ کښې د نورو د پاره د مینې جذبه رابیداره شی. مونږ خپل ځانونه اؤ خپل جائیداد قربانوو ځکه چې مونږ په مالک عیسیٰ مسیح کښې محفوظ یو. اؤ کله چې مونږ نورو سره هم داسې مینه کوو نو بیا زمونږ دَ ژوند طریقه د انسان د هغه طریقې په شان نۀ وی د څۀ په بنیاد چې انسان خپلو برکتونو اؤ خپل حفاظت له تل زیات اهمیت ورکوی. دا زمونږ توجو د

هغه پاکې هستئ طرف ته بوځی څوک چې زمونږ ژوندون بدلوی اؤ مونږ له تحفظ راکوی، یعنی خدائ پاک.

اؤ دا " نیک عملونه " څۀ دی ؟ د بائبل مقدس په مطابق د دې مطلب دے چې د عقیدو، اؤ د رنګ اؤ د نسل فرق ونۀ لرو بلکه د خلقو په ضرورتونو کښې دې د هغوئ سره مدد وکړو، په خاص طور باندې د هغه خلقو څوک چې ډیر زیات غریبانان وی اؤ په غمونو کښې خپل ژوند تیروی. لیکلے شوی دی چې " زمونږ خلق دې هم په ښۀ کارونو کښې آخته وی، دَ دې دَ پاره چې حاجت پیښ شی نو ورسره څۀ وی، اؤ بې کاره دې نۀ کښینی " (تیطوس ۳ : ۱۴). مالک عیسیٰ مسیح په مونږ کښې دا جذبه رابیداره وی چې مونږ دې د غریبانانو اؤ د غمژن انسانیت مرسته اؤ مدد وکړو اؤ هغه هم د داسې غریبانانو په خاطر مړ شو. دا ډیر ښکلے اؤ غوره ژوند دے، د دې نه علاوه مونږ له په دې دنیا کښې کۀ هر څۀ قیمت ادا کول وی نو مونږ دې ادا کړو چې : هغوئ ته مدد ملاویږی، اؤ دې سره مونږ ته خوشحالی ملاویږی اؤ خدائ پاک ته جلال ملاویږی.

## مالک عيسیٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولئ کيدو د پاره راغلو: ٣٧

# د پاره د دې چې مونږ د مالک عيسیٰ مسيح په نرم مزاج اؤ د مينې په نمونه باندې روان شو

*" ځکه چې که څوک دَ خدائ په خيال ناحق مصيبتونه اؤ درد وزغمی نو دا غوره ده. . . . اؤ تاسو دَ دې دَ پاره رابللې شوی يئ، ځکه چې مسيح هم ستاسو دَ پاره مصيبت وزغملو اؤ تاسو ته يې يوه نمونه درکړې ده چې دَ هغهٔ په قدم روان شئ " (اول پطروس ٢ : ١٩ - ٢١ ).*

*" نو بيا په هغه چا غور وکړئ چا چې دَ ګناه ګارانو دومره مخالفت وزغملو، چې تاسو همت بائې نهٔ لئ. اؤ تاسو دَ ګناه سره په جنګ کښې تراوسه داسې مقابله نهٔ ده کړې چې په کښې مړګونه شوی وی."*
*( عبرانيان ١٢ : ٣ ، ٤ ).*

*" هم هغه شان خوئ لرئ لکه څنګه چې دَ مسيح عيسیٰ وو. هغه اګر که دَ خدائ په صورت وو دَ خدائ سره برابريدل يې په قبضه کښې دَ ساتلو څيز ونهٔ ګڼلو. بلکه خپل ځان يې دَ هغه ټولو اِختيارونو نه خالی کړو اؤ دَ غلام شکل يې اِختيار کړو، اؤ دَ اِنسان په شان شو. اؤ په اِنسانی جُسه کښې ښکاره شو، خپل ځان يې عاجز کړو اؤ دومره تابعدار شو چې مرګ، بلکه دَ سولئ مرګ يې وزغملو " ( فيليپيان ٢ : ٥ - ٨ ).*

د هغهٔ په نقش قدم باندې تللو سره مونږ ته خلاصون نهٔ ملاویږی، خو د هغهٔ په نقش قدم تلل د خلاصون سبب ضرور ګرځی. مالک عیسیٰ مسیح اول زمونږ دَ پاره دَ یوې نمونې په طور نهٔ وو راغلے بلکه دَ یو خلاصوونکی په طور راغلے وو. ایماندار ته اول په خپل ژوند کښې د مالک عیسیٰ مسیح په وسیله معافی ملاویږی، اؤ پس له دې نه د هغهٔ نمونه. د مالک عیسیٰ مسیح په ژوند کښې دا دواړه خبرې په یو ځائ وشوې. زمونږ د معافئ د پاره هغهٔ تکلیفونه وزغمل اؤ د معافئ راکولو په تکلیف زغملو کښې د هغهٔ مینه لاژواله وه د کومې مینې په لار چې مونږ له تلل پکار دی.

په حقیقت کښې کله چې مونږ ته دَ مالک عیسیٰ مسیح معافی ملاویږی، نو هله بیا هغه زمونږ د پاره یو نمونه جوړیدے شی. دا خبره ټیک نهٔ ښکاری، ځکه چې د هغهٔ تکلیفونه بې مثاله دی. د هغهٔ په شان بل هیڅوک نهٔ شی کولے. صرف د خدائ زوئ " زمونږ د پاره " هغه مصیبت اوچتولے شو کوم چې هغهٔ په خپل ځان اوچت کړو. هغهٔ زمونږ ګناهونه داسې اوچت کړل چې بل چا هغه نهٔ شو اوچتولے. هغهٔ زمونږ د پاره فدیه ورکړه اؤ مصیبت یې وزغملو. صادِق ستاسو دَ ګناهونو دَ خاطره یو ځل همیشه دَ پاره مړ شو. د ګناه ګارو د پاره چې مالک عیسیٰ مسیح کوم تکلیف وزغملو هغه تکلیف بل هیڅوک هم نهٔ شی زغملے.

د هغهٔ بې مثاله تکلیفونه ګناه ګارو له معافی ورکوی اؤ پس د هغې نه هغوئ صادق کوی اؤ بیا د هغوئ نه داسې خلق جوړوی څوک چې د مالک عیسی مسیح په شان عملونه کوی. هغوئ د هغهٔ په شان معافی خو نهٔ شی ور کولے خو د هغهٔ په شان خلقو سره مینه لرلے شی. اؤ هغوئ دَ مالک عیسیٰ مسیح په شان دَ تکلیف په وخت هم نورو سره ښهٔ کوی. اؤ د مالک عیسی مسیح په شان د بدئ په بدل کښې بد نهٔ خوښوی. عاجز اؤ نرم مزاجه جوړیدو کښې د هغهٔ په شان وی. په صبر کښې د هغهٔ په شان وی. خادم جوړیدو کښې د هغهٔ په شان. مالک عیسیٰ مسیح زمونږ په خاطر ډیر لوئ مصیبت اوچت کړو د پاره د دې چې کله مونږ مینه لرلو نو مونږ دې هم د هغهٔ سره مصیبت برداشت کړو.

د مالک عیسیٰ مسیح رسول حضرت پولوس رسول ووئیل چې د هغهٔ دا لوئ خواهش دے چې مونږ دې اول مالک عیسیٰ سره په صداقت کښې شریک شو کوم چې ایمان سره

مونږ ته ملاویږی، اؤ پس له هغې دې مونږ د هغهٔ سره په خدمت اؤ په مصیبتونو کښې هم شامل شو. " اؤ په هغهٔ ( مالک عیسیٰ ) کښې وموندلے شم، نه چې دَ خپل صداقت سره چې دَ شریعت په وسیله دے بلکه دَ هغه صداقت په وسیله کوم چې په مسیح دَ ایمان دَ راؤړلو په وسیله دے. . . . هغهٔ سره په غمونو کښې شریک شم اؤ دَ هغهٔ په مرګ کښې دَ هغهٔ په شان شم " ( فیلیپیان ۳ : ۹ ، ۱۰ ). صداقت اولنے قدم دے اؤ دا مونږ د دې جوګه کوی چې مونږ د مالک عیسیٰ مسیح په نقش قدم باندې لاړ شو. زمونږ صداقت مونږ د مالک عیسیٰ مسیح د زغم جوګه کوی چې مونږ د هغهٔ په خدمت کښې تکلیف وزغمو. کله چې مونږ د نورو د پاره مصیبت برادشت کوو نو دې سره مونږ د خدائ پاک غصه یخوو. اؤ دا مونږ ته دا ښودنه کوی چې څنګه مالک عیسیٰ مسیح د خدائ پاک غصه یخه کړې وه. دې سره خلق د مالک عیسیٰ طرف ته را اؤړی.

کله چې بائبل مقدس مونږ ته وائی چې مونږ " . . . . . . دَ غوره شوو دَ خاطره دا هر څهٔ په ځان تیروؤ دَ دې دَ پاره چې هغوئ هم دَ هغه خلاصون چې دَ مسیح عیسیٰ په وسیله دے دَ ابدی جلال خاوندان شی " ( دویم تیموتیوس ۲ : ۱۰ ). نو د دې مطلب دا دے چې کله مونږ د مالک عیسیٰ مسیح په نقش قدم باندې ځو نو دې سره مونږ د خلقو توجو د هغهٔ طرف ته راولو ځوک چې واحد نجات یعنی خلاصونکے دے. کله چې مونږ مصیبت زغمو نو دا اهمیت لری، خو خلاصون صرف مالک عیسیٰ مسیح ورکولے شی. نو راځئ چې د هغهٔ د مینې پیروی وکړو، اؤ د هغهٔ ځائ دې وانهٔ خلو.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو: ۳۸

# د سولۍ اوچتوونکو خلقو جماعت جوړولو د پاره

*"که څوک زما مریدی خوښوی نو هغه دې خپل خواهشات شاته وغورزوی اؤ هره ورځ دې هغه خپله سولۍ پورته کوی اؤ په ما پسې دې راځی" (لوقا ۹ : ۲۳).*

*" داسې سړے زما لائق نۀ دے څوک چې خپله سولۍ نۀ پورته کوی اؤ زما په قدم نۀ ځی" ( متی ۱۰ : ۳۸ ).*

مالک عیسیٰ مسیح د دې د پاره مړ شو چې ځان سره نور خلق د سفر د پاره تیار کړی څوک چې به د هغۀ سره یو ځائ د کیږئ په لار لاړ شی. کیږئ د هغه غر نوم دے په کوم غر چې مالک عیسیٰ په سولۍ شوے وو. هغۀ ته ښۀ معلومه وه چې د هغۀ ژوند به یو ورځ هغه دې ځائ پورې رارسوی. په حقیقت کښې " هغۀ بیت المقدس ته په پخه اِراده مخه وکړه " ( لوقا ۹ : ۵۱ ). مرګ د هغۀ مقصد وو اؤ یو څیز هم داسې نۀ وو چې د هغۀ د دې مقصد په لار کښې خنډ جوړ شی. هغۀ ته دا معلومه وه چې مرګ به په کوم ځائ کښې اؤ په کوم وخت باندې هغۀ له راځی. کله چې هغۀ بیت المقدس ته په پخه اِراده مخه وکړه نو په لاره کښې چا ورله خبردارے ورکړو چې د هیرودیس بادشاه له اړخ نه د هغۀ ژوند ته خطره ده. خو هغۀ دا خیال دې وئیلو سره رد کړو چې هیرودیس د مالک خدائ په منصوبه کښې هیڅ کله خنډ نۀ شی جوړیدے. " لاړ شئ اؤ هغه لومبړے ته ووایئ چې واؤره! نن اؤ صبا به زۀ پیریان وباسم اؤ دَ روغولو کار به کوم اؤ په دریمه ورځ به خپل کمال ته ورسم " ( لوقا ۱۳ : ۳۲ ). هر څۀ د خدائ پاک د منصوبې په مطابق مخ په وړاندې روان وو. اؤ کله چې د انجام مقرر شوے وخت رانزې شو نو د سولۍ کیدو نه یو ورځ مخکښې د شپې چې کله ګنه راغله اؤ هغه یې ونیولو نو هغۀ هغوئ ته ووئیل چې ،

" دا هر څۀ هم څکه وشول چې هغه څۀ رښتیا ثابت شی کوم چې نبیانو لیکلی دی" ( متی **۲۲ : ۵۲** ) .

په یو لحاظ خو د کېږئ لاره هغه مقام دے چرته چې هر یو کس مالک عیسیٰ مسیح سره ملاقات کوی. دا رښتیا دی چې مالک عیسیٰ مسیح په دې لار باندې لاړو اؤ په مرګ باندې اؤ په قبر باندې یې فتح ومونده. اؤ اوس پاس په آسمان کښې تر دوباره راتلو پورې بادشاهی کوی. خو کله چې عیسیٰ مسیح نن د چا سره ملاقات کوی نو دا ملاقات همیشه د کېږئ په لاره باندې وی، یعنی د سولۍ په لار باندې. د کېږئ په لار باندې چې هغه چا سره هم ملاویږی نو هغوئ ته دا خبرې کوی " . . . . که څوک زما مریدی خوښوی نو هغه دې خپل خواهشات شاته وغورزوی اؤ هره ورځ دې هغه خپله سولۍ پورته کوی اؤ په ما پسې دې راځی " ( لوقا **۹ : ۲۳** ). مالک عیسیٰ مسیح د دې مقصد د پاره په سولۍ باندې ځوړند کړے شو چې نورو خلقو ته دعوت ورکړی چې د هغۀ پیروی وکړی.

د دې وجه دا نۀ ده چې مالک عیسیٰ مسیح له نن بیا مړ کیدل پکار دی، بلکه مونږ له مړۀ کیدل پکار دی. کله چې هغه مونږ له حکم راکوی چې خپله سولۍ اوچته کړئ نو په حقیقت هغه مونږ ته دا وائی چې مونږ راشو اؤ خپل ځان قربان کړو. سولۍ د سزا ورکولو د پاره یوه ویرونکې طریقه وه. د مالک عیسیٰ مسیح په دور کښې خو سولۍ دَ یو کالی په طور باندې اچول د تصور کولو نه هم بهر خبره وه. دا کول لکه داسې وو چې په خپله غاړه کښې د بجلۍ کرسۍ اچول ( **electric chair** ) کوم ځائ چې قاتلانو ته سزا ورکړے کیږی ) یا په غاړه کښې د پانسۍ اچولو په شان وی. د هغۀ دې خبرو به ضرور د خلقو زړۀ یرولے وی " داسې سړے زما لائق نۀ دے څوک چې خپله سولۍ نۀ پورته کوی اؤ زما په قدم نۀ ځی " ( متی **۱۰ : ۳۸** ) .

دا خبرې نن مونږ له په سنجیدګۍ سره په خپل ژوندون کښې استعمالول پکار دی. زما د پاره د دې خبرو مطلب دا دے چې کله زۀ د خپل خدائ پاک اؤ د خلاصوونکی په طور باندې د مالک عیسیٰ مسیح پیروی کوم نو دا لازمی ده چې زما زوړ فطرت اؤ خود غرضی په سولۍ شی. ما له پکار دی چې زۀ هره ورځ د ګناه د پاره مړ شم اؤ د خدائ پاک د پاره خپل ژوند تیر کړم. د ژوندون لار هم دا ده. " . . . . هم دغه شان تاسو خپل ځانونه دَ ګناه دَ پاره مړۀ

وګټۍ اؤ دَ عیسیٰ مسیح سره په شامليدو کښې دَ خدائ په نزد ژوندی یئ " ( رومیان ۶ : ۱۱ ).

خو د کپرۍ په لار باندې د سفر ملګری جوړيدو مطلب د دې نه ډير زيات ژور دے. اؤ هغه دا دے چې مالک عیسیٰ مسیح مړ شو د پاره د دې چې مونږ د هغۀ سپکاوې په خپل ځان باندې اخستلو د پاره راضی شو. " ځکه خو عیسیٰ . . . . دَ ښار دَ دروازې نه بهر تکلیف وزغملو. نو راځئ چې دَ هغۀ په سپکاوی کښې شریک شو اؤ خیمه ګاه نه بهر هغۀ له لاړ شو " ( عبرانیان ۱۳ : ۱۲ ، ۱۳ ). خو صرف سپکاوے زغمل کافی نۀ دی. کۀ چرې ضرورت را پيښ شی نو مونږ له خپل ځان ورکولو نه هم انکار کول نۀ دی پکار. کتاب مقدس د مالک عیسیٰ مسیح د ځنې پیروکارو داسې تصویر ښودلے دے چې: " هغۀ دَ ګډوری دَ وینې په وسیله اؤ د ګواهۍ دَ کلام په وجه غالب شول ، اؤ خپل ځان یې هم عزیز ونۀ ګڼلو تر دې چې مرګ یې هم قبول کړو " ( مکاشفه ۱۲ : ۱۱ ). حالانکې د خدائ پاک ګډوری خپله وینه توئ کړه د پاره د دې چې مونږ د هغۀ په وینې توکل وکړو اؤ په شیطان بریالی شو اؤ کۀ ضرورت راپيښ شی نو خپله وینه دې هم توئ کړو. مالک عیسیٰ مسیح مونږ ته دعوت راکوی چې مونږ د کپرۍ په لار باندې روان شو. دا یو سخت اؤ مناسب ژوند دے. راځئ چې په دې لار باندې تلل شروع کړو.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۳۹

# مونږ له د مرګ د ویرې نه د خلاصون د پاره

*" بیا لکه چې دَ هغۀ بچی اِنسانان دی، دغه شان عیسیٰ هم اِنسان شو دَ دې دَ پاره چې دَ مرګ په وسیله هغه څوک چې په مرګ یې قدرت حاصل وو، یعنې اِبلیس ، تباه کړی، اؤ څوک چې ټول عمر دَ مرګ دَ ویرې په غلامۍ کښې ګرفتار وو ، هغوئ خلاص کړی"*
*( عبرانیان ۲ : ۱۴ ، ۱۵ )*

مالک عیسیٰ مسیح شیطان ته قاتل وئیلی دی " . . . . هغه دَ اوله سره قاتل وو اؤ په حقیقت کښې پاتې نۀ شو اؤ نۀ په کښې څۀ حقیقت شته. . . . هغه دروغژن دے اؤ پلار دَ دروغو دے " ( یوحنا ۸ : ۴۴ ). د شیطان د خوښې کار قتل کول نۀ دی بلکه دا دے چې په انسان باندې لعنت راولی اؤ هغه د سزا حق دار کړی. په اصل کښې هغه دې خبرې ته زیات اهمیت ورکوی چې د هغۀ پیروکار لوئ اؤ د خوشحالۍ نه ډک ژوندون تیر کړی ، اؤ د پاکانو مصیبتونو پورې خنداګانې وکړی اؤ د دوزخ ویرونکے حقیقت ترې نه پټ وساتلے شی.

د شیطان دومره طاقت نشته دے چې انسان لعنتی کړی اؤ یا هغۀ ته سزا ورکړی، بلکه دا څیزونه په هغه ګناهونو کښې موجود دی د څۀ په حقله چې هغه ښودنه کوی اؤ په هغه دروغو کښې موجود دی کوم چې هغه وائی. صرف یو څیز خلقو له د مرګ سزا ورکوی اؤ هغه څیز ګناه ده کومه چې نۀ وی بخښلے شوې. کوډې جادو، دم درود ، ساخت تعویذ ، مړو روحونو سره خبرې اترې ، زیارتونه منل وغیره، دا ټول څیزونه یو کس هم دوزخ ته نۀ شی بوتلے. خو دا ټول څیزونه د شیطان د طرف نه اشارې اؤ علامتونه دی. هغۀ سره یوه خطرناکه وسله ده په هغه وسله باندې هغه مونږ له دهوکه راکوی. د هغۀ خاص دروغ دا دی چې هغه زمونږ په زړۀ کښې خپل ځان له د جلال ورکولو خیال اچوی اؤ غواړی چې مونږ

مالک عیسیٰ مسیح له جلال ور نهٔ کړو هغه صداقت باندې ګناه له ترجیح ورکول غواړی. کهٔ چرې د هغهٔ د لاس نه دا وسله واخستلے شی نو بیا هغهٔ ته به په ابدی مرګ باندې قدرت حاصل نهٔ وو.

هم دې کار کولو د پاره مالک عیسیٰ مسیح دې دنیا ته راغلو یعنی د شیطان نه دې وسلې اخستلو د پاره. داسې کولو د پاره هغهٔ زمونږ ګناهونه په خپل ځان باندې واخستل اؤ زمونږ د ګناهونو سزا یې تیره کړه. د دې نه پس بیا شیطان سره دا اختیار نهٔ وو چې هغه ګناهونه زمونږ خلاف استعمال کړی. آیا هغه مونږ پورې خندا کولے شی؟ آؤ جی. آیا هغه مونږ پورې ټوکې کولے شی؟ آؤ جی. آیا هغه مونږ له د لعنت اؤ یا د مرګ سزا راکولے شی؟ نه. مالک عیسیٰ مسیح زمونږ په ځائ لعنت اوچت کړے دے. کهٔ شیطان یو لاکھ ځله هم کوشش وکړی، خو هغه مونږ نهٔ شی تباه کولے. د خدائ پاک غضب زمونږ نه لرے کړے شوے دے. د هغهٔ رحم زمونږ ډال دے. اؤ زمونږ مخالف شیطان هیڅ کله کامیابیدے نهٔ شی.

د خلاصون منصوبې پوره کولو د پاره مالک عیسیٰ مسیح په انسانی وجود کښې دې دنیا ته راغلو ځکه چې د دې نه علاوه هغه په سولئ کیدے نهٔ شو. د خدائ پاک د زوئ مرګ هغه هستی تباه کولے شوه کومې ته چې په مرګ باندې قدرت حاصل وو. حالانکه بائبل مقدس مونږ ته ښودنه کوی چې ، " بیا لکه چې دَ هغهٔ بچی اِنسانان دی،( انسانی فطرت لرونکی دی ) دغه شان عیسیٰ هم اِنسان شو دَ دې دَ پاره چې دَ مرګ په وسیله هغه څوک چې په مرګ یې قدرت حاصل وو، یعنې اِبلیس ، تباه کړی " ( عبرانیان ۲ : ۱۴ ). کله چې مالک عیسیٰ مسیح زمونږ د ګناهونو د پاره مړ شو نو هغهٔ د شیطان د لاس نه هغه خطر ناکه وسله واخستله ، یعنی نهٔ بخښلے شوې ګناه.

داسې کولو کښې د مالک عیسیٰ مسیح مقصد دا وو چې مونږ د مرګ د ویرې نه آزاد کړی. هغهٔ خپل ځان قربان کړو د هغه ټولو کسانو د پاره " څوک چې ټول عمر دَ مرګ دَ ویرې په غلامئ کښې ګرفتار وو ، هغوئ خلاص کړی " ( عبرانیان ۲ : ۱۵ ). د مرګ ویره مونږ غلامان جوړوی. دا زمونږ په زړهٔ کښې ویره پیدا کوی اؤ مونږ نه بې وقوفان جوړوی. مالک عیسیٰ مسیح مونږ له آزادئ راکولو د پاره مړ شو. د مینې په وجه خپل ځان قربانولو سره

هغهٔ د مرګ ويره تباه اؤ برباده کړه، نو هم په دې وجه اوس تهول خندوونه ختم شول. مونږ اوس آزاد يو چې د مالک عيسیٰ مسيح په شان مينه ولرو عن تر دې پورې کهٔ دې دَ پاره مونږ له خپل ځان هم قربانول وی.

شيطان زمونږ وجود خو مړ کولے شی، خو هغه زمونږ روح نۀ شی مړ کولے. ځکه چې زمونږ روح په مالک عيسیٰ مسيح کښې محفوظ دے. عن تر دې پورې چې هغه به زمونږ فانی بدن دوباره را ژوندے کړی. " . . . . چا چې عيسیٰ دَ مړو نه ژوندے کړے دے، هغه به ستاسو دې فانی وجودونو ته هم نوے ژوند ورکړی، دَ هغهٔ دَ روح په وسيله چې په تاسو کښې اوسی " ( روميان ۸ : ۱۱ ). مونږ د تهولو خلقو نه زيات آزاد يو. اؤ په کتاب مقدس زمونږ د آزادئ مقصد دا دے چې : " . . . . تاسو دَ آزادئ دَ پاره رابللې شوی يئ، خو دا آزادی خپل جسمانی شوقونو دَ پاره مهٔ اِستعمالوئ بلکه دَ مينې سره دَ يو بل خدمت کوئ " ( ګلتيان ۵ : ۱۳ ).

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۀ کیدو د پاره راغلو: ۴۰

# زمونږ د مرګ نه پس سمدستی مونږ
# د خپل ځان سره په رفاقت کښې شاملولو د پاره

*" اؤ هغه (مالک عیسیٰ) زمونږ دَ خاطره ځکه مړ شو چې که مونږ*
*بیدار یو یا که اودۀ، تۀول دَ هغۀ سره ژوند تیر کړو "*
*(اول تسالونیکیان ۵ : ۱۰).*

*" ځکه چې ژوند ے پاتې کیدل زما دَ پاره مسیح د ے اؤ مړ کیدل ګټه. .*
*. زۀ په دواړه طرفه ښبتے یم. زړۀ خو مې دا غواړی چې رخصت شم اؤ*
*مسیح ته لاړ شم ځکه چې دا ډیر زیات غوره د ے "*
*(فیلیپیان ۱ : ۲۱ ، ۲۳).*

*" غرض دا چې زمونږ تسلی ده چې مونږ دَ وجود غوندې کور به پریږدو*
*اؤ دَ مالِک سره اوسیدل زیات خوښوو "*
*(دویم کورنتیان ۵ : ۸).*

کتاب مقدس زمونږ د بدن په باره کښې خراب خیال نۀ لری. عیسائیت د زوړ یونانی مذهبونو په شان نۀ د ے کومو چې به بدن یو بوج ګڼلو اؤ د خپل ځان نه خلاصیدل به یې غوره ګڼل. نه، مرګ زمونږ دښمن د ے. اؤ کله چې زمونږ بدن مړ شی نو بیا مونږ نه یو قیمتی څیز ورک شی. مالک عیسیٰ مسیح زمونږ د بدن مخالفت نۀ کوی. د دې په باره کښې کتاب مقدس مونږ ته وائی چې " . . . . ولې بدن دَ حرامکارئ دَ پاره نۀ د ے بلکه دَ

مالک دَ پاره دے. اؤ مالک دَ بدن دَ پاره دے . . . " ( اول کورنتیان ۶ : ۱۳ ). دا بیان ځومره ښکلے دے چې " مالک د بدن د پاره " دے !

خو مونږ له دا بلکل نۀ دی وئیل پکار چې د بدن نه علاوه به زمونږ یا زمونږ د ژوند اهمیت ختم شی. کتاب مقدس مونږ ته دا تعلیم نۀ راکوی. مالک عیسیٰ مسیح نۀ صرف زمونږ د بدن د خلاصون د پاره مړ شو، بلکه د دې د پاره هم مړ شو چې زمونږ روح د خپل روح سره مضبوط وتړی چې د بدن نه بغیر به هم د هغۀ سره یو ځائ ژوند تیروو. مرګ اؤ ژوند ، د ایماندار د پاره دواړه د آرام اؤ د سکون ځایونه دی، مالک عیسیٰ مسیح د دې د پاره مړ شو چې مونږ د دې اُمید نه مزه واخلو.

یو طرف ته خو کتاب مقدس مونږ ته د مرګ په صورت کښې د وجود د ورکیدو په باره کښې وائی اؤ دا روح لکه د بربنډ والی په طور باندې پیش کوی چې : " ځکه چې په دې خیمه ( بدن ) کښې په اوسیدو مونږ دَ بوج دَ زوره په زبیرګو یو دَ دې دَ پاره نه چې مونږ دا جامه ویستل غواړو بلکه په دې باندې بله اغوستل غواړو " ( دویم کورنتیان ۵ : ۴ ). د دې حوالې په مطابق مونږ دا غواړو چې قبر ته تلو نه بغیر مونږ ته سمدستی ژوندے شوے بدن ملاؤ شی. خو د دې هر څه تجربه به هغه خلق کوی ځوک چې به د مالک عیسیٰ مسیح د راتګ په وخت ژوندی کیږی.

اؤ بل طرف ته کتاب مقدس د هغه مینځنی وخت د پاره خوشحالی کوی کوم کښې چې به زمونږ بدنونه په قبر کښې وی اؤ زمونږ روحونه به په آسمان کښې وی. دا زمونږ آخری جلالی حالت نۀ دے خو بیا هم ډیر ښکلے حالت دے. پاک کلام کښې لیکلے شوی دی چې ، " ځکه چې ژوندے پاتې کیدل زما دَ پاره مسیح دے اؤ مړ کیدل ګټه " ( فیلیپیان ۱ : ۲۱ ). " ګټه " آؤ جی ، د بدن نقصان، خو دا صرف د لږې مودې د پاره . په یو لحاظ لکه " بې جامو " بهرحال د ټولو نه غټه خبره دا ده چې ګټه! خو ولې؟ ځکه چې د یو عیسائی د پاره د مرګ مطلب دے مالک عیسیٰ مسیح سره ملاویدل، لکه څنګه چې حضرت پولوس رسول وائی چې " . . . . زړۀ خو مې دا غواړی چې رخصت شم اؤ مسیح ته لاړ شم ځکه چې دا ډیر زیات غوره دے " ( فیلیپیان ۱ : ۲۳ ).

" دا ډیر زیات غوره دے " ! خو دا اوس په هر یو لحاظ باندې ښۀ نۀ دے. اؤ دا هر څۀ به هله سر ته رسی کله چې زمونږ وجود د جلال نه ډک اؤ تکړه د قبر نه ژوندے راپورته کړے شی. خو فی الحال " دا ډیر زیات غوره دے " مونږ به مالک عیسیٰ مسیح سره بې حده نژدې اوسیږو اؤ د دې په باره کښې اولنو عیسایانو ووئیل چې " . . . . مونږ دَ وجود غوندې کور به پریږدو اؤ دَ مالِک سره اوسیدل زیات خوښوو " ( دویم کورنتیان ۵ : ۸ ). په مالک عیسیٰ مسیح باندې چې څوک ایمان لری د هغوئ بدن د مرګ نه پس نۀ ختمیږی ، بلکه مونږ مالک عیسیٰ له لاړ شو. اؤ بیا مونږ د مالک په " وطن کښې " یو. " دا ډیر زیات غوره دے" . دا " ګټه " ده.

په هغه وجوهاتو کښې یوه اهم وجه دا هم وه د څۀ د پاره چې مالک عیسیٰ مسیح مصیبتونه وزغمل. " اؤ هغه ( مالک عیسیٰ ) زمونږ دَ خاطره ځکه مړ شو چې که مونږ بیدار یو یا که اودۀ، ټول دَ هغۀ سره ژوند تیر کړو " ( اول تسالونیکیان ۵ : ۱۰ ). د ایماندار وجود خو په قبر کښې اودۀ وی، خو روح په آسمان کښې د هغۀ سره یو ځائ اوسیږی. دا زمونږ آخری اُمید نۀ دے. یوه ورځ به زمونږ بدن دوباره د قبر نه ژوندے راویستلے شی. خو د دې نه وړاندې د مالک عیسیٰ سره تعلق لرل دومره قیمتی دی چې په لفظونو کښې یې بیان ممکن نۀ دے.

## مالک عيسیٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولئ کيدو د پاره راغلو: ۴۱

## د مړو نه زمونږ د دوباره ژوندون يقيني جوړولو د پاره

*" نو کۀ چرې مونږ دَ هغۀ (مالک عيسیٰ) په مرګ کښې ورسره شامل شو نو دغه شان به دَ هغۀ په بيا ژوندی کيدو کښې هم يو"*
*(روميان ۶ : ۵).*

*" کۀ چرې دَ خدائ روح په تاسو کښې اوسی نو بيا خدائ چا چې عيسیٰ دَ مړو نه ژوندے کړے دے، به ستاسو دې فانی وجودونو ته هم نوے ژوند ورکړی، دَ هغۀ دَ روح په وسيله چې په تاسو کښې اوسی"*
*(روميان ۸ : ۱۱).*

*" دا خبرې رښتيا دی چې: که مونږ دَ هغۀ سره مړۀ شو نو دَ هغۀ سره ژوندی هم شو" (دويم تيموتيوس ۲ : ۱۱).*

د مرګ کنجيانی د مالک عيسیٰ مسيح په قبر کښې ځوړندې کړے شوې وې. قبر ته د تلو نه بغير هغۀ ډيرې معجزې کولے شوې، لکه چې دوه سړی يې ژوندی کړل اؤ د دولسو کالو جينئ راژوندئ کول. . .. خو هغوئ له دوباره مړکيدل وو (مرقوس ۵ : ۴۱، ۴۲. لوقا ۷ : ۱۴، ۱۵. يوحنا ۱۱ : ۴۳، ۴۴). کۀ چرې هغۀ څوک دَ نۀ مړ کيدو دَ پاره را ژوندی کول، نو بيا به مالک عيسیٰ مسيح د هغوئ د پاره مړ کيدو. هغۀ له پکار وو چې هغه کنجيانې اخستلو د پاره په قبر کښې ښخ شی اؤ د دننه نه د مرګ دروازه خلاصه کړی.

د مالک عيسیٰ مسيح د قبر نه راژوندی کيدل بخښنه اؤ د دې ثبوت دے چې د هغۀ مرګ د خلقو د ګناهونو ختمولو د پاره وو اؤ د خدائ پاک د غضب يخولو د پاره وو اؤ هغه

په مکمل توګه باندې په دې کښې کامياب شو. دا خبره تاسو په دې لفظونو" په دغه وجه" کښې ليدلے شئ. مالک عيسىٰ مسيح " . . . . خپل ځان يې عاجز کړو اؤ دومره تابعدار شو چې مرګ، بلکه دَ سولئ مرګ يې وزغملو. " په دغه وجه " خو خدائ هم هغه ډير سربلند کړو . . . . " ( فيليپيان ۲ : ۸ ، ۹ ). د خدائ زوئ په سولئ باندې چغې سره ووئيل " پوره شو " ( يوحنا ۱۹ : ۲۳ ). اؤ زوئ ژوندے کولو نه پس خدائ پاک وفرمائيل چې " بې شکه هر څۀ پوره شول " د مالک عيسىٰ مسيح مرګ زمونږ د ګناهونو فديه ورکړه اؤ د صداقت بنياد يې زمونږ د پاره کيښودو. اؤ د خدائ پاک د انصاف عظيمه تقاضه يې سر ته ورسوله.

قبر کښې دننه مالک عيسىٰ مسيح ته قدرت اؤ حق ورکړے شو چې هغه د مرګ کنجيانې تر لاسه کړی اؤ هغه ټولو کسانو د پاره دروازه کولاؤ کړی څوک چې په هغۀ باندې ايمان راوړی. د ګناهونو قيمت ادا کړے شوے دے، د صداقت بنياد اېښودے شوے دے، اؤ د خدائ پاک د انصاف تقاضه پوره کړے شوې ده نو اوس يو څيز هم مالک عيسىٰ مسيح اؤ د هغۀ خلق په قبر کښې نۀ شی ايسارولے. هم په دې وجه باندې مالک عيسىٰ مسيح په چغې سره وائی چې " اؤ القيوم، زۀ مړ وم خو اوس تل تر تله ژوندے يم اؤ دَ مرګ اؤ دَ عالم ارواح کنجيانې ما سره دی " ( مکاشفه ۱ : ۸ ).

بائبل مقدس د دې حقيقت اعلان کوی چې د مالک عيسىٰ مسيح د ملکيت جوړيدو مطلب دا دے چې مونږ به هم د هغۀ سره په قبرونو کښې ژوندی کړے شو. " نو کۀ چرې مونږ دَ هغۀ ( مالک عيسىٰ ) په مرګ کښې ورسره شامل شو نو دغه شان به دَ هغۀ په بيا ژوندی کيدو کښې هم يو " ( روميان ۶ : ۵ ). " ځکه چې مونږ ته دا يقين دے چې عيسىٰ چې مړ شو اؤ بيا ژوندے شو، نو دغه شان به خدائ هغه څوک هم چې دَ عيسىٰ په ايمان کښې مړۀ شوی دی، دَ عيسىٰ په وسيله دَ هغۀ سره راولی " ( اول تسالونيکيان ۴ : ۱۴ ). " خدائ مالک هم بيا ژوندے کړو اؤ مونږ به هم په خپل قدرت بيا ژوندی کړی " ( اول کورنتيان ۶ : ۱۴ ).

د مالک عيسىٰ مسيح د مرګ اؤ زمونږ د بيا راژوندی کيدو تر مينځه دا تعلق دے: " دَ مرګ لشه ګناه ده اؤ ګناه دَ شريعت نه خپل طاقت بيا مومی " ( اول کورنتيان ۱۵ : ۵۲ ).

مطلب يې دا دے چې مونږ ټولو ګناه وکړه اؤ شريعت داسې ګناه ګارو له د مرګ سزا ورکوی. خو په حواله کښې وړاندې ليکلے شوی دی چې " خو دَ خدائ شکر دے چې هغه مونږ ته دَ مالِک عيسىٰ مسيح په وسيله فتح راکوی." (آيت نمبر **۵۷**). په دې حواله کښې د مالک عيسىٰ مسيح ژوند اؤ مرګ د شريعت ټولې تقاضې پوره کړې. هم په دې وجه باندې زمونږ ګناهونه معاف کړے شول. هم په دې وجه باندې د ګناه لشه وويستلے شوه. نو هم په دې وجه څوک چې په مالک عيسىٰ مسيح باندې ايمان راوړی نو هغوئ ته به د ابدی مرګ سزا ملاؤ نۀ شی بلکه هغوئ به " په غير فانی حالت کښې راژوندی شی نو هغه قول به پوره شی چې ليکلې شوی دی چې: (( مرګ ختم کړے شو فتح وکړے شوه )) (اول کورنتيان **۱۵ : ۵۲، ۵۴**). په حيرانتيا سره مالک عيسىٰ مسيح له راشئ. هغه تاسو له دعوت درکوی: " زۀ قيامت يم اؤ زۀ ژوندون يم. کۀ څوک په ما ايمان لری کۀ هغه مړ هم شی نو هغه به بيا ژوندے وی " ( يوحنا **۱۱ : ۲۵**).

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۴۲

# حکومتونه اؤ د اختیار خلق بې وسلې کولو د پاره

*" هر څۀ چې مونږ دَ شریعت دَ حکمونو په خلاف قصورونه کړی وو، هغه په یوه روزنامچه کښې لیکلې شوی وو، هغۀ هغه دَ روزنامچې لیک په خپله وران کړو، یعنې هغه یې په سولۍ تَک وهلو، اؤ زمونږ دَ مخې نه یې لرې کړلو. اؤ هغه شان هغۀ دَ حکومتونو اؤ دَ اِختیار دَ خاوندانو وسلې واخستلې، یعنې دَ سولۍ په سبب هغوئ له دَ ماتې ورکولو سره یې دَ ټولو په مخکښې ماتې خوړلی دښمنان څرګند کړل"* (کولوسیان ۲ : ۱۴ ، ۱۵).

*" اؤ دَ خدائ زوئ له ازل نه ځکه ښکاره شو چې دَ اِبلیس کارونه برباد کړی"* (اول یوحنا ۳ : ۸).

په کلام مقدس کښې " د حکومتونو اؤ د اختیار " دا لفظونه د انسانانو د حکومت حواله هم ورکوی. خو کله چې مونږ په کتاب مقدس کښې لولو چې مالک عیسیٰ مسیح په سولۍ باندې " دَ حکومتونو اؤ دَ اِختیار دَ خاوندانو وسلې واخستلې، یعنې دَ سولۍ په سبب هغوئ له دَ ماتې ورکولو سره یې دَ ټولو په مخکښې ماتې خوړلی دښمنان څرګند کړل " نو مونږ له د شیطانی قوتونو په باره کښې سوچ کول پکار دی کوم قوتونه چې دنیا ته نقصان ورکوی. د دې شیطانی قوتونو په باره کښې چې د ټولو نه واضحه بیان دے هغه د افسیانو په کتاب کښې ۲: ۱۲ آیت دے. په دې آیت کښې لیکلے شوی دی چې عیسایانو له " دَ انسان خلاف جنګ نۀ دے پکار، بلکه دَ فساد دَ هغه روحانی لښکرو چې په آسمانی

ځایونو کښې دی، دَ حکومت دَ خاوندانو، دَ اِختیار لرونکو اؤ دَ دې دنیا دَ تیارې دَ حاکمانو خلاف پکار دے".

شیطان ته درې ځله د دنیا حاکم \ سردار وئیلے شوے دے. کله چې مالک عیسیٰ مسیح د خپل ژوند آخری وخت له ورتلو نو هغهٔ ووئیل چې ، " اوس دَ دې دنیا دَ پاره دَ عدالت وخت دے اؤ دَ دې دنیا سردار به بهر وویستلے شی " ( یوحنا ۱۲ : ۳۱ ). د مالک عیسیٰ مسیح مرګ د دې دنیا د سردار یعنی د شیطان د پاره آخری شکست وو. اؤ کله چې ابلیس ماتې وخوړو نو هغهٔ سره هغه تهولو فرښتو هم ماتې وخوړو کومې چې د شیطان سره راغورځولے شوې وې. مالک عیسیٰ مسیح خپل ځان قربان کړو اؤ په شیطان باندې غالب راغلو.

دا نهٔ ده چې ګنې د هغوئ وجود ختم شو. مونږ له خو اوس هم د هغهٔ سره د کشتئ کولو حاجت راپیښیږی. خو هغوئ ناکامه شوی دښمنان دی. مونږ ته معلومه ده چې مونږ په هغوئ باندې فتح موندونکی یو، داسې ښکاری چې د یوې لویې اژدها سر چې چخنی شوے دے اؤ اوس هغه خپلې آخری سلګئ اخلی. جنګ ګټلے شوے دے. خو مونږ له اختیاط کول پکار دی ځکه چې هغه اوس هم مونږ له نقصان راکولے شی.

د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ په وسیله خدائ پاک " هر څهٔ چې مونږ دَ شریعت دَ حکمونو په خلاف قصورونه کړی وو، هغه په یوه روزنامچه کښې لیکلې شوی وو، هغهٔ هغه دَ روزنامچې لیک په خپله وران کړو " ( کولوسیان ۲ : ۱۴ ؛ وګورئ ۷ باب ). " هغهٔ دَ حکومتونو اؤ دَ اِختیار دَ خاوندانو وسلې واخستلې، یعنې دَ سولئ په سبب هغوئ له دَ ماتے ورکولو سره یې دَ تهولو په مخکښې ماتے خوړلی دښمنان څرګند کړل ". د دې حوالې په مطابق اوس د خدائ پاک شریعت مونږ قصوروارہ نهٔ ګڼی، ځکه چې مالک عیسیٰ مسیح زمونږ قرض ورکړے دے، نو بیا مونږ باندې د دې الزام لګولو د پاره شیطان سره څهٔ بنیاد نشته دے.

د مالک عیسیٰ مسیح نه وړاندې د خدائ پاک خلق مجرمول د شیطان د تهولو نه لوئ کار وو. د " شیطان " د تکی مطلب دا دے چې " مخالفت کوونکے یا د الزام لګولو والا". خو

د یوحنا رسول دې بیان ته لږ غور کېږدئ چې د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ نه پس څۀ وشول : " بیا ما په آسمان کښې یو اوچت آواز په دې شان واؤریدو چې اوس خلاصون اؤ قدرت اؤ زمونږ دَ خدائ بادشاهی راغلې ده اؤ دَ هغۀ دَ مسیح اِختیار، ځکه چې زمونږ په ورونړو اِلزام لګوونکے چې شپه اؤ ورځ زمونږ دَ خدائ په مخکښې پرې اِلزام لګوی، له آسمان نه ګذار کړے شوے دے " ( مکاشفه ۱۲ : ۱۰ ). دې ته وئیلے شی د اختیار خاوندانو له اؤ حکومت له ماتې ورکول اؤ هغوئ لاندې راغورځول.

کوم ایمانداران چې مالک عیسیٰ مسیح سره یو والے لری نو هم د دې یو والی په وجه په هغوئ باندې هیڅ الزام قایم پاتې کیدے نۀ شی. " څوک دَ خدائ په غوره کسانو باندې اِلزام لګولے شی؟ چې خدائ په خپله دوئ صادقوی " ( رومیان ۸ : ۳۳ ). اوس خو نۀ انسان اَؤ نۀ شیطان په ایماندارانو باندې الزام لګولَے شی. اوس خو دا قانونی کاروائی سر ته رسیدلے ده. مالک عیسیٰ مسیح زمونږ د صداقت نخښه ده. چا چې به په مونږ باندې الزامونه لګولو اوس هغۀ په خپله شکست خوړلے دے. اؤ کۀ چرې هغه په آسمان کښې د خپلې خُلې پرانستو کوشش وکړی نو شرم به د هغۀ خُله بنده کړی . آها ، په دې دنیا کښې د مالک عیسیٰ مسیح خدمت کولو کښې اؤ د خلقو سره مینه لرلو کښې مونږ له څومره د آزادئ ضرورت دے! کوم خلق چې په مالک عیسیٰ مسیح کښې دی اوس په هغوئ باندې هیڅ الزام نشته دے. نو بیا راځئ چې د شیطان هر یو آزمیښت رد کړو. د هغۀ وعدې دروغژنې دی اؤ د هغۀ طاقت بې کاره کړے شوے دے.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولې کیدو د پاره راغلو: ۴۳

# د پاره د دې چې د انجیل په وسیله
# د خدائ پاک قدرت ډیر په ښۀ انداز سره کار وکړی

*" ځکه چې دَ سولې پیغام دَ هلاکیدونکو په نِزد بې وقوفی ده خو زمونږ*
*دَ نجات موندونکو په نِزد*
*دَ خدائ قدرت د ے"*
*(اول کورنتیان ۱ : ۱۸ ).*

*" زۀ له زیری نه نۀ شرمیږم*
*ولې چې دَ هرچا دَ پاره چې ایمان راؤړی دا*
*دَ خلاصون دَ پاره دَ خدائ قوت د ے، وړومبے دَ یهودیانو*
*دَ پاره بیا دَ غیر یهودیانو دَ پاره" ( رومیان ۱ : ۱۶ ).*

په یونانئ ژبه کښې د " انجیل " د ټکی مطلب د ے " زیر ے " . په یو لحاظ باندې خو دا یو خبر د ے. خبر د هغه ( حکم ) امر چې څۀ اهم کار شو ے د ے. زیر ے د دې خبرې اعلان د ے چې څۀ کار شو ے د ے کوم چې به د خلقو د خوشحالئ سبب ګرځی. انجیل شریف یو غوره زیر ے د ے، ځکه چې څۀ هم دا بیانوی نو هغه ابن آدم د تل د پاره خوشحالولے شی.

انجیل شریف د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ اؤ د قیامت په باره کښې ښودنه کوی . پولوس رسول د انجیل د زیری وضاحت څۀ په دې ډول باندې کوی :

*" زۀ به تاسو ته هغه زیر ے دریادوم . . . چې مسیح دَ کتابِ مقدس په مطابق*
*زمونږ دَ ګناهونو دَ پاره مړ شو، اؤ ښخ شو اؤ دَ کتاب مقدس په مطابق*

*په دریمه ورځ بیا ژوندے پاڅیدلو . . . . اؤ بیا ورونړو ته چې دَ پنځو سوو نه زیات وو چې یو ځل ښکاره شو چې په هغوئ کښې زیات کسان تر اوسه ژوندی دی .... " (اول کورنتیان ۱۵ : ۱ - ۷ ).*

د انجیل خلاصه دا ده چې " مالک عیسیٰ مسیح . . . . زمونږ دَ ګناهونو دَ پاره مړ شو، اؤ ښخ شو اؤ دَ کتاب مقدس په مطابق په دریمه ورځ بیا ژوندے پاڅیدلو . . . . اؤ بیا ورونړو ته چې دَ پنځو سوو نه زیات وو چې یو ځل ښکاره شو چې په هغوئ کښې زیات کسان تر اوسه ژوندی دی. " د پنځو سوو نه زیاتو ګواهانو ته مالک عیسیٰ مسیح په یو ځل ښکاره شو په هغه کسانو کښې ځنې د حضرت پولوس په زمانه کښې هم ژوندی وو، اؤ دا د دې خبرې ښکاره کوی چې کتاب مقدس څومره زیات رښتینے کتاب دے. پولوس رسول دا هر څۀ ځکه ولیکل چې کۀ چرې د دې خط لیکونکی په خپله د دې ګواهانو سره ملاقات کول غواړی نو هغوئ د هغه کسانو نه حقیقت معلومولے شی.

انجیل شریف مونږ ته د حقیقتونو په باره کښې خبر راکوی، اؤ هغه حقیقتونه د دې قابل وو چې د هغې معلومات وشی. په زمکه باندې د مالک عیسیٰ مرګ، اؤ د هغۀ ښخیدل اؤ د ښخیدو نه پس د بیا ژوندی کیدو ګواهان موجود وو. د غم خبره دا ده چې ډیرو ته دا زیرے بې وقوفی ښکاری. پولوس رسول دا خبره په دې انداز باندې کوی "ځکه چې دَ سولې پیغام دَ هلاکیدونکو په نِزد بې وقوفی ده خو زمونږ دَ نجات موندونکو په نِزد دَ خدائ قدرت دے " ( اول کورنتیان ۱ : ۱۸ ).انجیل د خدائ پاک هغه قدرت دے چې د څۀ ښکاره کولو د پاره مالک عیسیٰ مسیح مړ شو. " . . . . زیرے . . . دَ هر چا دَ پاره چې ایمان راؤړی دا دَ خلاصون دَ پاره دَ خدائ قوت دے " ( رومیان ۱ : ۱۶ ).

د مالک عیسیٰ مسیح مرګ هر چا ته زیرے ولې نۀ ښکاری؟ دا خبره ضروری ده چې په دې د ایمان راوړلو نه وړاندې دا رښتینے اؤ فائده مند قبول کړو. حالانکه دا سوال مینځ ته راځی چې ځنې خلق خو دا رښتیا اؤ ښۀ ګڼی اؤ ځنې یې رښتیا نۀ ګڼی، دا ولې؟ د دې سوال جواب د کورنتیانو په دویم خط کښې ۴: ۴ آیت کښې ورکړے شوے دے. " . . . . هغه به ایمان نۀ راوړی ځکه چې دَ دې بدې دنیا سردار یعنې شیطان دَ هغوئ عقل ړوند

کړے دے، دَ دې دَ پاره چې مسیح ځوک چې دَ خدائ په شکل دے، دَ هغهٔ دَ جلال دَ زیری رڼا په هغوئ ونهٔ ځلیږی ". د دې نه علاوه د گناه نه د لړلی انسان فطرت مړ دے اؤ هغه روحانی صحیح حقیقت نهٔ شی لیدلے. "خو دَ نفس بنده دَ خدائ دَ روح خبرې نهٔ قبلوی ځکه چې دا دَ هغهٔ په نزد بې وقوفی ده . . . . " ( اول کورنتیان ۲ : ۱۴ ).

کهٔ چرې ځوک د انجیل شریف د حقیقت نه فائده اخستل غواړی نو هغهٔ له اول پکار دی چې هغه خپل ړوند فطرت یعنې چې کوم شیطان هغهٔ له ورکړے دے په هغې باندې د خدائ پاک په قدرت سره غالب راشی. نو هم په دې وجه باندې کتاب مقدس وائی چې " ځوک چې رابللې شوی دی . . . . دَ هغوئ په نِزد مسیح دَ خدائ قدرت اؤ دَ خدائ حکمت دے " ( اول کورنتیان ۱ : ۲۴ ). دا " بلنه" زمونږ د مړ فطرت اؤ زمونږ په ژوند کښې د اَبلیس د کارونو د ختمولو د پاره د خدائ پاک د ترس نه ډک کار دے، د دې د پاره چې مونږ مالک عیسی مسیح ته د ربښتینی اؤ رحم کوونکی ذات په طور باندې وګورو اؤ په خپل ژوند کښې یې قبول کړو. دا ترس زمونږ د پاره د مالک عیسیٰ مسیح هغه تحفه ده کومه چې هغهٔ د خپلې وینې سره په بیعه واخستله. دې ته غور وکړئ اؤ دعا وغواړئ چې خدائ پاک تاسو له د انجیل په لوستلو پوهه درکړی اؤ دې سره سره دا توفیق هم درکړی چې دا د زړهٔ نه قبول کړئ.

# مالک عيسىٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولې کيدو د پاره راغلو ۴۴

## د قومونو په مينځ کښې د جنګونو ختمولو د پاره

*" ځکه چې هم هغه زمونږ صلح ده،*
*يعنې دَ يهوديانو اؤ دَ غير يهوديانو.*
*اؤ دَ جدايئ کوم ديوال چې په مينځ کښې وو،*
*هغه يې ونړوو، يعنې دَ شريعت هغه حکم چې دَ شريعت*
*په طور وو، يې منسوخ کړو چې خپل ځان کښې دَ دواړو نه يو نوے*
*اِنسان پيدا کړي اؤ صلح راولي، اؤ دَ خپلې سولې په وسيله*
*دښمنى ختمه کړي چې دَ هغې په وسيله دواړه په يو بدن*
*کښې شريک کړي اؤ خدائ سره يې يو کړي".*
*(افسيان ۲ : ۱۴ - ۱۶).*

لکه څنګه چې زمونږ په وخت کښې د نسلونو، خيلونو اؤ قبيلو تر مينځه دښمنى اؤ نفرت وى نو دغه شان د نوې لوظ نامې په دور کښې د يهوديانو اؤ د غير يهوديانو تر مينځه دښمنى موجوده وه. دې دواړو ډلو به د يو بل سره کينه لرله، اؤ زړونه يې د يو بل د پاره د نفرت نه ډک وو. اؤ د دې دښمنئ يو مثال هغه واقعه ده کومه چې په انطاکيه کښې د کيفا ( پطروس ) اؤ د پولوس رسول تر مينځه راغلې وه. پولوس رسول د دې واقعې په باره کښې دا بيان کوى " خو کله چې پطروس اَنطاکيه ته راغے نو ما مخ په مخه دَ هغۀ مخالفت وکړو ځکه چې هغه ملامت وو. ځکه چې دَ يعقوب له طرف نه دَ يو څو سړو دَ راتلو نه وړومبے هغۀ دَ غيرو يهوديانو وروڼو سره ډوډئ خوړه، خو چې هغوئ راغلل نو په ډډه شو ځکه چې له هغوئ نه ويريدو څوک چې غواړي چې غير يهوديان وروڼه هم سنت شى . " ( ګلتيان ۲ : ۱۱، ۱۲ ).

پطروس رسول په خپله په هغه آزادئ کښې ژوند تیروو کومه چې مالک عیسیٰ مسیح هغۀ ته ورکړې وه. ځکه چې د یو یهودی عیسائی په باوجود هغه د غیر یهودیانو عیسایانو سره په یو ځائ خوړل ځښل. د هغوئ تر مینځه د جدایئ هغه دیوال غورزولے شوے وو . هغه دښمنی ختمه شوې وه. ځکه چې مالک عیسیٰ مسیح د دې مقصد د پاره خپل ځان قربان کړو. خو وروستو په انطاکیه کښې یو څو عیسایان داسې وو چا چې د یهودیانو زوړ رسم و رواج خوښوو. کیفا د هغوئ نه وویریدو. هغه د هغوئ د الزام اؤ تنقید نه ویریدو. نو هغۀ د غیرو قومونو سره تګ راتګ پریښودل اؤ د هغوئ نه یې ډډه کول شروع کړل.

کله چې پولوس رسول ولیدل چې داسې کیږی نو هغه به د دې باره کښې څۀ قدم اوچتوی؟ آیا هغه به دې حالاتو ته خپله غاړه کیږدی؟ آیا هغه به په انطاکیه کښې د آزاد یهودی عیسایانو اؤ د زوړ رسم و رواج خوښوونکی عیسایانو تر مینځه دا مسئله حل کړی. پولوس رسول د دې عمل څرګندونه په دې الفاظونو کښې کوی. " خو هر کله چې ما ولیدل چې هغوئ دَ زیری دَ ربښتینوالی په مطابق په نیغه لار نۀ ځی. . . . " ( ګلتیان ۲ : ۱۴ ). د هغۀ د فیصلې آخری بیان دا وو. د نسلونو اؤ د دنیا د ډلو تر مینځه د جدایئ دا مسئله د انجیل مسئله هم ده. کیفا چې د ویرې د لاسه کوم تعلق د غیر یهودیانو سره مات کړو هغه د " د زیری د ربښتینوالی په مطابق په نیغه لار" باندې تلل نۀ وو. مالک عیسیٰ مسیح د دې دیوال غورزولو د پاره مړ شو خو کیفا دا دیوال سر دوباره جوړولو.

خو پولوس رسول دې حالاتو ته خپله غاړه کښې نۀ ښودله اؤ داسې روغه یې هم ونۀ کړه کومه چې د خدائ پاک کلام نه منکره وه. هغۀ د پطروس رسول مخالفت په ډاګه باندې وکړو. " ما دَ ټولو په وړاندې پطروس ته ووئیل چې تۀ چې یهودی یې دَ غیرو یهودیانو په شان ژوند تیروې، نۀ چې دَ یهودیانو په شان، نو بیا ولې غیر قومونه دَ یهودیانو په شان ژوند تیرولو ته مجبوروَی؟ " ( ګلتیان ۲ : ۱۴ ). د دې حوالې په مطابق د کیفا غیر یهودی عیسایانو سره د رفاقت نه ډډه کولو یو د تباهئ نه ډک پیغام ورکولو اؤ هغه دا چې په پوره طور سره مشهوریدو د پاره دا خبره ضروری ده چې هغه د یهودیانو په شان جوړ شی. د دې مسئلې ختمولو دپاره مالک عیسیٰ مسیح مړ شو.

مالک عیسیٰ مسیح د دې د پاره مړ شو چې د دنیا د ټولو قومونو تر مینځه د روغې یوه نوې لاره مینځ ته راولی. د ښکلی تعلق بنیاد د نسل اؤ د خیل سره تعلق نۀ لری بلکه مالک عیسیٰ مسیح سره تعلق لری. هغۀ په شریعت باندې پوره پوره عمل کړے وو. د شریعت هغه ټول اړخونه کومو چې به د انسانانو تر مینځه جدائی پیدا کوله ، هغه اړخونه په مالک عیسیٰ مسیح کښې ختم شول، سوا د یو څیز نه اؤ هغه څیز دے د مالک عیسیٰ مسیح انجیل. دا وئیل چې د دنیا ټول مذهبونه یو برابر دی، نو دې سره په نسلونو کښې یو والے نۀ شی پیدا کیدے. مالک عیسیٰ مسیح د خدائ پاک زوئ دے. خدائ پاک هغه دې دنیا ته د ټولو ګناه ګارانو د پاره د یو خلاصونکی په طور اؤ د قومونو تر مینځه د روغې راوستلو په طور باندې راواستلو. کله چې مونږ د دې نه انکار کوو نو مونږ بیا ابدی اُمید اؤ د خلقو د یو والی بنیاد ته نقصان رسوو. د مالک عیسیٰ مسیح د سولئ د مرګ په وسیلې سره څۀ وړوکے شان محدود کار نۀ وو شوے، بلکه داسې کولو سره هغۀ ډیر لوئ کار تر سره کړو. د خدائ پاک اؤ د انسان تر مینځه تعلق جوړ شو. اؤ د دې حقیقت پیژندګلو نه پس د دنیا نسلونه د ابدی مینې د یو والی نه هغه خوشحالی حاصلولے شی. هغۀ د خدائ پاک اؤ زمونږ تر مینځه د جدایئ دیوال ختمولو سره سره د نسلونو اؤ قومونو تر مینځه چې کومه جدائی وه هغه یې هم ختمه کړه.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو ۴۵

# هره یوه قبیله، هره یوه ژبه،
# اُمت اؤ د قوم خلق په بیعه اخستلو د پاره

*" تهٔ دَ دې لائق یې چې کتاب واخلې اؤ مُهرُونه یې مات کړې*
*ځکه چې تهٔ حلال کړے شوے اؤ په خپله وینه دې*
*دَ خُدائ دَ پاره له هر خیل، له هرې ژبې اؤ له*
*هر قوم اؤ اُمت خلق په بیعه واخستل "*
*(مکاشفه ۵ : ۹ ).*

د دې حوالې نظاره آسمان دے. یوحنا رسول ته د هغه راتلونکی وخت یو نظاره ور ښودلے کیږی کوم چې د خدائ پاک په لاس کښې دے. " څوک چې په تخت ناست وُو ما دَ هغهٔ په ښی لاس کښې یو کتاب ولیدو چې . . . . اُووهٔ مُهرُونه پرې لګیدلی وُو " ( مکاشفه ۵ : ۱ ). د کتاب کولاویدل په راتلونکی وخت کښې د ټول عالم د کولاویدو یعنې د هغوئ د عمل نامو د کولاویدو نخښنه ده. یوحنا په چغو چغو باندې ژاړی چې هیڅوک د دې کتاب د کولاولو لایق نشته دے. نو بیا د مشرانو نه یو مشر کوم چې په آسمان کښې وو هغه ته وفرمائیل، " ژاړه مه ځکه چې دَ یهوداه دَ خیل زمرے چې دَ داؤد دَ اصل نه دے، هغه بریالے شوے دے چې کتاب پرانزی اؤ اُووهٔ مُهرُونه یې مات کړی " ( مکاشفه ۵ : ۵ ). دلته کښې د مالک عیسیٰ مسیح طرف ته اشاره شوې ده. هغه د سولۍ د مرګ اؤ بیا د دوباره ژوندی کیدو په وجه غالب شو. یوحنا ته هغه ښکاری : " بیا ما . . . . یو حلال شوے ګډورے ولاړ ولیدو " ( مکاشفه ۵ : ۲ ).

بیا هغه مشران کوم چې د تخت نه ګیر چاپیره موجود دی هغوئ مالک عیسیٰ مسیح ته په سجده شول اؤ د هغهٔ حمد و ثناه یې شروع کړه. هغه زبرګان یو نوے ګیت وائی. د

حيرانيدو خبره خو دا ده چې ګيت خو دا اعلان کوی چې د مالک عيسیٰ مسيح مرګ هغه د دې لايق جوړ کړو چې هغه کتاب کولاؤ کړی. مطلب يې دا دے چې په تاريخ کښې د خدائ پاک لويې منصوبې سر ته رسولو د پاره د مالک عيسیٰ مسيح مرګ ضروری وو. " اؤ هغوئ يوه نوې سندره وئيله چې : تهٔ دَ دې لائق يې چې کتاب واخلې اؤ مُهرُونه يې مات کړې ځکه چې تهٔ حلال کړے شوے اؤ په خپله وينه دې دَ خُدائې دَ پاره له هر خيل، له هرې ژبې اؤ له هر قوم اؤ اُمت خلق په بيعه واخستل " ( مکاشفه **۵ : ۹** ).

مالک عيسیٰ مسيح د دنيا د ټولو خلقو د خلاصون د پاره مړ شو. ګناه د دنيا هره يوه معاشره په خپل قابو کښې ساتلې ده. ټول خلق ګناه ګار دی. د هر نسل اؤ د رسم و رواج ( ثقافت ) خلقو له د خدائ پاک سره د تعلق لرلو ضرورت دے. ځکه چې د ګناه مرض د ټولې دنيا د پاره ډير لوئ رنځ دے ، نو په دې وجه د دې د پاره به د يو ډير لوئ علاج ضرورت وی. مالک عيسیٰ مسيح د سولئ تکليفونو اوچتولو سره ډير په بهادرئ د خپل مقصد طرف ته روان وو نو د دې مقصد پوره کولو په باره کښې يې داسې وئيل : " اؤ کله چې زهٔ دَ زمکې نه وخيژولے شم نو زهٔ به ټول ځان ته راکاږم " ( يوحنا **۱۲ : ۳۲** ). د سولئ د مرګ په وجه هغهٔ د ټولې دنيا خلق خپل ځان ته غاړه ويستل.

عيسائيت په مشرق کښې وجود ته راغلے وو. اؤ وروستو دا مغرب ته ورسيدو اؤ د سلګونو کالو راسې مغربی قومونه د دې نشرياتو خورولو د پاره کار کوی. بهرحال عيسائيت څهٔ مغربی مذهب نهٔ دے. اؤ دا خبره د مالک عيسیٰ مسيح د پاره هم حيرانوونکې نهٔ ده. د هغهٔ د لوئ اثر په باره کښې خو زړې لوظ نامې د اول نه دا وئيلی وو چې : " د دُنيا ټول سرُونه، دا به ياد ساتی اؤ مالک خُدائ ته به راوګرځی، اؤ د قومُونو ټولې کورنئ ،به د هغهٔ په وړاندې سجده وکړی،" ( زبور **۲۲ : ۲۷** ). " قومُونه دې خوشحاله شی اؤ د خوشحالئ سندرې دې ووايی، ځکه چې تهٔ د خلقو سره د اِنصاف عدالت کوې اؤ په دُنيا کښې د هر يو قوم لار ښودنه کوې " ( زبور **۶۷ : ۴** ).

مالک عيسیٰ مسيح د دنياوی خدمت په آخر کښې د خپل مقصد څرګندونه داسې وکړه چې : " دا ليکلې شوی دی چې مسيح به زحمت وزغمی اؤ په دريمه ورځ به له مړو نه بيا ژوندے پاڅی. اؤ . . . . ټولو قومونو ته به دَ ګناهونو نه دَ توبې اؤ دَ معافئ وعظ کولے

شی. تاسو دَ بیت المقدس نه شروع شئ " ( لوقا ۲۴ : ۴۲، ۴۷ ). هغۀ خپلو مریدانو ته په واضحه طور باندې حکم وکړو " تاسو په مزکه خوارۀ شئ اؤ ټول قومونه زما مریدان کړئ " ( متی ۲۸ : ۱۹ ).

مالک عیسیٰ مسیح د یو نسل یا د یو صرف دَ یو قبیلې خدائ نۀ دے. هغه صرف د یوې ډلې یا د یوې معاشرې د پاره نۀ دے راغلے. هغه " وګورئ! دَ خدائ ګډورے چې دَ دنیا ګناه په ځان وړی! " ( یوحنا ۱ : ۲۹ ). " نو دلته په یهودی اؤ په غیر یهودی کښې هیڅ فرق نشته ځکه چې هم دغه یو خدائ دَ ټولو مالِک دے اؤ دَ هر چا دَ پاره چې هغۀ ته زاری کوی، غنی دے. لکه چې صحیفې وائی چې: (( هر هغه څوک چې دَ مالِک په نوم زاری کوی، هغه به خلاصون بیا مومی ))" ( رومیان ۱۰ : ۱۲، ۱۳ ). هم اوس په هغۀ باندې ایمان راوړئ اؤ د خلاصون موندونکو په لوئ جماعت کښې شامل شئ!

## مالک عيسىٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولې کيدو د پاره راغلو ۴۲

## د ټولې دنيا نه د خپلو ګډو راغونډولو د پاره

*" دا هغۀ (کائفا سردار کاهن) دَ خپله ځانه ونۀ وئيل، بلکه دَ ټولو نه دَ مشر کاهن په حيثيت چې هغه دَ هغه کال دَ پاره مقرر وو.*
*هغۀ دا پيشن ګوئى وکړه چې عيسىٰ به دَ قام دَ پاره مړ شى،*
*يواځې دَ قام دَ پاره نه، بلکه دَ دې دَ پاره چې دَ خدائ*
*خوارۀ وارۀ بچى يو ځائ ته راغونډه کړى"*
*(يوحنا ١١ : ۵۱، ۵۲).*

*" اؤ زما نورې ګډې هم شته چې*
*هغه دَ دې شپول نۀ دى، خو دَ هغوئ راوستل*
*ضرورى دى اؤ هغوئ به هم زما آواز آؤرى، نو بيا به رمه*
*يوه شى اؤ شپونکے به يې هم يو وى" (يوحنا ١٠ : ١۶).*

خدائ پاک خپلو خلقو ته د پيغام رسولو د پاره هره يوه وسيله استعمالولے شى. د دې يو مثال دا دے چې خره د خدائ پاک د پاره خبرې کوى. (شمير ٢٢ : ٢٨). نو هم داسې يو وعظ کوونکے يا امام هم د خدائ پاک د پاره خبرې کولے شى. کائفا سره هم داسې وشول کوم چې د هغه وخت مشر سردار وو. کله چې مالک عيسىٰ مسيح خپل غم زغملو ته ورنزدې شو. کائفا د اسرائيلو مشرانو ته وفرمائيل، " . . . . ستاسو دَ پاره ډيره غوره ده چې دَ اُمت دَ پاره دې يو سړے مړ کړے شى، نه چې ټول قام تباه اؤ برباد شى " (يوحنا ١١ : ۵٠). د هغۀ د دې نبوت دوه مطلبونه وو. د کائفا مطلب دا وو چې د عيسىٰ مسيح مرګ غوره دے، په ځائ د دې چې روميان راشى اؤ ټول قوم هلاک کړى. خو د خدائ

پاک د دې هر څۀ نه مطلب بل څۀ وو. په کتاب مقدس کښې لیکلے شوی دی چې " دا هغۀ ( کیفا ) دَ خپله ځانه ونۀ وئیل، بلکه دَ ټولو نه دَ مشر کاهن په حیثیت چې هغه دَ هغه کال دَ پاره مقرر وو. هغۀ دا پیشن ګوئی وکړه چې عیسیٰ به دَ قام دَ پاره مړ شی، یواځې دَ قام دَ پاره نه، بلکه دَ دې دَ پاره چې دَ خدائ خوارۀ وارۀ بچی یو ځائ ته راغونډ کړی " ( یوحنا ۱۱ : ۵۱ ، ۵۲ ).

مالک عیسیٰ مسیح هم دا خبره بلکل جدا انداز سره کوی "د خوارو وارو بچو" د لفظونو په ځائ باندې عیسیٰ مسیح د اسرائیل د رمې نه دَ جدا شوې ګډې په باره کښې ووئیل. " اؤ زما نورې ګډې هم شته چې هغه دَ دې شپول نۀ دی، خو دَ هغوئ راوستل ضروری دی اؤ هغوئ به هم زما آواز آؤری، نو بیا به رمه یوه شی اؤ شپونکے به یې هم یو وی " ( یوحنا ۱۰ : ۱۶ ).

د دې خبرې کولو دواړه اندازونه د حیرانتیا دی. دا خبره مونږ ته دا ښودنه کوی چې خدائ د ټولې دنیا نه څۀ خلق د خپل ځان د پاره غوره کړی دی چې هغوئ د مالک عیسیٰ مسیح په وسیله باندې خلاصون ومومی. دا خلق " د خدائ پاک خوارۀ وارۀ بچی " دی. دا خلق هغه " ګډې دی کومې چې د اسرائیل د رمې نه نۀ دی. "

د دې مطلب دا دے چې د خدائ پاک زوئ په خپله اول قدم اوچت کړے دے چې هغه ټول خوارۀ وارۀ خلق یو ځائ ته راغونډ کړی. مالک عیسیٰ مسیح خپلو مریدانو ته ښودنه کوی اؤ ورته حکم ورکوی چې هغوئ لاړ شی اؤ نور خلق د هغۀ شاګردان جوړ کړی، خو هغه په خپله د هغوئ نه وړاندې ځی. د هغۀ د مریدانو رسیدلو نه مخکښې هغۀ دَ خپل ځان دَ پاره خلق غوره کړی دی . مالک عیسیٰ مسیح د هغه نوو ایماندارانو په باره کښې خبره کوی کوم چې خدائ پاک خپل ځان ته نزدې کړل اؤ مالک عیسیٰ مسیح ته یې ورکړل. " هر څۀ چې زما پلار ما ته راکوی هغه به ما له راځی اؤ څوک چې ماله راځی هغه به زۀ هیڅ کله ونۀ شړم . . . هغوئ ستا ( د خدائ پلار ) وو اؤ تا ماله راکړی وو " ( یوحنا ۶ : ۳۷، ۱۷ : ۶ ).

دا خبره ډيره د حيرانتيا ده چې د خدائ پاک نظر په ټوله دنيا دے اؤ په هغو کښې د خپل ځان د پاره يو رمه خوښوی، اؤ بيا د مالک عيسیٰ مسيح وعظ د هغوئ د پاره ورليږی اؤ د دې نه پس بيا هغه غوره شوی خلق د انجيل آواز ته غوږ کيږدی اؤ د هغې په رهنمايئ کښې هغوئ ته بيا خلاصون ورکوی. ځکه چې هغوئ په بله طريقه باندې خلاصون نۀ شی موندلے. د خلاصون وعظ کول ډير ضروری دی. " . . . . ګډې دَ هغۀ آواز آؤری اؤ هغه خپلې ګډې په نوم بولی اؤ بهر يې راوباسی . . . . ګډې ورپسې ځی، ځکه چې هغوئ دَ هغۀ آواز پيژنی " ( يوحنا ۱۰ : ۳، ۴ ).

مالک عيسیٰ مسيح تکليفونو زغملو سره خپل ځان قربان کړو د پاره د دې چې ګډې د هغۀ آواز واؤری. دا هم هغه خبره وه کومه چې کائفا په بې خبرئ کښې کړې وه : "عيسیٰ به دَ قام دَ پاره مړ شی، يواځې دَ قام دَ پاره نه، بلکه دَ دې دَ پاره چې دَ خدائ خوارۀ وارۀ بچی يو ځائ ته راغونډ کړی ". هغۀ د خوارو وارو ګډو را يو ځائ کولو د پاره خپل ځان قربان کړو. د خپلې وينې په وسيلې سره هغۀ هغه رحم په بيعه واخستلو کوم چې د هغۀ آواز نورو خلقو ته رسول ممکن کړل. دعا کوئ چې خدائ پاک خپل رحم په تاسو باندې هم وکړی د پاره د دې چې تاسو هم هغه آواز واؤرئ اؤ ژوندی پاتې شئ.

## مالک عيسىٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولې کيدو د پاره راغلو ۴۷

# مونږ د آخرى عدالت نه د بچ کولو د پاره

*" مسيح يو ځل دَ ډيرو خلقو دَ ګناه وړلو دَ پاره قربان شوے دے.*
*نو دويم ځل چې به هغه ښکاره شى نو دَ ګناه دَ قربانۍ دَ پاره نه، بلکه دَ*
*هغوئ دَ خلاصون دَ پاره چې دَ هغۀ اِنتظار کوى "*
*( عبرانيان ۹ : ۲۸ ).*

د عيسايانو د خلاصون خيال تير شوى، موجوده اؤ راتلونکى وخت سره تعلق لرى. کتاب مقدس مونږ ښودنه کوى چې، " ځکه چې تاسو دَ ايمان په وسيله په فضل خلاصون موندلے دے " ( افسيان ۲ : ۸ ). ليکلے شوى دى چې انجيل يعنى د سولې پيغام " زمونږ دَ نجات موندونکو په نزد ( يا مونږ ځوک چې خلاصون مومى ) دَ خدائ قدرت دے " ( اول کورنتيان ۱ : ۱۸ ). اؤ دا چې " . . . . ولې ځۀ وخت چې مونږ ايمان راؤړے وو، دَ هغې په نسبت اوس زمونږ خلاصون نزدې دے " ( روميان ۱۳ : ۱۱ ). مونږ خلاصون موندلے دے. اؤ مونږ خلاصون مومو. اؤ مونږ به خلاصون ومومو.

مونږ په هره لاره باندې د مالک عيسىٰ مسيح په وسيلې سره خلاصون مومو. په تير شوى وخت کښې مالک عيسىٰ مسيح په خپله زمونږ د پاره د تل سزا برداشت کړه. مونږ صرف د ايمان راوړلو په وسيلې سره صادقان شوى يو. په اوسنۍ زمانه کښې د مالک عيسىٰ مرګ دا خبره يقينى جوړوى چې د خدائ پاک د روح قدرت مونږ له د ګناهونو نه خلاصون راکوى. اؤ په راتلونکى وخت کښې به هم دا د مسيح وينه په سولې باندې وى کومه وينه چې به مونږ د خدائ پاک د قهر نه بچ کوى. اؤ هغه به مونږ کامل کوى اؤ مونږ له به خوشحالى راکوى.

يو ربښتينے عدالت لاتر اوسه پورې پاتې دے. بائبل مقدس مونږ ته ښودنه کوى چې " دَ عدالت يو ويروونکې اِنتظار اؤ غضبناک اُور پاتې دے کوم به چې دَ خدائ مخالفان

وسيزى " ( عبرانيان ۱۰ : ۲۷ ). دا مونږ ته " د خدائ پاک د ويرې اؤ د زړۀ سواندى" سره د ژوند تيرولو هدايت راکوى، ځکه چې " زمونږ خدائ يو سوزوونکے اُور هم دے" ( عبرانيان ۱۲ : ۲۸، ۲۹ ). يوحنا بپتسمه ورکوونکى د خپلې زمانې خلقو ته خبردارى ورکولو سره ووئيل چې ، " دَ راتلونکى غضب نه وتښتئ" ( متى ۳ : ۷ ). د دې د پاره چې " مالِک عيسىٰ ( په خپله ) دَ خپلو قوتناکو فرښتو سره په شغله ناک اُور کښې دَ آسمان نه ظاهر شى. هغه وخت به هغوئ چې خدائ نۀ پيژنى اؤ زمونږ دَ مالِک عيسىٰ مسيح زيرے نۀ منى، هغوئ ته به سزا ورکوى. هغوئ به دَ مالِک دَ خيرې اؤ دَ هغۀ دَ قدرت دَ جلال نه لرې دَ تل عمرى مرګ سزا بيا مومى " ( ۲ تسالونيکيان ۱ : ۷- ۹ ).

د خدائ پاک د آخرى غضب نه پس به ټول منظر ډير ويرونکې وى. اؤ دا " مينه ناک رسول" يوحنا دے څوک چې ډير په وضاحت سره د دوزخ يو څو اړخونه ښائى. نو داسې دَ هغۀ نوم "مينه ناک رسول" يوه ټوقه ښکارى. هر هغه څوک چې مالِک عيسىٰ مسيح رد کوى اؤ د هغۀ په ځائ د بل چا پيروى کوى نو " هغه دې دَ خدائ دَ قهر شراب وڅښى کوم چې هغۀ په تېنګه طور دَ خپل غضب په پيالئ کښې تيار کړى دى. هغه به دَ پاکو فرښتو اؤ دَ ګډورى په وړاندې په اُور اؤ دَ ګُوګړو په شُغلو کښې عذابولے شى. اؤ دَ هغوئ دَ عذاب لُوګے به تل تر تله راخيژى اؤ هر هغه څوک چې ځنګلى ځناور يا دَ هغۀ بت ته سجده کوى يا دَ هغۀ دَ نوم نخښنه آخلى، هغوئ به نۀ خو دَ شپې اؤ نۀ دَ ورځې آرام بيا مُومى " ( مکاشفه ۱۴ : ۱۰ ، ۱۱ ). د خدائ پاک د راتلونکى وخت د غضب محسوسولو نه بغير مونږ هغه مزه نۀ شو پيژندلے کومه چې اولنو جماعتونو ته ملاؤ شوې وه. هغوئ په دې خبره باندې مطمئن وو چې د مالِک عيسىٰ خلاصون به هغوئ د راتلونکى غضب نه محفوظ ساتى : " اؤ دَ هغۀ دَ زوئ دَ آسمان نه دَ راتلو په اِنتظار اوسئ چې هغه يې له مړو نه ژوندے کړے دے، يعنې عيسىٰ چې مونږ به دَ راتلونکى غضب نه بچ کړى " ( اول تسالونيکيان ۱ : ۱۰ ). صرف مالِک عيسىٰ مسيح هغه هستى ده کوم چې مونږ د راتلونکى غضب نه بچ کولے شى. د هغۀ نه بغير به مونږ د تل د پاره د خدائ پاک په غضب کښې ژوند تيروو.

خو کۀ په آخر کښې هغه مونږ بچ کړی یا مونږ له خلاصون راکړی نو د دې بنیاد به هم د مالک عیسیٰ مسیح وینه وی. " . . . . مسیح یو ځل دَ ډیرو خلقو دَ ګناه وړلو دَ پاره قربان شوے دے. نو دویم ځل چې به هغه ښکاره شی نو دَ ګناه دَ قربانۍ دَ پاره نه، بلکه دَ هغوئ دَ خلاصون دَ پاره چې دَ هغۀ اِنتظار کوی " ( عبرانیان ۹ : ۲۸ ). ګناه باندې د تل د پاره یو ځل فتح موندلے شوې ده. اوس د نوې قربانۍ هیڅ حاجت نشته دے. د راتلونکی غضب نه زمونږ د بچ کیدو خبره دومره یقینی ده لکه څومره چې زمونږ په ځائ مالک عیسی مسیح تکلیفونه وزغمل. سولۀ ستاسو راتلونکے وخت د خوشحالو نه ډک کړے دے.

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولئ کیدو د پاره راغلو ۴۸

# خپله اؤ زمونږ خوشحالی حاصلولو د پاره

*" اؤ دَ ایمان بانی اؤ کاملوونکی عیسیٰ ته وګورو چې دَ هغې خوشحالئ په ځائ چې دَ هغهٔ دَ نظر دَ وړاندې وه، دَ شرمندګئ پرواه یې ونهٔ کړه خو دَ سولئ تکلیف یې وزغملو اؤ دَ خدائ دَ تخت په ښی لاس کښیناستو " ( عبرانیان ۱۲ : ۲ ).*

هغه لاره ډیره مشکله ده په کومه چې خوشحالی اؤ سکون دے. دا لاره زمونږ د پاره هم مشکله ده اؤ هم د مالک عیسیٰ مسیح د پاره مشکله وه. په دې لاره باندې د تلو د پاره مالک عیسیٰ مسیح خپل ځان قربان کړو. اؤ کیدے شی چې مونږ هم په دې لار باندې خپل ځان قربان کړو. مالک عیسیٰ مسیح د دې " شرمندګئ پرواه یې ونهٔ کړه خو دَ سولئ تکلیف یې وزغملو ." اول د سولئ غم اؤ تکلیف اؤ د هغې نه پس د آسمان خوشحالی. د خوشحالئ حاصلولو د پاره د دې نه سوا بله یوه لاره هم نهٔ وه.

کومه خوشحالی چې د هغهٔ په وړاندې وه د هغې ډیرې درجې وې. دا د خپل پلار سره دوباره ملاویدو خوشحالی وه : " . . . . ستا په حضور کښې کامل اطمینان دے. ستا په ښی لاس کښې ابدی خوشحالی ده " ( زبور ۱۲ : ۱۱ ). دا په ګناه باندې د فتح موندلو خوشحالی وه : " . . . . هغهٔ ګناهونه پاک کړل اؤ په آسمان کښې دَ قادرِ مطلق خدائ په ښی لاس کښیناستو " ( عبرانیان ۱ : ۳ ). دا د آسمان د حقونو د بحال کیدو خوشحالی وه : " اؤ ( عیسیٰ مسیح ) دَ خدائ دَ تخت په ښی لاس کښیناستو " ( عبرانیان ۱۲ : ۲ ). دا خوشحالی د هغه ټولو خلقو د تعریف اؤ د تمجید خوشحالی ده د چا د پاره چې هغه مړ شو : " . . . . په آسمان کښې دا رنګ دَ یو ګناه ګار په توبه ګار کیدو بې حسابه خوشحالی کیږی " ( لوقا ۱۵ : ۷ ).

اؤ زمونږ د پاره څۀ دی ؟ آیا مالک عیسیٰ مسیح خپله په خوشحالئ کښې ژوند تیروی اؤ مونږ یې په غمونو کښې پریښودی یو؟ نه، داسې نۀ ده. د خپل مرګ نه وړاندې هغۀ خپله اؤ زمونږ خوشحالی یو ځائ کړه. هغۀ داسې وفرمائیل چې ، " دا ما تاسو ته وئیلی دی دَ دې دَ پاره چې زما خوشحالی دې په تاسو کښې وی اؤ ستاسو خوشحالی دې پوره شی " ( یوحنا ۱۵ : ۱۱ ).

هغۀ ته معلومه وه چې د هغۀ خوشحالی په څۀ کښې ده، ځکه هغۀ داسې وفرمائیل " زما خوشحالی دې په تاسو کښې وی ". مونږ څوک چې په مالک عیسیٰ مسیح باندې ایمان لرو، دَ هغۀ دَ خوشحالئ نه به تر دومره حده پورې مزه اخلو څومره پورې چې دَ هغۀ مخلوق دې نه مزه اخستلے شی.

خو دا لاره به ډیره مشکله وی. مالک عیسیٰ مسیح مونږ ته دې خبرداری راکولو سره وفرمائیل چې : " اؤ په دنیا کښې به په تاسو سختې وی. . . . . " ( یوحنا ۱۶ : ۳۳ ). "شاګرد دَ خپل استاد نه لوئ نۀ وی . . . . که چرې دَ کور مالک ته بعلزبول وئیلے شوے دے نو دَ هغۀ دَ کور خلقو ته به ولې نۀ وائی " ( متی ۱۰ : ۲۴ ، ۲۵ ). " . . . . په تاسو کښې به ځنې مړۀ کړے شی، اؤ زما دَ نوم په سبب به ټول تاسو سره کینه لری " ( لوقا ۲۱ : ۱۶، ۱۷ ). دا هغه لار ده په کومه باندې چې مالک عیسیٰ مسیح تلے وو. . . . د هغۀ خوشحالی په مونږ کښې ده اؤ زمونږ خوشحالی د هغۀ سره پوره کیږی.

څنګه چې د خوشحالئ دې اُمید مالک عیسیٰ مسیح د سولئ د تکلیف زغملو د پاره تیار کړو، نو دغه شان مونږ له هم د خوشحالئ د اُمید سره د تکلیف زغملو طاقت راکوی. مالک عیسیٰ مسیح د دې تکلیفونو زغملو د پاره مونږ تیار کړی یو، کله چې هغۀ دا وئیل چې ، " تاسو بختور یئ چې زما دَ پاره په ځان ملامتې، سختې زحمتې تیروئ اؤ دَ خلقو قِسم قِسم دروغژنې بدې خبرې زغمئ. دا هر څۀ تاسو په خوشحالئ اؤ روڼ تندی وزغمئ ځکه چې په آسمان کښې ستاسو دَ پاره لوئ اَجر دے . . . . ( متی ۵ : ۱۱، ۱۲ ). زمونږ اجر به دا وی چې مونږ به هم د خدائ پاک سره تعلق لرلو نه داسې مزه اؤ خوشحالی حاصلوؤ لکه څنګه چې مالک عیسیٰ مسیح د خپل خدائ پلار مینه کښې خوشحاله دے.

کۀ چرې مالک عیسیٰ مسیح په خپله مرضئ سره نۀ وو مړ شوے نو نۀ به هغۀ اؤ نۀ به مونږ دَ ابدی خوشحالئ تجربه کړې وه. هغه به نافرمانه ګرځیدلے وو. اؤ مونږ به په خپله د خپلو ګناهونو سزا تیروله. د هغۀ خوشحالی اؤ زمونږ خوشحالی د سولئ سره تړلے شوے وه اؤ مالک عیسیٰ مسیح دا زمونږ د پاره حاصله کړه. اؤ اوس مونږ د مینې په لاره باندې تګ سره د هغۀ پیروی کوو. زمونږ " په خیال کښې د دې وخت دا تکلیفونه چې مونږ یې زغمو دَ هغه جلال سره هیڅ مطابقت نۀ لری کوم چې په مونږ باندې ظاهریدونکے دے " ( رومیان ۸ : ۱۸ ). اوس مونږ د هغۀ سره یو ځائ سختې زحمتې زغمو. خو پس له دې نه به مونږ په ډیرې خوشحالئ کښې خپل ژوندون تیروو. د مینې په دې لار باندې دَ تلو د پاره مونږ دَ هر قسمه خطرو مقابلو کولو دَ پاره تیار یو. دَ بهادرانو دَ طاقت سره نه، بلکه د اُمید په طاقت سره، ځکه چې " کیدے شی چې په شپه کښې مونږ وژاړو، خو هر سحر کښې د خوشحالئ موقع هم راځی " ( زبور ۳۰ : ۵ ).

## مالک عیسیٰ مسیح ولې دې دنیا ته د سولۍ کیدو د پاره راغلو ۴۹

# د جلال اؤ د عزت تاج حاصلولو د پاره

*" البته عیسیٰ گورو . . . . چې دَ مرګ تکلیف دَ زغملو په سبب ورته دَ جلال اؤ عزت تاج په سر کړے شو . . . . " ( عبرانیان ۲ : ۹ ).*

*" بلکه ( مالک عیسیٰ مسیح ) خپل ځان یې دَ هغه ټولو اِختیارونو نه خالی کړو اؤ دَ غلام شکل یې اِختیار کړو، اؤ دَ اِنسان په شان شو. اؤ په اِنسانی جُسه کښې ښکاره شو، خپل ځان یې عاجز کړو اؤ دومره تابعدار شو چې مرګ، بلکه دَ سولۍ مرګ یې وزغملو. په دغه وجه خو خدائ هم هغه ډیر سربلند کړو اؤ هغۀ ته یې هغه نوم وبخښلو کوم چې دَ ټولو نومونو نه اعلیٰ دے" ( فیلیپیان ۲ : ۷ -۹ ).*

*"هغه ګډُورے چې حلال کړے شو، دَ دې لایق دے چه ټول قُدرت، دولت، حِکمت، لوئی، عزت، شان اؤ تعریف ومُومی"*
*( مکاشفه ۵ : ۱۲ ).*

د سولۍ کیدو نه یو شپه وړاندې مالک عیسیٰ مسیح ته معلومه وه چې څۀ کیدو والا دی، نو هغۀ دا دعا وکړه " اؤ اے پلاره! اوس تۀ ما ته په خپل حضور کښې جلال راکړه، هغه جلال کوم چې ما تا سره دَ دنیا دَ پیدا ایښت نه اول لرلو " ( یوحنا ۱۷ : ۵ ). اؤ دا دعا قبوله شوه. ". . . . . ( عیسیٰ مسیح ) چې دَ مرګ تکلیف دَ زغملو په سبب ورته دَ جلال اؤ عزت تاج په سر کړے شو . . . . " ( عبرانیان ۲ : ۹ ).د هغۀ جلال د هغۀ د تکلیف زغملو اجر وو. هغه " دومره تابعدار شو چې مرګ، بلکه دَ سولۍ مرګ یې وزغملو. په دغه وجه خو خدائ هم هغه

ډیر سربلند کړو اؤ هغۀ ته یې هغه نوم وبخښلو کوم چې دَ ټولو نومونو نه اعلیٰ دے " ( فیلیپیان ۲ : ۸، ۹ ). هغه جلال کړے شو د پاره د دې چې ګډورے، " دَ دې لایق دے چه ټول قُدرت، دولت، حِکمت، لوئی، عزت، شان اؤ تعریف ومُومی " ( مکاشفه ۵ : ۱۲ ). مالک عیسیٰ مسیح دَ خپل ځان په بدل کښې تاج د انعام په طور باندې حاصل کړو.

دا خبره ډیرو خلقو د پاره د تیندک سبب ګرځی. هغوئ وائی چې " دا څنګه د مینې عمل کیدے شی؟ کۀ چرې مالک عیسیٰ مسیح د خپل جلال خواهش مند دے نو بیا هغه مونږ له څنګه خوشحالی راکولے شی؟ اؤ چې کله د نیکئ نمائش کیږی نو بیا؟" دا ښۀ سوال دے په کتاب مقدس کښې د دې ډیر ښکلی جوابونه موجود دی.

جواب په دې زده کولو کښې موجود دے چې مینه په حقیقت کښې څۀ ده. په مونږ کښې ځنې خلق د دې سوچ سره لوئ شوی دی چې کۀ چرې مونږ سره څوک مینه لری نو د دې مطلب دا دے چې هغه زمونږ د عزت اؤ د جلال د پاره تر آخره حده پورې کوشش کوی. زمونږ ټوله دنیا هم په دې خیال باندې جوړه ده. کۀ چرې زۀ تا سره مینه ولرم نو زۀ به ستا د خوشحالولو د پاره هر یو ممکن کوشش کوم. زۀ به غواړم چې تۀ د خپل ځان باره کښې ښۀ والے محسوس کړې.

خو مونږ ته د دې نه نور زیات ښۀ معلومات شته دے. عن تر دې پورې چې د بائبل مقدس لوستلو نه وړاندې مونږ ته معلومه وه چې داسې نۀ ده. زمونږ د ډیرې زیاتې خوشحالئ وخت هم مونږ په پوره طور سره د خوشحالئ نه معمورولے نۀ شی، بلکه هغه وختونه وی کومو نه چې مونږ ته فائده ملاویږی. زمونږ په ژوند کښې داسې وختونه هم راځی کله چې مونږ محسوسوؤ چې زمونږ په ژوند کښې د خوشحالئ چینې بهیږی. اؤ د داسې خوشحالئ د پاره مونږ جوړ شوی یو. جنت به د شیشو نه ډک یو هال نۀ وی. جنت به د شان و شوکت اؤ د جلال نمائش ګاه وی. اؤ دا جلال اؤ شان و شوکت به زمونږ نۀ وی.

کۀ چرې دا رښتیا وی ، اؤ کۀ چرې مالک عیسیٰ مسیح د دې دنیا د پاره عظیم حقیقت وی نو بیا زمونږ د پاره د هغۀ سره څنګه مینه لرل پکار دی؟ یقیناً چې هغه شان مینه نه لکه د څنګه مینې چې مونږ پورته ذکر کړے دے. داسې مینه زمونږ روحونه نۀ شی

مطمئنولے. مونږ يې د دې نه د زياتې مينې د پاره پيدا کړی يو. کۀ چرې مونږ ډيره زياته خوشحالی حاصلول غواړو نو بيا مونږ له پکار دی چې مونږ د ټولو نه زيات جلالی سړی ته، يعنی مالک عيسیٰ مسيح ته وګورو اؤ په هغۀ کښې خوشحاله اوسو. مطلب دا دے چې مونږ سره د مينې کولو په خاطر مالک عيسیٰ مسيح له پکار وو چې د خپل جلال کمال ته ورسی. اؤ بيا هغه دا زمونږ د خوشحالولو اؤ د دې نه د مزې اخستلو د پاره مونږ ته پيش کړی. نو هم په دې وجه باندې هغۀ د مرګ نه يوه شپه وړاندې دا دعا وکړه. "اے پلاره! دا خلق چې تا ما له راکړی دی زۀ غواړم چې دوئ دې زما سره وی چرته چې زۀ يم، چې دوئ زما جلال ووينی کوم چې تا ما له راکړے دے . . . . " (يوحنا ۱۷ : ۲۴).

مينه دا نۀ ده چې " زۀ به هغوئ ته خپل جلال ور وښايم". کله چې عيسیٰ مسيح د خپل کامل جلال دوباره حاصلولو د پاره مړ شو نو هغه زمونږ د خوشحالئ د پاره هم مړ شو. مينه د يو محنت نوم دے اؤ د دې د پاره هر قسم قيمت ورکول پکار دی. په داسې مينه کښې مونږ د خلقو مرسته اؤ مدد کوو د پاره د دې چې هغوئ خپل ځانونه هغه هستئ له ورکړی ځوک چې د ټولو نه زيات اطمينان ورکونکے دے، اؤ هغه هستی ده مالک عيسیٰ مسيح. مالک عيسیٰ مونږ سره هم داسې مينه لری.

## مالک عيسیٰ مسيح ولې دې دنيا ته د سولئ کيدو د پاره راغلو ۵۰

# د دې خبرې ښرګندولو د پاره چې خدائ پاک د انسان د بدو کارونه نه ښۀ پيدا کولے شی

*" هيروديس اؤ پونطوس پيلاطوس دَ غيرو قومونو اؤ اِسرائيليانو سره په دې ښار کښې ستا دَ پاک خادم عيسیٰ چې تا مسح کړے دے په خلاف يو ځائ شول، چې هغه هر څۀ وکړی کوم چې ستا دَ لاس لاندې اؤ ستا په حکم دَ مخکښې نه مقرر شوی وو " (اعمال ۴ : ۲۷ ، ۲۸ ).*

مونږ د غم اؤ د بدئ په باره کښې مهمه اؤ ضروری خبره دا کولے شو چې د مالک عيسیٰ مسيح په صورت کښې خدائ پاک په خپله په دې کښې داخل شو اؤ دا يې په ښۀ والی کښې بدل کړو. د بدو سر چينه په يو راز کښې پټه ده. کتاب مقدس مونږ تر هغه حده پورې لرې نۀ بوځی تر کومه حده پورې چې مونږ لرې تلل غواړو. خو د دې برعکس هغه مونږ ته دا ښودنه کوی چې " د غيبو مالک خو . . . . صرف خدائ پاک دے . . . . " (استثنا ۲۹ : ۲۹ ).

د کتاب مقدس په خلاصه کښې د دې وضاحت نشته دے چې بدی د کوم ځائ نه راغله، خو دا خبره ښرګنده ده چې ښنګه خدائ پاک په بدئ کښې داخل شو اؤ هغه يې بلکل بدله کړه اؤ يو فرق ښيز يې ترې نه جوړ کړو، يعنی ابدی صداقت اؤ خوشحالی. په ټولې زړه لوظ نامه کښې داسې مثالونه موجود دی چې د دې طرف ته اشاره کوی چې لوظ کړے شوی مسيح سره به هم داسې کيږی. د حضرت يعقوب عليه السلام زوئ حضرت يوسف عليه السلام هم د يو غلام په توګه باندې خرڅ کړے شو. تر اوولسو کالو هغه يوائې ښکاريدو. خو مالک خدائ پاک د هغۀ سره وو اؤ هغۀ حضرت يوسف عليه السلام د مصر حاکم جوړ کړو د پاره د دې چې چا هغه خرڅ کړے وو هغوئ بچ کړی. د ټولې قيصې خلاصه

په دې ټکو کښې ده کوم چې هغۀ خپلو وروڼو ته ووئیل ، " تاسو خو ما سره د بد کولو اراده کړې وه، خو خدائ پاک هغه زما د پاره په ښو کښې بدله کړه. . . . " ( پیدا ایښت ۵۰ : ۲۰ ). د نورو خلقو د بچ کولو د پاره حضرت یوسف علیه السلام، د مالک عیسیٰ مسیح یو تصویر وو.

یا د مالک عیسیٰ مسیح په نسب نامه باندې غور وکړئ. په یو وخت کښې خدائ پاک صرف د بنی اسرائیلیانو بادشاه وو. خو خلقو بغاوت کول شروع کړل اؤ یو انسان یې په خپل ځان باندې بادشاه مقررول غوښتل : " نه مونږ بادشاه غواړو کوم چې به زمونږ د پاسه وی " ( اول سموئیل ۸ : ۱۹ ). د دې نه پس هغوئ د دې خبرې اقرار وکړو چې، " . . . . د نورو ټولو ګناهُونو نه علاوه مُونږ دا ګُناه هم کړې ده چې یو بادشاه مو غوښتے دے" ( اول سموئیل ۱۲ : ۱۹ ). خو خدائ پاک په دې ټولو حالاتو کښې موجود وو. هم د دې بادشاهانو د نړئ نه مالک عیسی مسیح دې دنیا ته راغلو. دَ بې ګناه خلاصوونکی دې دنیا ته دَ راتلو مقصد ګناه ګارانو له خلاصون ورکول وو یا دَ هغوئ ګناهونه په خپل ځان اخستل وو چې هغوئ خلاصون ومومی.

خو د ټولو نه زیاته د حیرانتیا خبره دا ده چې په بدئ اؤ په غم باندې د فتح موندلو د پاره مالک عیسیٰ د بدئ اؤ غم مقرر شوې لاره باندې تیر شو. د مالک عیسیٰ مسیح خلاف بغاوت، دهوکې اؤ ظلم زیاتی هر عمل د ګناه نه لړلے شوې بدې وه. خو مالک خدائ په دې کښې وو. په کلام پاک کښې لیکلے شوی دی چې " خدائ دَ خپلې منشا اؤ دَ عِلم په مطابق هغه ستاسو په لاس کښې درکړو . . . . " ( اعمال ۲ : ۲۳ ). هغه په ملا باندې په کوړو سره ووهلے شو، اؤ په سر یې د ازغو تاج کیښودلے شو، په مخ یې لاړې وتوکلے شوې اؤ په سوکونو باندې ووهلے شو، په لاسو باندې یې میخونه ټک وهلے شول، هغه په نیزه باندې سورے کړے شو، د اختیار خاوندانو په هغۀ پورې ټوقې وکړې، د هغۀ دوست د هغه خلاف ورزی وکړه، مریدان یې بې وفا شول . . . . دا ټول هر څۀ د ګناه نتیجه وه. اؤ د ګناه دې طاقت ختمولو د پاره خدائ پاک دا مقرر کړی وو چې " هیرودیس اؤ پونطوس پیلاطوس دَ غیرو قومونو اؤ اِسرائیلیانو سره په دې ښار کښې ستا دَ پاک خادم عیسیٰ چې تا مسح

کړے دے په خلاف يو ځائ شول، چې هغه هر څۀ وکړی کوم چې ستا دَ لاس لاندې اؤ ستا په حکم دَ مخکښې نه مقرر شوی وو " ( اعمال ۴ : ۲۷ ، ۲۸ ).

د خدائ پاک زوئ مړ کول اؤ د هغۀ نه نفرت کولو نه زياته بله ګناه نشته دے. د مالک عيسیٰ مسيح د غم نه زيات غم اؤ د بې ګناه کيدو نه زيات ځوک بې ګناه نشته دے. بيا هم خدائ پاک په دې ټول هر څۀ کښې موجود وو. "خدائ پاک دا غوره کړل چې هغه زخمی کړے شی " ( يشعياه ۵۳ : ۱۰ ). د هغۀ مقصد دا وو چې غم اؤ بدی هم د غم اؤ د بدئ په وجه تباه کړی. د هغۀ په زخمونو مونږ ته شفا ملاؤ شوه ( يشعياه ۵۳ : ۵ ). اؤ هم په دې وجه مالک عسيی مسيح د مړ کيدو د پاره راغلو. د خدائ پاک مقصد په دې کښې دا وو چې دنيا ته وښائی چې يوه ګناه يا بد کار دومره لوئ نۀ دے چې خدائ پاک په هغې بدئ کښې صداقت اؤ خوشحالی پيدا نۀ کړے شی. د کومو غمونو سبب چې مونږ وو، هغه زمونږ د خلاصون اُميد شو. " پلاره! دوئ معاف کړه! ځکه چې هغوئ نۀ پوهيږی چې څۀ کوی " ( لوقا ۲۳ : ۳۴ ).

# دعا

آسمانی پلاره ! د مالک عیسیٰ مسیح په نوم کښې زۀ د هر یو لوستونکی د پاره تا ته خواست کوم چې په دې کتاب څۀ صحیح اؤ رښتیا دی د هغې نه دوئ فائده اوچته کړی اؤ څۀ چې ورته صحیح نۀ ښکار اؤ دروغ ورته ښکاری نو هغه دې رد کړی. زۀ دا دعا غواړم چې هیڅوک دې هم د مالک عیسی مسیح په هکله تیندک ونۀ خوری. اؤ هیڅ څوک دې هم د هغۀ د اُلوهیت یا د هغۀ د بې مثاله تکلیفونو په لار کښې تیندک ونۀ خوری. یو کس دې هم د هغۀ د هغه وجوهاتو نه مخ وانۀړوی د څۀ د پاره چې مالک عیسیٰ مسیح دې دنیا ته راغلے وو. ډیرو لوستونکو د پاره دا خبرې نوې دی. نو زما خواست دا دے چې هغوئ دې ډیر په صبر اؤ غور و فکر سره د دې مطالعه وکړی اؤ خدایه تۀ هغوئ ته پوهه ورکړه.

خواست مې دے چې د ابدی څیزونو بې پرواهی دې ختمه شی اؤ د جنت اؤ د دوزخ حقیقت دې په تاسو څرګند کړی. دعا مې ده چې په تاریخ کښې د مالک عیسیٰ مسیح هستی ټولو ته څرګنده شی اؤ د مالک عیسیٰ مسیح مرګ دې د یو مهمې واقعې په توګه باندې وښودلے شی. مونږ دې د ابدی ګټې سره د تلو قابل جوړ کړی، چرته چې د حقیقت پاکه هوا چلیږی.

اؤ زۀ تا نه سوال اؤ منت کوم چې د مالک عیسیٰ مسیح په مرګ کښې چې ستا کوم مقصدونه وو زمونږ توجو د هغې نه مۀ اړوه. چې دا واړۀ سوالونه مونږ په یو دوو کښې حیران نۀ کړی چې ستا زوئ کومو خلقو وژلے دے. د هغۀ په مرګ کښې خو مونږ ټول شریک وو. خو دا معامله دومره مهمه نۀ ده. ستا دا منصوبه اؤ ستا عمل اهم وو. اے مالکه خدایه زمونږ سترګې کولاؤ کړه چې مونږ په خپلو سترګو ووینو چې د مالک عیسیٰ مسیح د مرګ منصوبه یو انسان نۀ وه جوړه کړې بلکه تا په خپله جوړه کړې وه. اؤ په داسې سخت وخت کښې ستا پیدا کیدونکے رحم اؤ د اُمید نه معموره مقصدونه کوم چې ډیر لوئ دی د هغې دیدن وکړے شو.

مالکه خدایه ! تا څومره حیرانوونکے حقیقت څرګند کړے دے چې "۔ ۔ ۔ ۔ مسیح عیسیٰ ګناه ګارانو ته دَ خلاصون ورکولو دَ پاره دنیا ته راغے ۔ ۔ ۔ ۔ "

( اول تیموتیوس ۱ : ۱۵ ). هغهٔ دا کار صرف مونږ ته د تعلیم ورکولو سره ونهٔ کړو بلکه خپل ځان قربانولو سره يې وکړو. " . . . . مسيح دَ کتابِ مقدس په مطابق زمونږ دَ ګناهونو دَ پاره مړ شو " ( اول کورنتيان ۱۵ : ۳ ). آيا زمونږ په شان خلقو د پاره د دې نه زيات ښکلے پيغام بل څهٔ کيدے شی چا ته چې پته ده چې مونږ خو صرف د خپل ضمير تقاضې نهٔ شو پوره کولے نو ستا د پاک والی تقاضې پوره کول خو ډيره لرې خبره ده ؟

اے رحيمه پلاره ! رحم وکړه چې د دې کتاب هر يو لوستونکې د خپل ضرورت احساس وکړی اؤ هغه ووينی چې د مالک عيسیٰ مسيح په مرګ کښې تا د هغهٔ ټول ضرورتونه په کامل طور باندې پوره کړی دی اؤ ايمان راوړی. زهٔ دا درخواست ستا د زوئ د لوظ په سبب تا ته کوم : " خدائ دَ دې دنيا سره داسې مينه وکړله چې خپل يک يو زوئ يې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په زوئ يې ايمان راؤړی هغه هلاک نهٔ شی خو دَ تل عمری ژوندون بيا مومی " ( يوحنا ۳ : ۱۲ ). زهٔ دا دعا د مالک عيسیٰ مسيح په رحيم نوم کښې غواړم . آمين.